د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ژبې او ادبیاتو انسټیټیوت

د کابل مجلې مدیریت

# کابل

**۲ گڼه**

کابل: ژبنۍ، پوهنیزه- څېړنیزه، فولکلوري او ادبي میاشتنۍ

## د کابل مجلې په دې ګڼه کې

# لیکلړ

| سرلیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|


له پښتونستان سره د ملنګ......عبدالواجد واجد.....۱
د عبدالله بختاني د ځینو......س. اصغر هاشمي....۱۰
د محمدصدیق پسرلي....مجیب الرحمن امیري....۲۳
کلاچوي او کلاسیکیت........یونس تنویر.......۳۹
د ژبې د پیدایښت په اړه.......رفیع الله نیازی......۵۱
د څېړنې میتود.. ..........عزت الله ادیب.......۵۹
د قرار جادوګره شاعري........صدیق الله بدر.......۸۱
سرتور فقیر...........محمدعلي دیناخېل.......۹۷


## یـــــــــادونـــــــــه

- ✓ د کابل مجلې کتنپلاوی د رالېږل شوو مقالو په اوږدون او سمون کې خپلواک دي.
- ✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده. لیکوال ته بویه، چې د خپلې لیکنې سپیناوی په خپله وکړي.
- ✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له اخځه جواز نه لري.
- ✓ رالېږل شوې مقالې بېرته لیکوالو ته نه ورکول کېږي.


## مسوول مدیر

څېړندوی سیدنظیم سیدي

## مهتممه

څېړندوی شکیلا میاخېل

## کتنپلاوی

- ✓ څېړنپوه سیدمحی الدین هاشمي
- ✓ څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ
- ✓ څېړنپوه نصرالله ناصر
- ✓ څېړنپوه عبدالواجد واجد
- ✓ څېړندوی حبیب الله رفیع
- ✓ څېړندوی سیدنظیم سیدي

## کلنۍ ګډون بیې

- ✓ په کـــابل کې: «۳۰۰» افغانۍ
- ✓ په ولایاتو کې: «۳۶۰» افغانۍ
- ✓ په نورو هېوادونو کې: «۲۰» ډالره
- ✓ د زده کوونکو او محصلینو لپاره نیمه بیه
- ✓ د یوې ګڼې بیه: «۲۵» افغانۍ

کابـــل – د افغانســـتان د علومــــو اکــــاډمي
د ژبـــــو او ادبیـــــاتو مرکـــــز
د پښــــتو ژبــــې او ادبیــــاتو انســـتیتیوت
اکـــــــاډمۍ څلـــــــور لارې
د پخــــوانۍ پښــــتو ټــــولنې ودانـــــي



ګرځنده: ۰۷۹۶۶۵۰۶۵۸
او: ۰۷۷۳۳۰۸۳۳۰
برېښنلیک:
magazinekabul@gmail.com

څېړنپوه عبدالواجد واجد

# له پښتونستان سره د ملنګ جان مینه

د ملنګ جان د اشعارو په موضوعاتو کې آزادي، وطن دوستي، مینه او محبت، انتقاد او نور ګڼ مسایل شامل دي، خو په دغو ټولو یادو شویو موضوعاتو کې له پښتونستان سره مینه او د آزادۍ موضوع د لومړيتوب حق لري، ځکه چې ټول افغانان خصوصاً پښتانه آزادۍ ته په ډېره درنه او د قدر په سترګه ګوري او دا کلمه له پادشاهۍ څخه بهتره او د بل تر حکم لاندې ژوند زندان ګڼي، لکه ې خوشحال بابا وايي:

آزادي تر پادشاهیه لا تېرې کا
چې د بل تر حکم لاندې شي زندان شي

لکه څنګه چې هر انسان طبعتاً آزاد نړۍ ته راځي، نو په همدې بنا حق لري، چې آزاد ژوند هم وکړي، خو له آزاد ژوند څخه مفهوم بې بندوباري نه ده. له ټولنیزو او عام المنفعه قوانینو او مقرراتو څخه د سرغړونې معنا نه لري، بلکې لکه څنګه چې پوهېږو

دغه آزادي د يو او بل حقوقو او انساني كراماتو ته په درناوي كې نغښتې ده، په بله وينا يو او بل ته په عزت او درناوي كې او كه داسې نه وي هغه د خوشحال خبره:

مرگ په سل ځله بهتر دی تر ژوندونه
د عزت سره چې نه وي زيست روزگار

بايد يادونه وكړو، چې عزت او پت ساتلو لومړی شرط آزادي او خپلواكي ده، كه چېرې يو سړی په انفرادي ډول يا يو قام په عمومي ډول د بل د امر او حكم لاندې واقع شي آزادي، خپلواكي او خپل اختيار يې له لاسه ووځي، نو همغه وخت ورسره د بې پتۍ او بې عزتۍ دور شروع كېږي، آزادي او خپلواكي د شر لومړنۍ ارزو ده، كه دغه نعمت له منځه لاړ شي، نو بيا پت او عزت ورسره يو ځای له منځه ځي.

پر هر حال! دلته موږ نه غواړو، چې د آزادۍ په ښېگڼو چې د لمر په شان يو روښانه واقعيت دی تم شو، بلكې هدف مو دا دی، چې دلته په آزادۍ او پښتونستان مين يو ولسي شاعر هغه چې له ولس نه راوتلی او د خپلو خلكو پوښتنې او غوښتنې ښې او له نږدې نه ورڅرگندې دي او له نامه سره يې زموږ هر هېوادوال لږو ډېر اشنايي لري ښه ور وپېژنو او دغه شاعر ملنگ جان دی، هغه ملنگ جان چې د خپل فطري استعدا له بركته يې په بې سوادۍ او كم سوادۍ كې داسې په تول او تال پوره او له موسيقۍ سره همنوا نظمونه ايجاد كړي دي، چې د هر سليم ذوق خاوند پريمانه خوندونه او پندونه ځينې اخلي او په ډېر ښه شان يې هضمولای شي، حتی دا هم ويلای شو، چې د دغه ولسي شاعر هره غزله نه يوازې په زړونو منگولې لگوي، بلكې د وېښتا او هڅولو سترځواک هم ورسره ملگری دی.

اروانښاد ملنگ جان سره له دې، چې له يوې خوا يې په لرغوني او معصر ادب كې پوره او پراخه مطاله نه لرله او له بلې خوا يې علماً د ادب په باريكو مسايلو كې پوره معلومات هم نه لرل، خو بيا هم د لرغونې عنعنې تاثير او خپل هنرمن ذوق د ده شعر د

ابتکار حد ته رسوي، چې ددې ادعا د ثبوت لپاره دغه لاندې چاربېته ښه او په زړه پورې دلیل کېدای شي:

پتنــــــگ د بلـــــې شـــــمعې یـــــار دی
بلبـــــــل د گلـــــــو خریـــــــدار دی
د لیلـــــی دوه ســــترگې مجنـــــون پېژنــــــي
دآزادۍ قیمـــــــت پښـــــتون پېژنــــــي
نـــــه د چـــــا زر او نـــــه پیســـــو تـــــه گـــوري
زوی د پښـــتون د پـــلار پښـــتو تـــه گـــوري
پښـــــتون لـــــه بـــــدو نـــــه بـــــې زار دی
پتنــــــگ د بلـــــې شـــــمعې یـــــار دی
پیســـــه پـــــه ښـــــه ســـترگه قـــارون پېژنـــــي
دآزادۍ قیمـــــــت پښـــــتون پېژنــــــي
تر اخره...

پښتو زموږ مورنۍ ژبه ده او زموږ په مورنۍ ژبه کې وطن ته مېنه (mena) وایي او محبت ته مینه (mina) وایي، چې دغه دواړه کلمې د شکل او معنا په لحاظ ښکاره او څرگند توپیر لري او همدا رنگه د محبت او مینې د کلمو ترمنځ هم توپیر شته او هغه دا چې د مینې په کلمه کې د کیف له مخې د محبت د کلمې په نسبت د زیاتوالي او لوړوالي درجه زیاته، خو د محبت په کلمه کې د اعتدال درجه محسوسه ده. د ملنگ جان په زړه کې چې د خپل ولس او وطن سره مینه او په تېره بیا د پښتونستان د آزادۍ سره کومه مینه ایښې وه زما ژبه او قلم یې له ویلو او لیکلو څه عاجز دی او لکه اباسین په کوزه کې یې نه شي ځایولای، د دې مینې اندازه د ده د سوزناکو نارو، قومي چغو، ملي غلبلو، سرو کوکو او د ده د شعر له بلو لمبو څخه په ښه توگه معلومېدای شي.

دا منو چې د خپل قام او مېنې سره هر څوک مینه لري، خو که کوم وخت د ملي مینانو د مینې تول کېده، نو د ملنګ جان د مینې تله به دومره درنه وي، چې ډېر خلک به ورته ګوته په غاښ شي، ملنګ جان و چې د خپلې صادقانه مینې، پاک عشق او قومي جنون له برکته د ملي محبت په لار کې دې حد ته ورسېد، چې لوګی شو، پتنګ شو او ورپسې ملنګ په خپله وايي:

لوګي شمه له تانه پتنګ دې یم پتنګ
زما پښتونستانه ملنګ دې یم ملنګ

که حمید بابا د خپل سوزنده عشق له برکته دا نوم ګټلی، چې وايي:

پس له مرګه دې حمید هسې ژاړه شي
اې په اور د ښکلي مخ سوی پتنګه

نو ملنګ جان د خپلې بې وزلې مینې په زور د څو میلیونو افغانانو د ملنګۍ افتخار ګټلی او تل به په دې نامه یادېږي، چې د قام ملنګ، د پښتو او پښتونولۍ ملنګ او د پښتونستان د آزادۍ ملنګ.

په پښتو کې متل دی، چې وايي:
«هر څوک په خپلو وینو د وطن پوروړی دی»

پورتنی متل چې د عوامي تمایل او احساس ښکارندوی دی له ژوند څخه په وینو تغیر شوی دی او ژوند د هر ساکښ او ژوندي لپاره تر ټولو ګران او مهم نعمت ګڼل کېږي، چې هر ساکښ د خپل ژوند د دوام او بقا لپاره هر څه قربانوي او تر اخره پورې ترې دفاع کوي، خو پښتانه چې د وطن د آزادۍ او ملي تمامیت او افتخاراتو څخه حفاظت او ساتنه د خپل ملي ناموس په توګه پېژني او د خپل ناموس د ساتنې په لاره کې سرښندنه د دوی اساسي دنده ده، نو ځکه دغه مېړنی قوم د خپل ګران وطن او ټاټوبي د عزت ساتنې لپاره د خپل ګران ژوند له قربانولو څخه دریغ نه کوي او تاریخ د

دې خبرې شاهد دی، چې هر دښمن له چنګېزه تر انګرېزه هر وخت د دوی آزادۍ او ځمکني تمامیت ته په سپکه سترګه کتلی هر یوه ته یې د خپل قوي مټ په زور ماتې ورکړې او له خپلې خاورې یې شړلي دي.

دا توریالی قوم چې د خپلې مېنې د شڅوناتو او آزادۍ سره لیونۍ مینه او زیات عشق لري، یوه برخه یې اوس هم د نه وېرېدونکي مبارز په توګه د خپلې ګرانې مېنې یعنې پښتونستان د آزادۍ لپاره په نه ستړې کېدونکې مبارزه او مجاهده بوخت دی، د پښتانه قوم دغه برخه چې د پښتونستان د توریالي ملت په نامه یادېږي د آزادۍ په تاریخ کې له ویاړه ډکه ماضي لري او د دوی د آزادۍ د مبارزو په تاریخ کې له افتخاره ډک فصل جوړوي، همدغه توریالی قوم او د خپلې مېنې سره د دوی مینه د ملنګ جان د اشعارو منځپانګه جوړوي او دې موضوع ته د ملنګ جان په اشعارو کې په ډېرو ښو الفاظو کې انعکاس موندلی، چې لاندې شعري یې د نمونې په توګه وړاندې کولای شو:

زه پښتون یم زما روح پښتونستان دی
بې د روح نه څوک ژوندون نه شي کولی
زما خوښ د آزادۍ نام و نښان دی
اسارت زما ارواح نه دی منلی
زه پښتون د پښتون زوی پښتون زاده یم
ټول جهان زه پېژندلی چې پښتون یم
زه د دې خاورې د غېږې پرورده یم
دغه خاوره مې لیلی زه یې مجنون یم
خو زما ملنګ جان دا عهد و پیمان دی
ما خپل ځان پښتونستان ته ورېخښلی

د ملنګ جان اشعار سر تر پایه له وطن سره د مینې د وطن د آزادۍ او د وطن د ترقۍ او اعتلا په روحیه جوړ شوي دي، چې تل یې خپل هېوادوال په خپلو اشعارو کې اتفاق، اتحاد او یووالي ته را بللي دي او تل یې په خپلو اشعارو کې پښتنو ته د خپلواکۍ، آزادۍ او د استعمار پر ضد د مبارزې درس ورکړی دی، د استعمار ضد او پشتنو د یووالي په باب دغه لاندې چاربېته ولولئ، چې په دې چاربېته کې له خیبر نه تر اټکه پورې خاوره خپل وطن ګڼي او د بېګانه وو د تېري او تجاوز په مقابل کې د افسوس په ژړا او فریادونو خپل قوم مبارزې ته په دې ډول رابولي:

د افســـوس اوښـــکې مـــې ځـــي لکـــه رودونـــه
دم پـــه دم مـــې لـــه خـــولې خېـــژي فریادونـــه
میراثـــه د پـــلار نیکـــه مـــې لانـــدې کېـــږي
ظالمـــان زمـــوږ پـــه حـــق نـــه قـــانع کېـــږي
د افســـوس اوښـــکې مـــې ځـــي لکـــه بـــاران
پـــه ژونـــدون مـــې میـــراث بـــولي دښـــمنان
پـــه ځـــاب ســـره اتـــه میلیونـــه کـــوریـــم
هســـې نـــه چـــې پـــه دنیـــا کـــې زه کمـــزوریـــم
مګـــر دا چـــې غـــوره کـــړی مـــې دی صـــبر
نـــه ظـــالم یـــم نـــه پـــه چـــا کومـــه جبـــر
عاقبـــت بـــه مـــې د صـــبر کنـــډول مـــات شـــي
پـــه دنیـــا کـــې بـــه بیـــا بـــل اور د پســـات شـــي
زه طالـــب د خپـــل حقـــوق او اســـتقلال یـــم
آزادۍ پـــه نامـــه تېـــر تـــر ســـر و مـــال یـــم
یـــا بـــه خـــاورې پـــه دې لار کـــې خپـــل زلمیـــان کـــړم

یـا بـه جـوړ پـه خپـل همـت پښتونسـتان کـړم
ظالمــانو کــړم بــې زاره زه لــه ژوندونــه
دافســوس اوښــکې مــې ځــي لکــه رودونــه
ســپک وضــعیت د پښــتانه کلــه خوښــېږي
ظالمــان زمــا پــه حــق نــه قــانع کېــږي

لنـډه دا چـې داروانښـاد ملنـګ جـان شـاعري د پښـتو د فولکلـوري سـندرو ډېـره وروستۍ او غوره نمونه ده، چې د کلاسیو تحریري ادبیاتو نه یې هم اثر اخیستی دی او شاعر پـه دغـه زاړه مګـر پـه زړه پوري او پاخـه فورم او قالب کې ډېر مهم او ضروري مسایل اچولي دي او د خپلې ټولنې د ضرورتونو انعکاس یې پـه ښـه ښان پـه کـې کړی دی، پـه دې صـورت د ده شـاعري د فـورم او شـکل لـه مخـه د ډېـرو لرغونـو عنعنـو پـه زړه پورې نمونـه او د پرمختللو ارمانونو، د هېواد د انکشاف او پرمختـګ د آرزو، د خلکو د پوهې او تنویر د تبلیغ، د ظلم او استعمار سره د مبارزې او ملي آزادۍ د پیغـام د لوړو او عالي معاصرو مسایلو د ترسیم، تلقین، تصویر او انعکاس ډېر ښه مثال ګڼلی شو.

لـه دې سره، چې ملنـګ جان یـو ولسـي شاعر دی، خـو د ملـي شاعر لقب یـې هـم ګټلی دی او دا پـه دې معنا چې دی د لرو او برو پښتنو د آزادۍ او خپلـواکۍ غوښـتونکی او د استعمار پـه ضـد مبارزې لرونکـی شـاعر و او خصوصـاً د پښتونستان د خپلـواکۍ مفکورې د ده په اشعارو کې پوره ځای درلود.

په پای کې ویلای شو، چې د پښتونستان سره د ملنګ جان مینه دومره لوړ حد ته رسېدلې وه، چې د پښتونستان له اوسېدونکو څخه یې ځان او د هغوی له اولادونو

څخه يې د خپل زوی «دواجان[۱]» د قربانېدلو دعا کړې ده او د هغوی په محکومتیا او مظلومتیا يې دا رنګه ژړلي او خپل احساس او خواخوږي يې ښکاره کړي دي:

ستاسو ځانونو څنې ځان مې ځار شه
ستاسو بچو نه دواجان مې ځار شه
واورئ له ما ملنګ جان ګرانو ورونو
زما محکومو مظلومانو ورونو

همدارنګه له پښتونستان سره د ملنګ جان د مينې په باب د ده له مرګه وروسته د لرې او برې پښتونخوا د پیغامونو په لړ کې له کوټې څخه د پښتونستان د يو ستر مشر په پیغام کې دا رنګه تائيد شوی دی:

"د مرحوم ملنګ جان شاعري د پښتونستان د خلکو د مليت جذبه زياته کړې ده او د پښتونستان په تشکيل کې به د ده نقش تل ژوندی وي د هغه مرحوم مرګ د پښتو ادب لپاره ستر زيان دی او مونږ له لوی خدای ﷻ څخه غواړو، چې د دغې سترې ضايعې جبران وکړي."

«آمين يا رب العالمين»

**اخځونه**:


۱ – د ملنګ جان خوږې نغمې، د پوهاند زيار سريزه، ۱۳۷۰ کال چاپ.

۲ – واجد، سرمحقق عبدالواجد واجد، د ملنګ جان په اشعارو کې د آزادۍ انعکاس، ۱۳۸۳ کال چاپ.


[۱]– دواجان د ملنګ جان زوی و، چې د لته بند په لار د موټر د چپه کېدو په پېښه کې په ۱۳۳۶ هـ. ش کال له ملنګ جان سره یوځای ومړ.

۳- د قصه خوانی د خونړۍ پېښې رپوټ، د پوهاند عبدالشکور رشاد ژباړه، سریزه او لمنې دویم چاپ.

۴- د ملنګ جان خوږې نغمې، د آزادۍ مطبعه، ۱۳۳۵ کال چاپ، د استاد بختاني په سریزه.

۵- د ننګرهار مجله، ۱۳۳۶ کال، اتمه ګڼه، ۶ مخ.

۶- د عبدالحمید مومند کلیات، د محمد آصف صمیم سریزه، څېړنه، اوډون او ویېپانګه، ۱۳۸۳ کال، ۲۴۱ مخ.

۷- ملنګ جان، د غ، ح نوابي او ع غمخور ټولونه، دولتي مطبعه.

۸- د ملي شاعر ژوند او هنر خطي نسخه، ۱۳۴۴ هـ ش، د محترم استاد سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار لیکنه.

پوهنمل سیداصغر هاشمي

# د عبدالله بختاني د ځینو منظومو ژباړو هنر

د نړۍ ټولو پرمختللو ژبو ته د تحقیقاتو، تخلیقاتو او ژباړو په برخه کې خدمتونه شوي دي او د هرې ژبې د علمي کیدلو لپاره عملي هڅې په کار دي چې ژبه له نزوله د عروج نقطې ته ورسیږي.

د پښتو ژبې د غنامندۍ لپاره هم نه ستړې کیدونکي هلې ځلې په کار دي، تر څو موژبه په ګانده کې له ګاونډیو سره برابره شي، چې له نیکه مرغه ځینې پوهانو، لیکوالو او عالمان موخدمت کولو ته ملا تړلې ده او هر وخت یې د ژبې د بډاینې لپاره کار کړی دی چې له دغو پوهانو څخه یو عالم څېړنپوه عبدالله بختانی خدمتګار دی. دې لیکوال تحقیقي، تخلیقي، تحلیلي، په پښتو او فارسي منظوم او منثور اثار او له فارسي، پښتو، عربي، روسي ژبو نه یې په ډېر هنري انداز منظومې ژباړې کړې دي.

نظم په نظم ژباړه خپل استعداد او ذکاوت غواړي او بهترینه منظومه ژباړه هغه ده چې د ژباړې ګومان پرې و نه شي او مفهوم ژباړل شوی وي. ځینې لیکوال او ژباړونکي په منثورو او منظومو ژباړو کې کټ مټ ژباړه کوي چې داسې ژباړو ته ښه ژباړه نه شو ویلای او ښه ژباړه هغه ده چې د موضوع مفهوم ژباړل شوی وي.

ځېړنپوه عبدالله بختانی په ژباړو کې د استادۍ مرتبې ته رسیدلی دی او د ده منظومې بدیعي ژباړې خپل خوند لري او کوښښ کوي چې د موضوع ماهیت او اصلیت په نظر کې ونیسي او د مختلفو ژبو شاعرانو شعرونه یې په داسې هنري انداز ژباړلي دي چې ده خپلو ژباړو ته هم شعریت او هنریت ورکړی دی.

استاد بختاني چې له کومو ژبو څخه منظومې ژباړې کړې دي، د هغو ژبو د ادا او تعابیرو رنګ په کې نه لیدل کېږي او یا ډېر لږ تر سترګو کېږي. لیکوال کوښښ کړی دی چې د پښتو ژبې په خپل اصلي رنګ یې ترجمه کړي چې دی په دې کار کې هم کامیابه را وتلی دی او خپلو منظومو ژباړو ته یې په دې کار لا هنریت ورکړی دی.

عبدالله بختاني له فارسي په پښتو، له پښتو په فارسي، له عربي په فارسي، له روسي په پښتو او له روسي په فارسي ژبې په پښتو او فارسي داسې منظومې ژباړې کړې دي چې د دې لوړ استعداد او ذکاوت او په دې ټولو ژبو د پوهیدلو نمایندګي یې کوي. او داسې معلومیږي چې استاد په یادو ټولو ژبو پوهیده.

د سرمحقق خدمتګار ترجمه ازاد ده او کوښښ یې کړی دی چې ټکي په ټکي ژباړه ونه کړي. د ده په منظومو ژباړو کې د ترجمې څرک نه ښکاري او لوستونکی فکر کوي چې دا د استاد خپله لیکنه ده.

### په پښتو کې د منظومو ژباړو تاریخي شالید:

په پښتو ادبیاتو کې د منظومو ژباړو تاریخي شالید ډېر پخوانی تاریخ لري. په نظم کې لومړنی شعر د ابو محمد هاشم زید السرواني دی، چې له عربي ژبې نه یې په پښتو نظم را ژباړلی دی.

دغه شعر د تاریخي قدامت له مخې خپل ارزښت لري. (۱)

د هاشم سرواني شعر له عربي ژبې څخه په پښتو (۲۲۳ ل کال) ژباړل شوی دی چې عربي نمونه یې په لاندې ډول ده:

مـــن کـــان یملـــک درهمـــین تعلمـــت
شـــفتاه انـــواع الکـــلام فقـــالا
و تقـــدم الاخـــوان فاســـتمعوا لـــه
ورایتـــه بـــین الـــوری مختـــالا

او نو. د پښتو ژبارې نمونه یې په لاندې ډول ده:

ژبـــه هـــم ښـــه وینـــا کانـــدي چـــې یـــې وینـــه
د خاوند پـــه لاس کـــې زر او درهمونـــه
ژبـــور ورلـــه ورځـــي وینـــا یـــې اروي
د درهـــم خاونـــدان تـــل وي پـــه ویاړونـــه

او نور (۲)

د هاشـم سـرواني پـه شـعرکې د عربـي ژبـې لغـات او ترکیبونـه شـته دي چـې لـوی لامـل یـې لـه عربي ژبې ژباړه ده. د ترلاسه شوو سندونو او آثـارو لـه مخې پـه پښـتو ادبیـاتو کـې د ژبـاړې سـرلاری هاشـم سـرواني دی او پـه لرغـونې دوره کـې لـه ۱۳۹ کـال څخـه تـر شـاو خـوا ۱۰۰۰ ل کـال پـورې چـې پنځـه ویشـت نارینـه او درې ښـځینه شـاعرانې پـه کـې مـوږ تـه معلـومې دي، پـر هاشـم سـرواني سـربېره یـوه ښځینه شاعره هم لرو چې له فارسي ژبې څخه یې ژباړه کړې ده.

دا شـاعره مېـرمن د لرغـونې دورې یـوه پېژنـدل شـوې شـاعره ده چـې د کنـدهار د پنجـوایي وه، د پـلار نـوم یـې مـلا دیـن محمـد کـاکړ و او د خپـل وخـت مـروج علـوم یـې زده کـړي وو، د فصـاحت احکـام یـې لوسـتلي وو او د عالمـانو اشـعار او اثـار یـې وو پـل، زرغونـه د سـعدالله خـان نـورزي پـه نکـاح کـې وه او د علـم او هنـر

خاوندان زامن یې درلودل، دې مېرمنې د خپل عصر په شاعرانو کې شهرت درلود.

زرغونې په (۹۰۳هـ. ق) د شیخ مصلح الدین سعدي پارسي بوستان په پښتو شعر وژباړه. یعنې لومړنۍ هغه شاعره چې شعر یې له فارسي ژبې نه ژباړلی دی هغه زرغونه کاکړ ده. د شعر نمونه یې په لاندې ډول ده:

اوربدلې مې قصه ده
چې له شاتو هم خوږه ده
داختر په ورځ سهار
بایزید چې وه روبدار
له حمامه راوتلې
په کوڅه کې تېربدلی
او نور (۳)

د لرغونې دورې له منظومو ژباړونکو سره د عبدالله بختاني تو پیر په دې کې دی چې دی په څو ژبو پوهیده او له څو ژبو څخه یې ژباړې کړي دي او بل توپیر یې په دې کې دی چې د ده وینا هنریت او شعریت لري چې خپله وینا یې نیغ په نیغه ټولنې ته وړاندې کړې ده.

له لرغونې دورې وروسته په دوهمې دورې کې هم منظوم ژباړونکي تېر شوي دي.

په دوهمې دوره کې خوشحال خان خټک هم منظومې ژباړې لري. د ده اکثره ژباړې له عربي څخه پښتو ژبې ته دي او د نمونې په ډول یو مثال راوړم:

دا کتـــاب مـــې ترجمـــه پـــه افغـــاني کـــړ
افغانـــانو تـــه مـــې کـــار پـــه اســـاني کـــړ
کـــه خبـــر پـــه ډېـــر دانـــش پـــه دانـــايي يـــم
پـــه دا کـــار کـــې هـــم پيـــرو د ســـنايي يـــم

او نور (۴)

د خوشحال اکثره شعري ويناوې شعريت او هنريت لري خو اکثره هغه شعرونه چې يې منظومې ژباړې دي د شعريت مالکه نه لري او د پروفيسور بختاني له متفرقو منظوموسره يې تو پيير په هنريت او شعريت کې دی. استاد چې له کومې ژبې ژباړې کړي دي، خپله استادي يې په کې ښکاره کړې ده.

په دوهمې دورې کې له ټولو غوره منظومې داستاني ژباړې د عبدالحميد مومند شاه او ګدا او نيرنګ عشق دي. (۵)

دغه دواړه داستاني کلاسيک اثار حميد له فارسي څخه پښتو ته اړولي دي، دغه اثار په روان او لوړ هنري انداز ترجمه شوي دي.

د شاه او ګدا له نوم څخه معلوميږي چې د يو بادشاه او ګدا قصه ده، دغه اثر هلالي چغتايي په فارسي ژبې ليکلی و او حميدمومند په پښتو نظم په روانه او ازاده ترجمه واړاوه.

د هلالي چغتايي دغه اثر چې کله حميد مومند ترجمه کړ نو بيتونه يې له اصل څخه زيات شول، خو د ترجمې ګومان پرې نه کيږي. ځينې ليکوال په دې اند دي چې دغه ترجمه له اصل څخه زيات هنريت او شعريت لري. هلالي نمونه په لاندې ډول ده:

ســـــخن ارای ايـــــن حـــــديث ګهـــــی
اينچنـــــين ميکنـــــد بيـــــان ســـــخن

که از این پیش بود درویشی
راست کیشی محبت اندیشی

او نورحمید مومند دغه اثر چې ډېر بیتونه لري په ډېره لوړه قریحه او انداز سره ترجمه کړی دی، چې د نمونې په ډول یې لومړي دوه بیتونه راوړم:

راویان د دې قصې چې حکایت کا
په دا رنګ و دې ګنج ته هدایت کا
چې په وړاندې زمانه کې یو ګدا و
عشق اندیش محبت کیش مرد خدا و

او نور(۶) د حمید مومند منظومې ژباړې د دوهمې دورې له ټولو منظومو ژباړو بهترینه ژباړه ده او له دویمې دورې وروسته په دریمې دورې کې هم د نظم ګڼ شمېر ژباړونکي تېر شوي دي، چې له دغو ژباړونکو څخه یو هم پیاوړی شاعر او ژباړونکی سرمحقق عبدالله بختانی دی. (۷)

دی په څو ژبو پوهیده له دغو ژبو یې په پښتو او فارسي کې منظومې ژباړې کړي دي. له فارسي ژبې یې پښتو ته زیات متفرق انتخاب شوي بیتونه ترجمه کړي دي.

د فارسي ژبې د وتلي شاعر او د هرات پیر خواجه عبدالله انصاري یوه رباعي ده:

هر کس که ترا شناخت جان را چه کند؟
فرزند و عیال و خانمان را چه کند؟
دیوانه کنی هر دو جهانش بخشی
دیوانه تو هر دو جهان را چه کند؟

بختاني د عبدالله انصاري وینا په داسې ډول پښتو ته ترجمه کوي چې هیڅ د ژباړې ګومان پرې نه کېږي.

چا چې ته وپېژندلې ځان به څه کړي؟
کور او کهول او خاندان به څه کړي؟
تې ليونی کړې دوه جهان وربخښې
ستا ليونی دواړه جهان به څه کړي؟ (۸)

دفارسي ژبې دوتلي شاعر عمر خيام يوه رباعي ده:

ای دل ز زمانه رسم احسان مطلب
وز گردش دوران سرو سامان مطلب
درمان طلبی درد تو افزون گردد
با درد بساز و هيچ درمان مطلب

عبدالله بختانی دمشهور شاعر خيام دغه شعر په ډېر ښه ډول ژباړلی دی:

له زمانې زړگيه! لار د احسان مه غواړه
گردشت دوخته ځينې سروسامان مه غواړه
چې ته درمان غواړې درد دې زياتېږي
جوړ شه له درده سره او هيڅ درمان مه غواړه! (۹)

بختاني د نړۍ د مشهورو ليکوالو او شاعرانو د شعرونو ځينې نمونې په ډېر ښه شکل سره ترجمه کړې دي، د هند د نيمې وچې وتلی ليکوال او شاعر علامه اقبال دوه بيتونه دي:

چو رخت خويش بريستيم از اين شهر
همه گفتند: بما آشنا بود
وليکن کس ندانند کاين مسافر
چه گفت؟ وبا که گفت؟ و از کجا بود؟

د پورته دوو فارسي بيتونو آزاده ژباړه يې د ازاد شعر په قالب کې په پښتو داسې کړې ده:

لـــه دې مېنـــې چـــې مـــې وتړلـــه کـــډه
تولـــو وې: زمـــونږ عزيـــز او ګـــران اشـــنا و
خـــو څـــوک پـــوه نـــه شـــو چـــې دغـــه مســـافر
څـه ويل؟ چـا تـه يـې ويـل؟ د کـومې خـوا و؟ (۱۰)

استاد په فارسي ژبې کاملا د ليکلو او ويلو صلاحيت لري، نو له همدې امله يې له فارسي په پښتو خوږه، روانه، سليسه، ازاده او په هنريت او شعريت برابرې منظومې ژباړې کړې دي.

له پښتو يې فارسي ژبې ته هم ژباړې کړي دي، چې په پښتو ژبې د لوړې هنري قريحې نماينده ګي يې کوي.

د رحمان بابا يو بيت دی:

خرقـــه پوشـــو پـــه خرقـــه کـــې دی مونـــدلی
هغـــه حـــظ چـــه پـــه دنيـــا يـــې دنيـــا دار کـــا

بختانی صاحب يې په فارسي ژبې په لاندې ډول ترجمه کوي:

خرقـــه پوشـــان ز خرقـــه يافتـــه انـــد
لـــذت پـــر نيـــان دنيـــا دار (۱۱)

پروفيسر بختانی پر پښتو او فارسي سربيره په نورو ژبو هم پوهيده، له نړيوالې ژبې عربي څخه يې هم ځينې شعرونه په فارسي نظم اړولي دي او دا په دې دلالت کوي چې استاد د عربي ژبې مطالعه هم درلوده او له دې ژبې نه يې په نورو ژبو د ترجمه کولو پوره مهارت او صلاحيت درلود.

د مصري مشهور لیکوال ابو حفص ابن علي دوه بیتونه دا دي:

رق الزجـــــاج و رقـــــت الخمـــــر
فتشـــــابها و تشـــــاکل الامـــــر
فکانهـــــا خمـــــرو لا قـــــدح
و کانمـــــا قـــــدح ولا خمـــــر

بختاني دغه شعر په ډېر هنري او شعري انداز سره ژباړلی دی او د ده دغه شعر په دې دلالت کوي چې دی له عربي ژبې په فارسي د نظم په اړولو کې د استادۍ درجې ته رسیدلی دی.

بـــاده صـــاف بـــین بـــه جـــام صـــاف
امـــر مشـــکل، نـــه انقـــدر ســـاده
گویـــا: ایـــن میســـت نـــی مینـــا
یـــا قـــدح بـــوده اســـت بـــی بـــاده

د سر محقق بختاني له پورته ژباړل شوي شعر څخه څرګندیږي چې استاد به له عربي ژبې نور شعرونه هم په شعر ژباړلي وي او له نظم سربیره بختانی صاحب په پښتو، فارسي، عربي، روسي او هسپانوي ژبې منثورې ژباړې هم کړي دي.

استاد له اسپانوي ژبې څخه "د هوسي مارتي" څلور شعرونه د "ویلیام" په مرسته په پښتو ژباړلي دي.

عبدالله خدمتګار په پورته دریو ژبو (پښتو، فارسي او عربي) سربیره له اسپانوي ژبې څخه هم نظم په نظم ژباړې کړي دي چې د نمونې په ډول یې د ازاد شعر یوه پارچه مثال راوړم، لکه:

انسان رنګ نه لري.
سپین رنګي او تور رنګي
بنیادمان
ټول یو تر بله ورونه دي
د ټولو حقوق سره برابر دي.
خلک پخپله وایي:
زموږ حقوق سره برابر دي.

بختاني په روسي ژبه هم پوهیده، چې د ترکمنستان د معاصر شاعر او لیکوال اناکا وسوف یو شعر ښاغلي یاکوف کوزلوفسکی په روسي ژبې ژباړلی و او استاد بختاني دغه شعر له روسي نه په پښتو ژباړلی دی، چې د ټول شعر څو انتخاب شوي بیتونه یې د مثال په ډول راوړم:

د وطـــــن را یــــادوي تېــــــر یادګارونـــــه
او کـــــه وایـــــي میلمنـــــو تــــه ســــلامونه
پـــــه کابــــل کـــــې د مــــاښیو لــــه برجونــــو
چـــــې رپیـــــږي دا درې رنګــــــي بیرغونــــــه

***

افغــــاني ښایســــته بیـــــرغ لــــري درې رنګــــه
شـــین اسـمان دی راکـوز شـوی پـــه کېـږدو کــې
کـــه پـــر غرونـــو د شـــنېلیو فـــرش خپرېـــږي؟؟
پـــر افـــق پـــه نیمـــو شـــپو کـــې هـــم ســـپیدو کـــې

***

دا درې رنګـــــه دا درې رنګـــــه دا درې رنګـــــه
دفضـــا پـــر ټټـــر رنګـــا رنـــګ جلـــوې دي
د بیـــــرغ د درې رنګونـــــو څـــــه معنـــا ده؟
دا د څـــه شـــي؟او دڅـــه وخـــت خـــاطرې دي؟ (١٢)

د خـدمتګار د نظـم پـه نظـم ټولـو ژبـاړو کـې د شـعریت او هنریـت ماهیـت او اصـلیت لیـدل کېږي او زمـا پـه انـد لوسـتونکی پـرې د ترجمـې ګومـان نـه شـي کولای.

لکـه څرنګـه چـې د مفکـر او مبتکـر لیکـوال او شـاعر ګـل پاچـا الفت لـوړ خیالونـه او ژور فکرونـه د بـدیعي نثرونـو بهترینـه مجموعـه ده او هـر لوسـتونکی دا ګومـان نـه شـي کـولای چـې دا دې الفـت صـاحب ژبـاړلي، یعنـې د هغـه خپلـه لیکنـه یـې ګڼـې، دغـه شـان د سـرمحقق بختـاني هنـري نثـر پـه نثـر ژبـاړو کمـال هـم همداسې در واخلئ؛ خو زه دلته نه غواړم د دواړو پوهانو ژباړې پرتله کړم.

بختـانی صـاحب خپلـو د نظـم پـه نظـم ژبـاړو کـې د اسـتادۍ حـق لـري او د ده د ژبـاړو یـو امتیـاز پـه دې کـې دی چـې اسـتاد پـه څـو ژبـو پوهیـده او لـه څـو ژبـو یـې شعر پـه شعر ژبـاړې کـړي دي او پـه اکثـرو ژباړو کـې یـې زمـان پـه انـد د ژبـاړې رنـګ نه لیدل کېږي.

**پایله**: د ژبـاړو پـه واسـطه هـره ژبـه پرمختـګ کـولای شـي، دغـه ژبـاړه کـه نثـر پـه نثـر وي او کـه نظـم پـه نظـم وي. پـه نثـر او شـعر کـې بهترینـه ژبـاړه هغـه ده چـې روانـه او بـې تکلفـه وي او د ترجمـې ګومـان پـرې ونـه شـي. کلـه کلـه پـر منظومـو ژباړو باندې د نورو ژبو تاثیرات وي چې هغه بیا بیلابیل لاملونه لري.

عبـدالله بختـانی نظـم پـه نظـم ژبـاړوکې کامیابـه دی او د ده د ډېـرې مطـالعې او په څو ژبو باندې د ده د پوهیدلو دلالت کوي.

د ده له پښتو په فارسي، لـه فارسي پـه پښتو، لـه عربي پـه فارسي او لـه روسي پـه پښتو ژباړه روانه، سلیسه او ساده ترجمه کړې ده.

**مأخذونه**:


۱. سیداصغرهاشـمي: پښتوژبې ادبي سرلاري، ګودرخپرندویـه ټولنـه، جـلال اباد، ۱۳۹۰ ل کال، ۵۷ مخ.

۲. فریداحمـدهلال: د پښـتو ادبیـاتولرغونې دوره(څېړنـه او سـپړنه)، کتـاب خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۲ ل کال، ۳۹ مخ.

۳. پوهاندعبدالحی حبیبي: د پښـتوادبیاتو تاریخ، لومړی او دویـم ټـوک، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور۱۳۸۴ ل کال، ۵۳۷ مخ.

۴. سرمحقق زلمی هېوادمل: تنګیالی دزمانې، دافغانستان کلتـورې ودې ټولنـه، جرمني، ۱۳۸۱ ل کال، ۱۹۰ مخ.

۵. سیداصـغر هاشـمي: د پښـتو نظـم تـاریخ(لومړی او دویمـه دوره)، مومنـد خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۳ ل کال، ۱۸۴ مخ.

۶. زریـن انځـور: د حمیـد داسـتاني اثاروتـه یـوه کتنـه، دعبدالحمیدمومنـدیاد، علومواکاډمی، کابل، ۱۳۶۶ ل کال، ۸۲. ۸۳ مخونه.

۷: سیداصغرهاشـمي: شعرپوهنه، مومند خپرندویـه ټولنـه، جـلال اباد، ۱۳۹۳ ل کال، ۴۲ مخ.

۸. سرمحقق عبدالله بختانی خدمتگار: د هیلې د هیلۍ سپین وزر، دانش خپرندویه ټولنه، پیښور، ۱۳۸۶ ل کال، ۶ مخ.
۹. سرمحقق عبدالله بختانی خدمتگار: د هیلې د هیلۍ سپین وزر، ۱۰۹ مخ.
۱۰. سرمحقق عبدالله بختانی خدمتگار: د هیلې د هیلۍ سپین وزر، ۳۵ مخ.
۱۱. سرمحقق عبدالله بختانی خدمتگار: د هیلې د هیلۍ سپین وزر، ۸مخ
۱۲. سرمحقق عبدالله بختانی خدمتگار: د هیلې د هیلۍ سپین وزر ، ۴۱ مخ.

مجیب الرحمن امیري

# د محمدصدیق پسرلي د غزلونو لویه فکري او هنري منځپانګه

(دوهمه برخه)

سره له دې چې زموږ دغه شاعر د ژوند په ډېرو ناخوالو او ګردابونو کې ښکېل پاته شوی، خو بیا یې هم د خپل خواږه غزل غزلیزه لاره نه ده پرې ایښې. په هر ډول شرایطو او هر ډول حالاتو کې یې غزلونه ویلي دي. نوموړي که په هر ډول شرایطو او حالاتو کې شعرونه ویلي، د حالاتو او شرایطو د انځورګرۍ تر څنګ یې د مینې، ښکلا، انسانیت، اخلاقو، فلسفې او عرفان په برخه کې یې هم ګڼ غزلونه ویلي دي او د انسانیت او انساني ژوندانه تر ټولو لوړ معیار (مینه) یې کرلې، پاللې او نازولې ده.

**وطندوستانه او سیاسي افکار:**

د استاد پسرلي د شاعرانه ژوندانه ډېره برخه په داسې حالاتو او شرایطو کې تېره شوې، چې پر هېواد د سختو ناخوالو او ناورینونو سیوری غوړېدلی و

او لا هم دغه سیوری پاته دی. که موږ د استاد هغه غزلونه او شعرونه وگورو، چې نو موړي تر دغو ناخوالو او ناورینونو مخکې د کندوز په چاردره او خپله په کندوز کې ویلي دي، نو تر ډېره په کې د مینې، ښکلا، فکر، فطرت، خوښۍ، اخلاقو، انسانیت او عاطفې انځور ډېر څرگند او حتا ټوله شاعري یې له همدې څیزونو جوړه او پرې ښایسته شوې ده. خو له بده مرغه کله چې پر افغانستان د کمونېستي رژیم وحشي څپه را خوره شوه او په افغانستان کې د ناخوالو، ناورینونو او بدمرغیو پیلامه گرځي، نو ورسره د ژوند پر ټولو مادي او فزیکي چارو یې اغېزې پرېوځي. که تاریخ ته وکتل شي، نو د هر مدنیت پر وړاندې یو ناوړه خوځښت رامنځ ته شوی او پر وړاندې یې شومې دسیسې، پلانونه او ناروا کړنې ترسره کړې دي.

د مدنیت پر مخ مدام وي د وحشت یوه زخه
پرون صحرا وه د گوبي، نن کریملین پاته دی
(۲:۵۳۵)

استاد پسرلی هم د دغه عصر هغه شاعر او غزلبول دی، چې پر شعرونو او غزلونو یې د یاد تاړاک اغېزې لوېدلي دي او د ده شاعري، چې د مینې، ښکلا، عاطفې، فطرت، انسانیت او اخلاقو یوه ټولگه وه، د دغه تاړاک له راتگ سره د ناخوالو، بدمرغیو، ناهیلو، اندېښنو، ویرونو، غمونو، ورانیو او نورو سختیو بیان او انځورونه هم پرې ورگډ شول.

د یاد تاړاک پر مهال د استاد شاعري په ځانگړې توگه غزلیزه شاعري له حالاتو او شرایطو څخه اغېزمنه شوې ده. حتا تر دې چې یو ځای یې د تاریخ د نه تکرارېدو خبره کړې ده او دا هغه وخت دی، چې پر افغانستان د ناخوالو او بدمرغیو سیوری غوړېدلی دی. استاد وایي:

د هیلو په یوه ماته دړه ناست یم ربه خیر
لحظې د انتظارې په ګرداب تېروم
په مړینه مې هم نه لوېږي اوس زړه ته هوسایي
چې ژوند لکه سېلاب په اضطراب تېروم
چې هر وړ اندېښنې د وصل لاره پرې کوي
له ځانه لکه پل هغه سېلاب تېروم
تاریخ که تکرارېږي خدای دې بیا نه کړي تکرار
دا شپې ورځې چې زه په زړه کباب تېروم
(۱:۱۰)

یا همدې ته ورته حالت په یوه بل غزل کې داسې انځوروي:

په داسې لاره سم یو چې سرونه په کې ورک دي
یوه توره تروږمۍ ده سحرونه په کې ورک دي
الله چېرته به ګورم پل د خپل بښکلا طلب زړه؟
په داسې ډنډ غوپه شو، چې لمرونه په کې ورک دي
پرهر د زخمي زړه مې د ګنډلو دی که نه دی؟
د وینو ډنډ یې پرېږده نشترونه په کې ورک دي
امید د هوسا ژوند مې یاس هغه ځای کې پرېښود
چې بېرته ترې وتل نشته عمرونه په کې ورک دي
په داسې لوړو ځوړو باندې واړولم پېښو
چې خوړې په کې غرقې دي او غرونه په کې ورک دي
دماغ مې لویه ربه څه هامون کړ حوادثو؟
چې ګام په ګام یې ورکه ده فکرونه په کې ورک دي

اول بــه مــې د زړه د کــوم پرهــر و کــړې پوښــتنه؟
لــه ډېــرو پرهرونــو پرهرونــه پــه کــې ورک دي
ملـي مـاتم مـو ژونـد پـه داسـې تـور مـېړ کـې تړلـی
جشـنونه پـه کې هېـر شـول اخترونـه پـه کې ورک دي
د مینــې د صــحرا پــه وســعت پــوه شــوم پســرلیه
چــې وچــې پــه کــې پټــې دي بحــرون پــه کــې ورک دي
(۲۴۰–۲۴۱ :۲)

له پورته غزلونو څخه ښکاري چې د استاد د دغه مهال پر غزلیزه شاعرۍ د اندېښنو، پرېشانیو، نهیلیو او غمونو اغېزه لوېدلې ده. ځکه زموږ پر گران وطن افغانستان د شوروي نا انساني یرغل له وحشته ډک او په حقیقت کې یې د یوه زېږنباک او ښکېلاک ښه لرله. همدغه موضوع نوموړي په خپل یوه بل غزل کې داسې انځور کړې ده:

وطن مې د دوښمن تر زرهپوشو لاندې وران شو
خاطر کې خاطرې د استعمار ویدې کوم
پسرلیه چې قلم په لاس کې جنگ ته یم وتلی
په څه ماته شپېلۍ گوره ښامار ویده کوم
(۲:۳۲)

په حقیقت کې دا ښکېلاک او زېږنباک دومره په جوش کې افغانستان ته راغی، چې پر وړاندې یې په افغانانو کې د مقابلې دومره وس نه و. افغانان او افغان ولس تش لاسي و. په دغه وخت کې هم د توري جهاد ته اړتیا وه او هم د قلم جهاد ته. با احساسه او پر دین، وطن، ناموس او عزت مینو قلموالو د توري

د جهاد تر څنګ د قلم جهاد هم پیل کړ او له هغې جملې څخه یو استاد پسرلی دی او د نیوا کګر بښامار پر وړاندې د مقابلې ټینګ عزم او اراده یې پخه ساتلې ده.
دا هغه وخت و، چې افغانستان ښکلي د وینو پر حمام بدل شوی و، پر افغان ولس داسې د تورو او توپونو باران جوړ و، چې په ټول هېواد کې د ګلونو د وږم پر ځای د وینو او بارتو بوی پورته کېده. په هره سیمه، هر کلي او هر کور کې د ویر او غم ټغر خور و او هر زړه د فریادونو پر اباسین بدل و، لکه چې وایي:

دا نن پرون توی شوې وینې رنګ شي ورکولی
سل قرنه ارغوان که له کابله راټو کېږي
(۲:۲۰۸)

یا:

هر زړه اباسین د فریادونو دی
څوک به اول واوري د بل چا کیسې؟
(۲:۲۷۷)

رښتیا هم جنګ او جګړو افغانستان له هره اړخه داسې وځاپه، چې د پېړیو پېړیو لپاره یې د نړۍ له سیالۍ وغورځاوه، ژوند سرا سر د غمونو، ویرونو او ناخوالو ټولګه شوه، که له یوې خوا له دغه ناوړه حالته د راوتلو فکرونه په سرونو کې چلېدل، له بلې خوا فکرونه پر همدغو ناخوالو کې ګېر پاته وو. په همدې تړاو استاد وایي:

غـم د ژونـدون یـو پلـو، شـور د جنـون بـل پلـو
پـروت یـم پرېشـان یـو طـرف، ګـر ځم زبـون بـل پلـو
جبـر د زمـان تـه څـوک څرنګـه نـژدې کـړي زړه؟
دوک د سـبا یـو طـرف، نـن او پـرون بـل پلـو

زمـوږ پـه زړه او ذهـن جنـګ څـه لـوبې را و نـه کـړې
چـور او چپـاول شـو ويـار، ناحقـه خـون بـل پلـو
تيـت او بې کمالـه قـام څـه وکـړي چې ورک نـه شي
تيـر و کمـان يـو طـرف، شـور د کمـون بـل پلـو
يـو جنګ چې څـو جنګـه شو، عقـل هم ګلبنګـه شو
يــوه خـوا د بـري فکـر، خيـال د سـمون بـل پلـو
و ګـورو چـې بـه آخـر بيـرې کـه بريتونـه شـي؟
لـټ او محيـل يـو طـرف، رنـد او جبـون بـل پلـو
زه بـه اوس پـه کومـه خولـه، دا هـم زنـدګي بـولم
سـتړی فکـر يـو غضـب، سـوی لړمـون بـل پلـو
څـه وکـړو کـه نـه ژاړو، ورک انجـام د ورک ملـت
کـور د امـن يـو طـرف، مـخ د پښتـون بـل پلـو
(۲:۲۸۷)

استاد هماغه مهال په دې سياست پوهېده، چې افغانستان د ګڼو ناسپړلو خزانو له وجې، د شرقي او غربي ښامارانو هدف دی او دغه هدف ته افغانان پخپله ځکه رسېدای نه شي، چې هغوی په خپلو کې جوړ نه دي. د افغان ولس يو شمېر مشران هم يا د پرديو غلامان تېر شوي او يا هم د قدرت، څوکۍ، کورنيو ستونزو او شخړو له امله يو له بل سره چاړه او غوښه شوي دي او د هېواد د زېرمو او له هغو څخه د ښې ګټې اخيستې او بلاخره د افغان ولس د هر اړخيزې پرمختيا او ودې مثبت فکر يې له سره وتلی دی. نوموړی دغه موضوع په يوه غزل کې داسې انځوروي:

چې په پاک زړه کې يې عشق د بشر پروت دی
د هغه طبيب په پښو کې شمر پروت دی
په رقصونو به يې څه دمه شي جوړه
خوار ولس چې لوڅ لپړ او نهر پروت دی
پړانګ حمله ويني په خوب او هوسۍ تېښته
د هر چا په ذهن ګوښي اثر پروت دی
که د ځان له جوړولو ور فارغ شو
په دې خاوره کې بې تولو ثمر پروت دی
د قدرت د خاوندانو له شامته
د صدف په زړه کې غلی ګهر پروت دی
د مراد مزله ته هر څوک ورنژدې شو
يو پښتون لکه مېخ کړی تغر پروت دی
وېش د مېتر زوره شو په دې محفل کې
چې ساقي خپله بد مست او ساغر پروت دی
چې د روس يا امريکې په تمه ناست وي
کوټه سپی د قصابانو په در پروت دی
د مردانو جوهر نه ځي په زندان کې
په نيام کې جوهرداره خنجر پروت دی
ديکتاتور چې د ملي ګټو حافظ شي
يو ښامار د جواهر پر سر پروت دی
ډېر پردي لاسونه رېږدي هندوکش ته

سپین امېل د پښتونخوا پر ټټر پروت دی
(۶۹- ۷۰: ۲)

په افغانستان کې د روسي ښکېلاک او د دغه ښکېلاک د واکمنو له خوا داسې ناوړې کړنې ترسره شوې دي، چې تاریخ یې ساری نه لري. دغه ښکېلاک ته په حقیقت کې پر افغان ولس د تورې شپې او هر ډول ناخوالو له خورېدو پرته بل هېڅ نوم نه شو ورکولی. له همدغه ښکېلاکه د زیږېدلو ناخوالو یو انځور استاد پسرلي داسې راوړی دی:

بیا به ورک دا شو اخون شي زه پو هېږم
توره شپه به سباوون شي زه پو هېږم
د مظلوم او ښکې به رنګ کړي کور د ظلم
هر یو څاڅکی به جیجون شي زه پو هېږم
هره تېږه د وطن به شي شیرینه
هر یو غر به بېستون شي زه پو هېږم
هره څانګه به ګلپوشه یوه لیلا شي
هر ارمان به یو مجنون شي زه پو هېږم
زور ګویي به شي محکومې په وطن کې
حکومت به د قانون شي زه پو هېږم
عدالت به کړي خولې پټې د توپونو
محبت به بیا راستون شي زه پو هېږم
په خپل مټ به خپلې شاړې کړو ودانې
په زړه پورې به مو یون شي زه پو هېږم
تل به نه وي بد مرغي پر موږ حاکمه

زمـــوږ بخـــت بـــه همـــایون شـــي زه پـــو هېږم
د نـــرۍ هـــر څـــــه تېرېـــــږي او زړېـــــږي
نـــن ســـبا بـــه هـــم پـــرون شـــي زه پـــو هېږم
دغـــه وران وطـــن بـــه بیـــا وي نـــن د ورکـــو
غاصـــبان بـــه تـــرې بېـــرون شـــي زه پـــو هېږم
پـــه خـــزان پســـې بهـــار راځـــي پســـرلیه
تللـــی شـــان بـــه مـــو راســـتون شـــي زه پـــو هېږم
(۸۴: ۸۵: ۲)

له دې ډول غزلونو ښکاري، چې زموږ په ګران وطن شوا خوان، ظلم، زور، غصب او بد مرغي حاکم وو او ولس په خورا مظلومیت او درد کې ښکېل او د تاړاکګرو په مقابل کې یې د خپلې وسې مطابق مبارزه کوله. هېڅکله هم داسې نه دي شوي، چې د تاړاک او یرغل پر وړاندې د افغان ولس احساسات مړه شوي وي، بلکې تر بل هر وخت یې احساسات ژوندي او پر څپو وي او تر هر څه د خپلواکۍ او ازادۍ فکر ته زیاته توجه لري. ځکه دا تاریخ ثابته کړې، چې پر افغان ولس هېڅکله هم چا حکمراني نه ده کړې او نه یې هم د ځان ایل کړي دي. استاد پسرلی هم وطن ته خپلواکي تر هر څه مقدمه ګڼي او بیا د خپلواکۍ لپاره ژوندي احساسات اړین بولي نه مړه. لکه چې وایي:

مړ احساس انسان ته په پستي کې هم مستي ببښي
خلـــي او ځګونـــه د دریـــا لـــه شـــوره مـــه پو ښـــته
هـــر څـــه پـــه کمـــزورو تپـــل کېـــږي ضـــعف جـــرم دی
بلـــه د ســـیاهي وجـــه لـــه ســـوي ســـکوره مـــه پو ښـــته
واک وطـــن چې نـــه ولـــري شـــپې یـــې پـــه لحد کـــې وي

گور له مړي مه پوښته او مړ له گوره مه پوښتنه
(۲:۴۸۸)

خو بل لور ته بیا په افغانستان کې دا یوه سیاسي ستونزه ده، چې کله څوک واک ته ورسېږي، نو سم ښامار ترې جوړ شي، پر خپل زور او قدرت تمرکز کوي او ولس ته د خیر پر ځای شر پېښوي. استاد هم هغه څوک چې قدرت او څوکۍ د ځان د گټو تابع بولي او خپلې گټې په کې لټوي په کلکه غندلي او ان ترې دې چې دغه ډول رهبران او مشران یوازې تاړاکگر بللي او وایي:

موږ د داسې گمراهانو لارښوونې ته وخت اړ کړو
چې بلد نه دي پسرلیه د تاړاک له کوڅې ها خوا
(۲:۱۰۸۷)

خو بیا هم استاد د دغو ډول تاړاک پلوو رهبرانو او مشرانو پر وړاندې غلی نه دی پاتې شوی او پر وړاندې یې خپله حق پلوه مبارزه جاري ساتلې ده، د بېلگې په توگه نوموړی وایي:

حق چې باندې نه وایي منبر د ماتولو دی
مې چې په کې نه وي تش ساغر د ماتولو دی
څو به لا په غاړه گرځوو د پت او شرم بار
دا خیرن منگی خو په گودر د ماتولو دی
تل د زور و زر لېونې نه پرېږدي پر لاره څوک
دا د مست سنډا د وهم ښکر د ماتولو دی
زهر د قدرت له انسانانو نه ښامار جوړ کړي
هر سر چې شي پور ته هغه سر د ماتولو دی
(۲:۲۵۹-۲۵۸)

که د افغانستان تاریخ ته پاملرنه وشي، نو په دې څو وروستیو لسیزو کې حالات له یوې ورځې بلې ورځې ته خراب شوي او تر هر پرون نه یې سبا له ویرونو، غمونو، دردنو او ناخوالو ډکه وي. خو په حقیقت کې هغه قوم او ملیت چې نن یې تر پرون بدتره او سبا یې تر نن بدتره وي، هغه قوم زړېږي او بلاخره له منځه ځي، لکه چې وایي:

قومونه هم زړېږي، ختمېدا یې لنډه ښکاري
د کوم ولس چې نن پورې پرون وهي ملنډې
(۲:۳۴۳)

له دې ټولو سره سره، استاد پسرلي که له یوې خوا پر ناوړه او له دردونو، غمونو او ناخوالو ډک پرون او نن باندې ژړلي، له بلې خوا یې پر راتلونکي سبا باندې هم شک څرګند کړی او هغه یې هم ژړلی دی:

چې بیا یې در لوګی کړم زړه به بیا وي که به نه وي؟
د ژوند د نی په خوله کې به نوا وي که به نه وي؟
چې ځې نو له فریاده خو مې مه منعه کوه
د نور د قافلو به هم درا، وي که به نه وي؟
سرتوره چې ما ښام لکه لمر وختلې بام ته
د ستوریو به په تا پسې غوغا، وي که به نه وي؟
د ژوند پاڼې بې لوستو اړوم په دغه فکر
چې مرګ به د بل فصل ابتدا، وي که به نه وي؟
څه وګرځمه زما د خاطراتو په کوڅو کې
د ناز او ادا ښار به دې بسیا، وي که به نه وي؟
چې زړونه شي پرې ټول د مزاحم فکر په رغم

د مینې په محفل کې به مینا، وي که به نه وي؟
سبا، سبا کوې، سبا به هم شي، نه پوهېږم
چې بخت به مې له وخت سره پخلا، وي که به نه وي؟
د شپې په لړمانه کې مې د گورم غوټې چاودلې
پسرلیه چې سبا به مو سبا، وي که به نه وي؟
(۲:۷۳۵)

یا هم د یوه غزل دا بیتونه:

څو به زما په زړه کې اوړي، څو به زما په خیال وربېږي
هغه خاوره چې بهاریې و د رنگ و بو په هیله
چې امید لرو له بخته، چې وفا غواړو له وخته
یو ساده مرغان په دام کې د ښکاري د ښو په هیله
نه د وینو سېلاب وچ شو، نه فضا له لوگي پاکه
لا تر څو به لارې څارو، لا به ناست یو څو په هیله؟
د گلونو وچو شونډو پترې ونیول پسرلیه
د نري باران په تمه د یوه غوړپ اوبو په هیله
(۲:۷۴۲)

که هم استاد پسرلی په افغانستان کې د ناخوالو له پیل څخه څه موده وروسته د مجبوریت او د وخت د جبر له مخې هجرت او کډوالۍ ته اړ شوی او پېښور ته کډوال شوی، خو بیا یې هم د خپل افغان ولس خوا نه ده پرېښې، په هر درد او رنځ کې یې ځان ورسره شریک گڼلی او د خپل سوځېدلي وطن پر درد دردېدلی او له هماغه ځایه یې خپلې قلمي او فکري مبارزې ته ادامه ورکړې ده:

لکه چې له تا نه ښایسته هېواده تللي یو
تللي یو د زړه د هوسایۍ له یاده تللي یو
هر قدم چې اخلو را ته خولې د ښامارانو شي
گرچه په ښکاره لري له (کام) و (خاده) تللي یو
مه پوښتئ د سوي وطن درد له بې وطنو نه
اوس خو د اثر غوندې له خپل فریاده تللي یو
(۲:۵۶۳)

یا هم د یوه غزل لاندې بیتونه، چې د خپل وطن او خپلې سیمې ارمان یې کړی او ورسره یې د خپل هجرت ذکر هم کړی دی:

لېـــوني زړه مـــې بیـــا پښتـــې را تـــه خرلـــې
پـــه زړې کـــلا کـــې غـــواړي د بـــاران بـــوی
چـــاردره وای د بـــــادامو شـــــگوفه وای
یـــا وای خپـــور پـــه خیرابـــاد د تاشـــقرغان بـــوی
ســـل بهـــاره ســـر پـــه ســـر بایـــد چـــې راشـــي
گونـــدې کښـــېنوي د وینـــو د توپـــان بـــوی
دولســـم کـــال دی چـــې گـــرد یـــې پـــر مـــوږ اوري
یـــو ځـــل را نـــه غـــی د حســـن د کـــاروان بـــوی
پـــه هجـــرت کـــې پســـرلیه لېـــونی شـــوم
حـــس کـــوم د نیمـــه خـــوا پاتـــه ارمـــان بـــوی
(۲:۷۳۸)

دا مشهور متل دی، چې ((هر چا ته خپل وطن کشمیر دی)). هر چا ته د خپل وطن خاورې د بل د وطن تر گلونو او ښایستونو غوره او قدرمنې وي.

ځکه د هر چا عزت او عفت په خپل وطن کې شونی دی. خو خپل وطن هم هغه وخت د گلونو، رنگونو او ښکمرغیو ټاټوبی گڼل کېږي او د سړي عزت، عفت او انسانیت په کې خوندي وي، چې خپلواک وي او د سوکاله وطن او سوکاله ژوندانه یو معیار او اصل هم خپلواکي ده، لکه چې وایي:

پـــه قفـــس کـــې مـــې بلبـــل ولیـــد پرکالـــه
ور نـــژدې شـــوم چـــې خبـــر یـــې شـــم لـــه حالـــه
پنجـــرې تـــه یـــې مښـــو که اچولـــه
لـــه حســـرته یـــې واهـــه ســـر لـــه دېوالـــه
مـــا وې څنگـــه پـــه ژړا یـــې را تـــه وایـــه؟
د گـــل یـــاد دې ژړوي کـــه خپلـــه ځالـــه
وې یـــې خپلـــه ځالـــه هـــر چـــا تـــه جنـــت وي
هـــر یـــو ژوی پـــه خپـــل کـــور کـــې وي خوشـــحاله
لیـــونی عشـــق کـــړي د کـــور اندېښـــنې هیـــرې
ســـرو کـــاریـــې کـــړي لـــه حســـن و لـــه جمالـــه
خـــو تـــر هرڅـــه چـــې خـــوږه وه ازادي وه
د کـــافر دې ســـېکه نـــه وو ځـــي لـــه بالـــه
کور بـه څـه کړې، بڼ بـه څـه کړې، گل بـه څـه کړې؟
چـــې محـــروم شـــې لکـــه زه لـــه اســـتقلاله
(۲:۲۴۲)

خـو دې ټولـو تـه پـه پـام سره استاد پسـرلی د ټولـو موجـودو نـاخوالو، بدمرغیو، ورانیو او نـاورینونو لپـاره یو داسې فورمول وړاندې کوي، چې د

وطن د هر اړخیزې پرمختیا، سوکالۍ، نېکمرغۍ او ودې نتیجه ترې لاس ته را ځي او هغه فورمول داسې دی:

چې فضا پر سر اخیستې مړه باد او ژوندی باد وي
هغه قام به بختور وي، هغه خلک به اباد وي
چې قانون لري، قانون ته سر د لویو وړو ټیټ وي
که مومن وي که ترسا وي، تل دې خوښ او تل دې ښاد وي
چې وطن ګڼي د ټولو، غم یې هم ګالي په ټولو
د هر چا په کې وي خوښه د هر چا په کې مراد وي
نه خبرې بندوي څوک، نه هر څه د چا مني څوک
تعمق وي_ تدبر وي_ اختیار وي، انتقاد وي
ښه شېوه ولسواکي ده، نوره درسته چالاکي ده
چې د توري په خوله پایي یا قصاب وي یا جلاد وي
نعمتونه د رب ډېر دي، ازادي یې عصاره ده
چې د خدای نعمت ترې اخلي یا فرعون یا شداد وي
که په هر نامه څوک راشي په ترلي ګرېوان نه ځي
سرانجام یې مختوري ده چې ولاړ په استبداد وي
که شاهي که جمهوریت وي، چې حاکم په کې ملت وي
مطابق به د فطرت وي چې افکار په کې ازاد وي
(۲:۳۹۶)

په ټولیزه توګه د استاد پسرلي د شعر او شاعرۍ له مخې ویلی شو، چې نوموړی یو بې پرې یا ناپېیلی سیاستوال او پر وطن مین شاعر دی. ځکه ده د روسي ښکېلاک او له هغه ښکېلاکه د زېږېدونکو حکومتونو یوه پلوي هم نه ده

کړې او ان تر هغه وروسته په افغانستان کې د مجاهدینو د بریالیتوب پر مهال د مجاهدینو د حکومتونو او بیا وروسته د طالبانو د اسلامي تحریک پر مهال یو بې طرفه او منتقد سیاستوال پاته شوی دی. بدو ته یې بد ویلي او ښو ته یې ښه ویلي دي.

**اخځونه**:

۱- پسرلی، محمدصدیق: د ځان په اړه د محمدصدیق پسرلي څرګندونې، غزلبڼ شاعر ( د مقالو ټولګه) د ادم خان سیرت په زیار. وردګ ولایت مقام، ۱۳۹۱لمریز.
۲- پسرلی، محمدصدیق: ۱۳۹۰ ل. غزلبڼ. کابل: افغان مسلکي مطبعه، خپرندوی، د وردګ ولایت مقام.

يونس تنوير

# کلاچوي او کلاسیکیت

د کلاسیکې دورې په اړه به مو اوریدلي وي، چې په هره مرحله کې د منلو وړ ادبیات لري. یوازې همدا بسنه نه کوي؛ ځکه چې د ادب ټوله خوا په ستاینو، پوره کیدونکې نه ده؛ نو بیا ددې دورې د پاتې کېدو، اصلي مزاج په څه شي کې دی؟ دا خبره به ډېره ستونزمنه وي. ځکه تر اوسه مو داسې کتابونه، نه دي تر سترګو شوي چې ددې دورې اصلي څېره دې را ښکاره کړي. د کلاسیکې شاعرۍ تر ټولو مبهمه خوا، همدا توصیفي تعریف دی. که مو کلاسیک ادب لوستی وي؛ نو ددوی له شاعرۍ را ته څرګندیدای شي. مګر کله خو داسې فکر راشي، چې چا په کلاسیک ادب څه لیکلي وي. ددې ادب روح ته به بیخي، نه وي ور دننه شوي. یوازې لومړنیو ادبپوهانو چې ددې دورې په شاعرۍ کومې توصیفي او تاریخي خبرې کړې دي، په هغه به یې بسنه کړې وي. په دې کې ځینې استثنات شته، چې هغوی د موضوع مطابق په یوه خوا غځېدلي دي.او ښه یې تشریح کړې ده. مګر اکثره پکې هوایي خبرې دي.

موږ لا تر اوسه دغه جاج هم نه دی اخیستی چې ولې د روښاني ، خوشال خان خټک او هندي سبک په پله، د رحمان بابا د سبک پلویان ډېر دي؟ د خوشال بابا او

روښاني غورځنګ. یو څه پلیونې شته، مګر دهندي د سبک پلیونې ولې په راوروستو وختونو کې د رحمان بابا تر پلیونو بیخي کم دي؟

ددې دوو، سبکونو ترمنځ د پرمختګ او وروسته پاتي والي لامل د پښتو ادب، ملا هم شله کړې ده. هغه داسې چې د رحمان بابا د سبک پلیونو د رحمان تر هنره، دومره عاجزه شاعري وکړه چې یوازې یې د ممبر خبرې ګڼلی شو. جزیت معیار نه شي کیدای. هغه د استاد غضنفر خبره، په سلو خبرو کې یوه خبره، طبعاً ښه وي. ددې ډلې په لارویانو کې یونس خیبري او معزالله مومند یو څه غښتلي و. مګر د هندي سبک په پرتله دا دواړه ښاغلي کم رنګه حسابیدای شي.

سوال دا دی چې ولې د رحمان بابا د هنر تر معراجه یې لاروي، ونه رسیدل؟ له بل پلوه د هندي سبک لارویو په پښتو ادب کې، نه یوازې دا سبک بشپړ کړ؛ بلکې هنر او شعریت یې هم له خپلو تجروبو، هم مهاله ور سره یو ځای کړل. او په پښتو ادب کې یې یوه ښه شاعري را وپنځوله. چې ښه نمونه یې کاظم خان شیدا او استاد پسرلی دی.

همدا وړ د خان بابا او بایزید روښاني پلیونو د خپلو مرشیدینو هنرونه یې، که ترې لوړ، نه کړل؛ خو ځوړ کړي یې هم نه دي. چې عبدالقادر خټک ، اشرف خان هجري، میرزاخان انصاري، مخلص او واصل یې ښې نمونې دي.

د روښاني غورځنګ مشر خو په شاعرانو کې د ستاینې ځای نه لري؛ خو د تصوف او رهبرۍ تر ټولو ستر او بې ساری مشر یې ګڼلی شو. خو د روښاني شاعرانو په لړ کې چې شاعري یې ددوی څخه د مخه، روښاني ملفوظاتو ته ځانګړې کړې وه، دا درې پورتني شاعران د ستاینې ځای لري.

دا چې د رحمان بابا پلویانو د رحمان بابا هنر نمایي ونه کړه؛ ممکن درې علته وي.

۱- انسانان شهرت طلبه وي. د رحمان بابا شاعري په پښتنو کې يو سحر آميز بيان و او خلک ورته زيات قايل و؛ نو ځکه اکثرو پښتنو شاعرانو د رحمان بابا پلوي وکړه.

۲- دوهمه خبره به داوي چې د پښتنو د پوهې کچه ټيټه وه. د حميدمومند او کاظم خان شيدا په هنر نمايي ښوک دومره نه پوهيدل. لکه د رحمان بابا په شاعرۍ.

۳- او بل دليل يې دا هم دی چې د رحمان بابا ډېره شاعري ولسي انداز لري. او ولسي انداز عامو خبرو ته ډېرې نږدې وي. نو د عامو خلکو ساده او روانې شاعرۍ ته تمايلات زيات ول؛ نو ممکن د پښتو ادب د هنر او شعريت د معيار د راټيټېدو يو علت همدا هم وي. چې شاعرانو د رحمان بابا شهرت وليده او دده پيروي يې غوره کړه، مګر نه خو رحمان شول او نه جانان او بيا ان تر معاصره د هنرونو او شعرونو مخه وعضونو، مدحو او نصيحتونو ونيوله، مګر معاصره دوره د کلاسيک ادب، له هېرو شوو هنرونو را شروع کيږي. خو حمزه بابا په کې داسې کمال وکړ، چې بيخي يې پوله ورسره وتړله. د حمزه بابا د معاصرانو هنر نمايي هم کمه نه وه. په کلاسيکي هنرونو يې خپل مضامين وتراشل او په يو نوي انداز يې د ټولنې ذوقي بصيرت را پورته کړ. چې د همدې ډلې ښخه يو هم طاهر کلاچوی دی.

طاهر کلاچوی په پښتو ادب کې هغه نوم دی چې ډېرو کره کتونکو پرې خولې پټې دي. دده دري آثار مې ډېر په کړاو پيدا کړي دي، چې په شاعرۍ کې يې کلاسيکي خوندونه هم پيدا کولای شو. حمزه بابا يې په مضراب سريزه کښلې ده، چې دی يې د خپل دور د غزل يو مجتهد استاز بللی دی.

طاهر کلاچوی د معاصر دور يو داسې شاعر دی، چې د کلاسيک دور د ډېرو سبکونو خوبي پکې شته. نو همدا وجه وه چې ده ته مو، د کلاسيک انداز د شاعر نوم ورکړ.

په کلاسیک ادب کې ځینې تشبیهات کلتوري او زماني رنګ لري. معنا دا چې د خپل کلتور سره یې موازي خبرې کړې دي. دا خبره په دې معنا نه ده چې ګوندې بیخي دې نړیوالتوب معیار مات شوی وي، مګر تر ډېره یې د خپل کلتور ځپانده خوا لري. او طاهر همدا هنر لري؛ خو ښه په خوند سره خوندي کړی دی. تاسې یې لاندې بیتونه وګورئ:

ځکه نه دي چا لیدلې زما اوښکې
سترمنې جونه نه وزي بهر ته
***
ظاهرېږي د ستا حسن له نقاب هم
نه پټېږي لمر په غېږ کې د سحاب هم
(طاهر کلاچوی)

زموږ د دین ټولنیز تهذیب، یوه لویه ښیګڼه همدا ده چې نجونې مو سترمنې دي. او بیا دا خاصه په پښتنو کې تر بل هر قوم غښتلې ده. دغه نیک کار مو د اسلام له مقدس دین څخه هم رومبنی دی. زموږ د کلتور همدغه خوبي د شعر په لطافت کې هم په زړه راښکونکې بڼه، را وړل شوې ده. همدغه تهذیب مو د کلاسیک ادب په ټولو سبکونو کې شته تاسې د شیدا او رحمان بابا دغه بیتونه وګورئ:

د حباب په شان تمام له شرمه آب شي
که یې لرې چیرې باد دمخ نقاب کا
(کاظم خان شیدا)

رحمان حسن د یار وینم په پرده کې
نه پټېږي نور د شمعې په فانوس
(رحمان بابا)

د شیدا او رحمان بابا د بیتونو انداز بیل دی. یعنې طرز یې بیل دی؛ خو د طاهر او رحمان بابا د بیتونو انداز یو دی. هغه داسې چې شیدا د پښتنو همدا کلتور په تشبیه کې را نغښتلی دی. مګر رحمان بابا او طاهر کلاچوي همدغه تهذیبي خوبي په تمثیل کې تغښتې ده. یعنې د طاهر لومړي بیت اوښکې د سترمنو جونو سره تمثیل شوې دي. یعنې همدغه سترمنې جونه یې د اوښکو لپاره یو دلیل را وړی دی. او دوهم بیت کې حسن له لمر سره تمثیل شوی دی. یعنې د حسن لپاره یې د لمر دلیل را وړی دی او همدا ډول رحمان بابا، مهربان حسن ته د فانوس دلیل را وړی دی. چې په تمثیل کې یې را وستلای شو. همدغه تمثیل د کلاسیکې شاعرۍ یو انداز دی، چې طاهر کلاچوي په پوره مهارت را وستی دی.

د کلاسیک ادب یوه بله ښیګڼه دا ده چې د قافیې او ردیف سره د خبرو تسلسل ماتوي. ګورئ یو د مسرو ترمنځ ارتباط او تسلسل دی چې د بیت معنوي تړاو پیاوړی کوي. او بل د بیت د خبرو تسلسل دی.

د غزل لومړنی معیار دا و چې ټول غزل به یوه موضوع بیانوله، چې را وروسته همدغه دود مات شواو هر بیت، به یې یوه موضوع تراشله.

خو د خوشال بابا د شاعرۍ په پیدا کیدو، د بیت ترمنځ د خبرو تسلسل هم یو څه ټکنی شو. په روښاني شاعرانو کې دا دود تر ډېره جاري و. خو د هندي سبک په راتګ سره د خبرو تسلسل په غزل کې بیخي کم رنګی شو. که چېرې دغه شاعري مطالعه کړو؛ نو دغه شی به په کې زیات وګورئ. دغه د خبرو تسلسل شاعرۍ ته سیمبولیک ارزښت ورکوي. دغه شی سیمبول نه دی. معنا دا چې سیمبولیک کردار لري او سیمبول په یوه کلمه کې څو مدلولونه راوړلی شي. دغه شی شاعري تصویري کوي او د تصویر،

مفهوم زیات او کلمې یې کمې وي. او دغه شی د شاعرانه ژبې اختصار پیدا کوي. کله چې د شاعرۍ الفاظ کم او مفهوم یې زیات وي؛ نو سلاست را ولاړوي. او طاهر کلاچوي د غزل همدا کمال ډېر خوندور را اخیستی دی. تاسې د طاهر او بیا د کلاسیک ادب د یو څو سبکونو دغه بیتونه وګورئ:

زندګي د مسلسل حرکت نام دی
په یو ځای دریدی نه شي سیلابونه
***
لږ خرام ته د خوبانو خو وګورئ
ته به وایې چې روانې میکدې دي
***
د خندا سلسله مه ختموه خانده
داسې نه چې د سپرلو عمرونه کم شي
(طاهر کلاچوی)
په جنت کې هم دحورو صفت کیږي
که طالب د ښه نګار یمه په ځای یم
(خوشال بابا)
که د ښکلو په دربارمخ رونې غواړې
ایینې غوندې کړه تور په خاکستر مخ
(حمید بابا)
صاف دلانو لره لږ نصحت بس دی
د ګوهرو پیوستون په نري تار شي
(رحمان بابا)

مرده دل یې د جمال تماشا څه کا
د مجنون تصویر ادا دلیلا څه کا
(کاظم خان شیدا)

پورتني بیتونه د خبرو تر منځ تسلسل، نه لري؛ ولې د مسرو تر منځ یې تسلسل غښتلی دی. هغه داسې چې طاهر صاحب د لومړي بیت په لومړۍ مسره کې د ژوند د دریدو او بې همتي رد کوي. او وایي چې ژوند په یو ځای ودریدل نه دي. بلکې ژوند د حرکت او پرمختګ نوم دی. دا یوه خبره ده چې د ژوند لپاره یې په لومړۍ مسره کې راوستې ده، مګر همدې بیت په دوهمه مسره کې بیا بله خبره کوي. او وایي چې سیلابونه په یو ځای نه شي دریدلی. دغه دواړې خبرې بیلابیل پیغامونه لري. چې په یوه بیت کې راغلې دي. خو د مسرو تر منځ یې ارتباط شته، چې د ژوند د پرمختګ لپاره یې د سیلابونو مثال راوړی دی.

او دوهم بیت یې هم همداسې دی. او د کلاسیک ادب په پورتنیو بیتونو کې هم دا خوبي شته. چې طاهر کلاچوي په ډېر هنر سره تر سره کړې ده. تاسې دغه بیت هم وګورئ چې د خبرو ترمنځ یې تسلسل شته؛ مګر شعریت او پراخ مفهوم په کې نشته:

هر فالګر ته لاړم ته مې وغوښتې
دغه یو مې فال و بل مې نه کاوه
(صدیق احمدزی)

ددې بیت مفهوم یو دی. مګر کلمې یې ډېرې دي. د عامو محاورو تسلسل یې غوره کړی دی. او دا خبرې یوازې په قافیه او ردیف باندې تړل شوې دي. یعنې د پیغام اصلي مرکز یې قافیه او ردیف دي؛ خو د پورتنیو

بیتونو سره یې توپیر، په دې کې دی چې په هغو کې مضامین زیات دي، مګر کلمې یې کمې دي، چې د عامو خبرو معیار یې مات کړی دی. محاورې یې شاعرانه ځانګړنې لري.

طاهر کلاچوي له دوزه شپاړسم کال، په را دېره کېدو سره، څلور دیرش کاله پخوا وفات شوی دی. د مینې غیږ، مضراب، د حسن لمن یې شعري ټولګې دي. په پښتانه لیکوال کې مرحوم بینوا صاحب د ده په ژوند یو څه رڼا اچولې ده. پلار یې صوفي مزاجه سړی و. د ده اشعارو کې تر بل هر مضمون صوفیانه مضامین ډېر دي. هغه د هیواد مل صاحب په حواله چې تصوف د یوه مسلک په توګه په کلاسیک ادب کې را زرغون شوی دی.

**د صوفیانه کلام د حیرت انداز**: دا د طاهر کلاچوي هغه ښېګڼه ده چې کلاسیک انداز لري. په کلاسیک ادب کې عمومًا د حیرت مضمون د عشق په اوږو، بار شوی دی او عشق یې یو داسې مرحلې ته رسولی چې (په هرڅه کې ننداره د هغه مخ کړم) د عشق لوړېدل، یو داسې حیرت زېږوي، چې د تصوف دوه لویې نظریې را منځته کړې دي، چې هغه د وجود او شهود نظریې دي او دا کار لاشعوري کوي. تر څو شاعرانه انداز وزېږوي. تاسې د رحمان بابا دا بیت وګورئ:

عشق په هسې رنګ مقام باندې قایم کړم
چې وصال دی که بیلتون دی نه پوهیږم
(رحمان بابا)

مګر طاهر کلاچوي صاحب هم د غه حیرت د پرتلنې په ډول راوړی دی. او یو بل مضمون یې هم پکې پنځولی دی، چې هغه مینې ته، تر عقله ترجیح ورکول دي. تاسې دا بیت وګورئ:

مینه مې هر شي کې خط وخال د جانان وینې
عقل مې تر اوسه خپل صنم نه پېژني
(طاهر کلاچوی)

طاهر که څه هم د کلاسیک ادب مضامین راوړي دي، یوه لویه خوبي یې دا ده چې، په هغه کې یې خپل انداز شامل دی. یو پخواني مضمون په یوه نوي طرز کې وړاندې کول، مضمون افریني ده. تاسې دغه بیتونه وګورئ:

چې باطن یې ځلاند نه شو په دیدن ستا
یم حیران دا ییني بد نصیبي ته
(طاهر کلاچوی)

چې تا وګوري مین دربانديې نه شي
هغه زړونه غونډي کاڼي د بیدیا دي
(خوشال بابا)

د یار مخ هر لورې جلوه کا لکه لمر
نه یې ویني غافلان لکه شپر
(کامګار خټک)

په کلاسیک ادب کې د مخاطبې شاعرانه انداز ډېر خوندور دی. تاسې یې دا بیتونه وګورئ:

په ښه خوی سره دخلکو افسانه وې
خدای زما له کم بختیه په زړه سنګ کړې
(رحمان بابا)

د لاله غونډې مې داغ د بدن جز دی
در ته چا وې چې زما د سوز دوا کړه

(کاظم خان شیدا)

چې جمال و ته دې ګورم حیرانیږم
خدای په ما باندې یو سف د زمانې کړې

(خوشال بابا)

جستجوی کړم ستا دمخ په دواړه ځایه
که کعبې که بتخانې ته تګ و پوی کړم

(حمید بابا)

او بیا تاسې د طاهر کلاچوي شاعرانه مخاطبې ته وګورئ:

ستا دحسن کیفیت ته حیرانیږم
چیرته کار کړي د مرهم چېرته نشترشي

***

دا نسته مې لیونتوب را سره مل کړو
ګني پوی یم دژوندون په فلسفې هم

***

زړه په ما پورې خندل چې مین نه و
اوس به زه ور پورې خاندم زما وار شو

(طاهر کلاچوی)

نو طاهر صاحب په هم هغه لوړ هنري انداز یې شعر کړی دی. او دغه د کلاسیک ادب، یو داسې انداز دی چې هم شعریت لري. او هم د هغې صحنې یو خیالي انځور مو ستر ګو ته دروي. او همدغه شی د مشاهدې انځور دی. او مشاهده د یوه شي د فطرت انځور ګري کوي. نو د لوېې شاعرۍ همدا ځانګړنه

تلپـاتې او لا محـدوده وي. او بیـا چـې پـه کلاسـیک ادب کـې مخاطـب غایـب شوی دی، طاهر کلاچوي په ډېر لطافت سره، دغه انداز خپل کړی دی :

د بې نیازو په نیاز څه امید د کړو دی
زه پرون سلطان خسرو وم نن پرهادیم
(رحمان بابا)

بدر گه که محبت را سره نه وای
یک تنها به په خونخوارو لارو تلل څوک
(خوشال بابا)

عشق تغیر او تبدیل نه لري یک رنگ دی
د اشنا دلاسه داد وي که بېداد
(رحما ن بابا)

لږ خرام ته د خوبانو خو وګورئ
ته به وایې چې رواني میکدې دي

***

بوراګان به چمن پرېږدي که خبر شول
چې له ګلو ښایسته مخونه هم شته
(طاهر کلاچوی)

د پورتنیـو بیتونـو، لـه همـدغو دوو انـدازونو پرتـه د بحـر، ورتـه والـی هـم لـري. د سـبک پـه تـاکلو کـې همدغـه د بحـر ورتـه والـی هـم پـه نظـر کـې نیـول کیږي.

طاهر کلاچوي د کلاسیک ادب، هم په موضوعي لحاظ او هم یې په فني لحاظ پوره وړ دی. او په همدغو شاعرانه اندازونو باندې یې، خپل مضامین بار کړي دي، چې تر هنره یې رسولي دي.

طاهر کلاچوي د معاصرې زمانې د کلاسیک انداز، یو پیاوړی شاعر دی. مګر د مقالو لمن هومره پراخه نه وي. چې پوره بحث دې پرې وشي. خو طاهرصاحب د معاصرې شاعرۍ، نوښتونه هم لري. چې هغه بیا بیل بحث غواړي.

**اخځلیکونه**:


۱- پښتانه لیکوال، عبدالروف بېنوا، ۲۴۱ مخ.

۲- سرمحقق زلمی هېوادمل: د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغونې او منځنۍ دورې)، دانش کتابتون، پېښور، لړم -۱۳۷۹هـ نومبر-۲۰۰۰ م کال.

څېړندوی رفیع الله نیازی

# د ژبې د پیدایښت په اړه ځینې نظریې

په دې مقاله کې به لومړی په لنډه توګه دژبې پر تعریف سربېره د بېلابېلو پوهانو نظرونه را واخلو، وروسته به وګورو، چې قرآن کریم او د اسلام مبین دین دژبې د پیدایښت په اړه څه ویلي دي او په دې ډول به دغه موضوع لنډه وڅېړو.

ژبه انسانانو ته د الله تعالی یوه بې ساري او بې مثله ډالۍ ده. دژبې له کارونې پرته انساني تمدن او پرمختګ نه رامنځ ته کېږي، ځکه هر مهال او په هر ځای کې له فکر، مغز، عبادت ، خیالونو، اړیکو او له نورو انسانانو سره د خبرو کولو پرمهال له انسانانو سره مله وي . ژبه د پوهې زېرمه او د فکر کولو وسیله ده، له یوه نسله بل ته د علومو، حالاتو، پېښو او معلوماتو لېږدوونکې ده، د انسانانو تر منځ د اړیکو جوړولو او نه جوړولو وسیله ده. دا ژبه ده چې د انساني ژوند د خوند مالګه وربرابروي، ځکه چې

پرته له ژبې به انسان د یوه ګونګ ښاروي په څېر وای . دا د انسانانو ورتیا ده ، چې د تورو، الفاظو او کلمو په جوړولو سره ځانونه له حیواناتو نه توپیروي . په علوموکې د ژبپوهنې علم ژبه مطاله کوي، نو یوه ژبپوه او د ژبپوهنې مینه وال ته په کار دي، چې ژبه وپېژني ، ځکه چې ژبه د انساني غړونو یو خور او پېچلی سیستم دی ، نو ژبه څه ته وایی : " د غږیزو او اوریزو سېمبولونو یو داسې کسبي او اتفاقي سیستم دی ، چې د یوې ټولنې وګړي یې یو له بله د پوهولو او راپوهولو لپاره پر ژبه راوړي او یو بل ته یې اوروي ". (۱)

" ژبه په لغت کې د غوښې یوه ټوټه ده ، چې دننه په خوله کې پرته د خوراک ښنباک د مزې کتو له کبله د ذایقې خاصه بلل شوې ده اما په اصطلاح کې د پښتو « ژبه » د یوناني لوګوس «Logos » د انګلسي لېنګویچ « Language » او د عربي « لغت » هغه سم شوي اوازونه دي ، چې د غږیز جهاز د بېلو بېلو مخارجو نه په ځانته ځانته بڼو را ایستل کېږي او د انسانانو ترمنځ د یو بل د پوهولو او راپوهولو یا مطالبو ، افکارو ، خیالاتو او احساساتو د ښکاره کولو لپاره استعمالېږي، مګر څرنګه چې په خبرو او ګړېدا کې د ژبې برخه ډېره ده نو له دې کبله دغه اله ، چې موږ د افکارو، خیالاتو ، مطالبو او احساساتو د ښکاره کولو یا د یو بل د پوهولو او راپوهولو وسیله وبلله د « ژبې » په نامه یاده شوه ".(۲)

که په لنډ ډول ووایو نو ژبه د پوهولو او راپوهولو داسې وسیله ده ، چې انسانان پرې په خپلو کې اړیکي ټینګوي ، خپل خیالات نورو ته بیانوي او د نورو د خیالاتو او غوښتنو ځواب پرې وایي.

د ژبې پیدایښت، د پیدایښت تاریخ یې، دا چې د لومړي ځل لپاره ژبه څه ډول پیدا شوه ، د ژبې د پیدایښت په اړه نور مسایل او پوښتنې د ژبپوهنې د ځینو پوهانو له نظره لږ څه توپیر سره لري، خو د اسلام د مبین دین پرینسټ یې ځوابونه لکه د لمر په

ښېر روښانه او څرګند دي . وړاندې له دې چې د څرګندوالي په اړه يې وغږېږو اړينه بريښي ، چې د ژبې د پيدايښت په اړه له ځينو نظرياتو خبر شوو. يو شمېر هغه خلک چې نن سبا په نړۍ کې د ژبپوهانو په نامه مشهور دي او يا د دغه علم بنسټګر بلل کېږي د ژبې د پيدايښت په اړه په يوه خوله نه دي . " پوهان او د ژبې څېړونکي په دې نظر دي، چې لومړنيو انسانانو د مرغانو او ځارويو په څېر اوازونه له خولو ويستل ، يو شمېر پوهان پر دې ټينګار کوي او وايي، چې انسانانو په لومړيو کې په خپل چاپېريال کې د اورېدونکو غږونو پيروي کوله يا به يې داسې اوازونه له خولو ويستل، لکه څنګه به چې د دوی په محيط کې موجود وو. د پوهانو په اند ژبه د کوم پلان او تړون په اساس منځ ته نه ده راغلې، بلکې د انسان د اړتيا له مخې جوړه او منځته راغلې ده". (۳)

" ژبپوهان وايي چې کله انسانان يوازې وو او څوک ورسره ملګری نه وو ، نو د تکلم او خبرو ضرورت نه و، خو کله چې انسانان دوه شول نو د ژبې ابتدا وشوه ، د اتصال او کميونېکشن لپاره د ابتدا ضروري هم وه، کله چې انسانان ګڼ شول نو په دغه وخت دغه يوه ژبه چلېده، خو کله چې د هغوی اولاد په لرو لرو غاړو خور شو نو دا ژبه يوه پاتې نه شوه ډېرې ژبې سازې شوې، ځکه د حالاتو، مسافاتو نورو عواملو له لحاظه ژبه په دمه دمه بدلېږي". (۴)

يعنې دا چې د ټولنې له رامنځ ته کېدلو سره سمه ژبه هم منځ ته راغله.

لرغونپوهان وايي ميليونونه کاله کېږي، چې انسانان د ځمکې پرمخ ژوند کوي .ځينې پوهان وايي، لومړني انسانان له وحشي او داړونکو ژوو څخه وېرېدل نو د دې لپاره ، چې د حيواناتو له شر څخه ځانونه وژغوري يو ډول اوازونه يې په خپلو کې سره جوړ کړل او تر هغې وروسته به يې د ګواښ او خطر پر مهال هماغه اوازونه کارول او نور انسانان به يې خبرول ، چې له ګواښ سره مخامخ دي چې ځانونه بچ کړي .د ژبې د پيدايښت په اړه دې ته ورته ډېر نور نظريات وړکړل شوي او وروستنيو ژبپوهانو يا

هغو خلکو، چې لږ تر لږه یې له ژبپوهنې سره سروکار دی د پخوانیو هغو په پېښوهمدغه نظریات په خپلو اثارو کې دژبې دزده کړې مینه والو ته وړاندې کړي دي.

دژبې د پیدایښت په اړه په مذهبي لحاظ او په ځانگړي ډول زموږ مقدس دین اسلام هم خپل نظریات لري، په دې برخه کې د هر عالم نظر پر خپل ځای خوندي او خپل حیثیت لري، لویدیځ ژبپوهان ښایي دژبې د پیدایښت په اړه له اسلامي نظریاتو سره اشنا نه وو نو موږ ته لازمه ده ، چې په یوه اسلامي ټولنه کې ژوند کوو او د خپلو راتلونکو نسلونو د روزنې مسوولیت پر غاړه لرو په دې برخه کې هم د بهرنیو ژبپوهانو نظریات مخې ته کېږدو او هم اسلامي نظریات نو همدغه اصل ته په پام سره د لوېدیځوالو ژبپوهانو نظریات مو وړاندې ولوستل، خو د اسلام د مبین دین مقدس کتاب قرآن عظیم الشان پر دغو نظریاتو د بطلان کرښه کاږي . د قرآن کریم وینا او ارشادات د الله (ج) وینا ده او هېڅ ډول شک او شبهه په کې نشته، هر هغه څوک چې ترې انکار کوي د همدغه قرآن د ارشاداتو په وینا چې د مسلمانانو له ډلې نه دی . دلته موږ ددې خبرې د اثبات لپاره د قرآن کریم څو ایاتونه ذکر کوو ، چې په صراحت سره د ژبې د پیدایښت تاریخ او څرنگوالی ترې څرگندېږي، د قرآن کریم د لومړۍ سپارې په بقره سورت کې راغلي دي : " وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا ". (٥)

ژباړه : کله چې الله پاک ادم علیه السلام خلق یعنې پیدا کړ، نو هغه ته یې د ټولو شیانو نومونه وروښودل .

همدا راز د قرآن کریم د اوه ویشتمې سپارې په رحمن سورت کې راغلي دي : "خَلَقَ الْإِنسَانَ () عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ". (٦)

ژباړه : الله پاک انسان پیدا کړ او هغه ته یې بیان یعنې د خبرو کولو چل وروښود. د قرآن کریم د دېرشمې سپارې د البلد سورت په نهمه شمېره ایت کې الله پاک د هغو

نعمتونو یادونه کوي ، چې انسانانو ته یې ورکړي دي : " أَلَمْ نَجْعَل لَّهُ عَيْنَيْنِ ( ) وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ". (۷)

ژباړه : ایا نه دي ورکړي موږ ده ( انسان ) ته دوه سترګې او ایا نه ده ورکړې موږ ده ته ژبه او دوه شونډې ، چې خبرې پرې کوي او نورې اړتیاوې پرې پوره کوي . مفسرین وایي ، چې په پورتني ایات کې د لسان له کلمې څخه موخه یوائې هغه ژبه چې د غوښې یوه ټوټه ده مراد نه ده ، بلکې د لسان کلمه ، هم د غوښې دغې ټوټې او هم هغې ژبې ته چې انسان یې د اړتیاوو لپاره کاروي ویل کېږي . د قرآن کریم په ابراهیم سورت کې الله پاک فرمایي : " وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ فَيُضِلُّ اللَّهُ مَن يَشَاءُ وَيَهْدِي مَن يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ". (۸)

ژباړه : موږ نه دی لیږلی هیڅ رسول ، مګر لیږلی مو دی په ژبه د قوم د هغه ، د دې لپاره چې دوی ته د الله تعالی دین بیان کړي ، نو الله تعالی لار ورکی کوي هغه څوک ، چې اراده یې وکړي او لارښوونه کوي هغه چاته چې اراده یې وکړي او همدی ښه برلاسی دی د خپل دین په انفاذ او په خپل هر تدبیر کې د بشپړ حکمت والا دی . کله چې ادم علیه السلام خپل قوم ته د هدایت لپاره استول کېده نو د قوم د لارښوونې لپاره پرې صحیفې نازلې شوې . صحیفې لکه د قرآن عظیم الشان په څېر د الله پاک کلام و ، اوس نو د قرآن کریم له پورتنیو ارشاداتو څخه داخبره په څرګند ډول روښانېږي ، چې ادم علیه السلام ته الله پاک ژبه ورزده کړه ، قوم یې ژبه درلوده ، د هاغه قوم په ژبه پر ادم علیه السلام صحیفې نازلې شوې او د الله پاک دین ته یې خپل قوم ورباله ، نو د قرآن کریم د ارشاداتو له مخې ژبه په دغه ډول منځته راغلې او پیدا شوې ده . خوپه دې کې شک نه شته چې ژبه او ټولنه یوه له بلې سره لازمې او ملزومې دي . ژبه پرته د ټولنې له شتون څخه پرمختګ نه شي کولای ، د

ټولنیز ژوندانه، راکړې ورکړې ، د ټولنې دوګړو ترمنځ یو له بل سره اړیکې ټینګول پرته له ژبې شوني نه دي . د ټولنو پرمختګ او وروسته والی دواړه د هماغو ټولنو پر ژبو اغېزه کوي. که یوه ټولنه پرمختللې او متمدنه وي نو په فرهنګي، اقتصادي،سیاسي، تخنیکي، علمي، کلتوري او نورو برخو کې ورسره ژبه هم د پامور پرمختګ کوي، لنډه دا چې ژبه او ټولنه سره نه شلېدونکي اړیکې لري. دا چې ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده او که نه ؟ یو شمېر پوهان وایي ، چې انسانان ژبه په ټولنه کې زده کوي او لومړنیو انسانانو هم د خپلو اړتیاوو پربنسټ ژبه په ټولنه کې زده کړې نو له همدغه امله ورته یوه ټولنیزه پدیده وایي . موږ دژبې د پیدایښت د تاریخ په اړه د قرآن کریم نظریات ولوستل، چې ژبه لکه د نورو مخلوقاتو، کایناتو او پدیدو په څېر الله پاک پیداکړې ، ادم علیه السلام ته یې ورزده کړه او تر هغې وروسته یې پر ادم علیه السلام د هغه د قوم په ژبه صحیفې نازلې کړې .نو د قرآن کریم د ارشاداتو پر بنسټ ویلای شو، چې ټولې ژبې الله پاک پیدا کړي او جوړې کړې دي . انسانان یې په پیدایښت او جوړونه کې هیڅ راز ونډه نه لري او له دې سره په څنګ کې د ټولو بشري ژبو زده کړه الله پاک دلومړي ځل لپاره ادم علیه السلام ته ورکړې وه ، په دې اړه ښاغلی پوهنمل زاهدي احمدزی په خپل اثر « د اسلامي اندود په رڼا کې دژبو او لیک د پیدایښت تاریخ » کې د اسلامي تاریخپوهانو او ژبپوهانو د امام رازي د تفسیر کبیر او د امام سیوطي د اثر المزهر له قوله لیکي ، چې : " حضرت ادم علیه السلام د ګردو بشري ژبو لپاره یو دفتر جوړ کړی و، چې په هغه کې یې لیکلې وې . بیا مخکې له دې ، چې وفات شي هره ژبه یې د خټو پر یوې ځاګړې تختې ولیکله، بیا یې ټولې تختې د اور په بټۍ کې پخې کړې، بیا یې په یوه خونه کې خوندي وساتلې

او کله چې نړیوال توپان راغی نو دژبو هغه تختې یې یوې او بلې خواته یوړې او سره خورې ورې یې کړې . د توپان له پای ته رسېدو وروسته د هغو ژبو د هرې ژبې تخته چې چاته لاس ته ورغله او مینده یې کړه ، نو د میندونکي او هغه نسل هماغه ژبه شوه ".(۹)

په نړۍ کې د بېلابېلو ژبو د شتون په اړه قرآن کریم فرمايي : "وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَانِكُمْ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِلْعَالِمِينَ ". (۱۰)

ژباړه : د الله تعالی د قدرت له ځینو نښو څخه د اسمانونو او ځمکې پیداکول دي او اختلاف دژبو ستاسو دی او بل اختلاف د بڼې او رنګونو ستاسې دی ، بېشکه په دغه اختلاف کې خامخا د الله تعالی د قدرت ډېرې نښې دي د پوهانو لپاره. دغو ټکو ته په پام سره، نو بیا دا نظریه هم ردیږي، چې ژبې په ټولنو کې راپیدا شوي او ټولنیزې پدیدې دي، بلکې د ټولنو لپاره پیدا شوي او د ټولنو وګړي پرې یو له بل سره اړیکې نیسي. د ټولنو له پرمختګونو سره سم د انساني اړتیاوو په پام کې نیولو سره په کې یواځې د اړتیا پر بنسټ بدلونونه راځي او دا لړۍ د انساني ژوند له بهیر سره سمه روانه وي .

**اخځونه**:


۱ – پوهاند مجاور احمد زیار : پښتو پښوویه ، دوهم چاپ ،دانش خپرندویه ټولنه ، ۱۳۸۲ هـ ل ، ۶ مخ.

۲ – پوهاند حبیب الله تږی : دژبې پیدایښت ، کابل (مجله)، دولتي مطبعه ، ۱۳۳۶ هـ ل، ۱ مخ .

۳ – څېړنوال مولاجان تڼیوال :ژبه او ټولنه، دافغانستان علومو اکاډمي، دژبو او ادبیاتو مرکز کابل، ۱۳۸۸هـ ل، ۳۶مخ .

۴ – پروفیسور ډاکټر عارف نسیم : ژبپوهنه، پښتو مجله ، ژبه ، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسیټي، ۲۰۰۵ ز ، ۳۷مخ.

۵ – قرآن کریم ، لومړۍ سپاره ، بقره سورت، ۳۰ایت .

٦ – قرآن کریم ، اوویشتمه سپاره، رحمن سورت، ۲ او ۳ شمېره ایتونه .

۷ – قرآن کریم ، ، دېرشمه سپاره ، البلد سورت، ۸او ۹ نهمه ایاتونه .

۸ – قرآن کریم ، دیارلسمه سپاره ، ابراهیم سورت، ۴ ایت .

۹ – پوهنمل جان محمد زاهدي احمدزی : د اسلامي اندود په رڼا کې دژبو او لیک تاریخ ، امیرکروړ کتابتون ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور ، دوهم چاپ ،۱۳۸۹ هـ ل ، ۹۷.۹۶ مخونه.

۱۰ – قرآن کریم ، نور سورت ، ۲۲ شمېره ایت .

عزت الله اديب

# د څېړنې مېتود

د نن ټولنيز ژوند چې د يو نړيوال کلي بڼه يې خپله کړې ده، په دې کې زمان او مکان، حالات او واقعات يو بل ته دومره نژدې شوي دي، چې يو په بل مستقيم اغيز کوي، ځکه نو هر شی انسان سره د بل شي په پېژندلو کې مرسته کوي. د تير وخت قيصې د راتلونکي د حال په اړه په فکر کولو کې مرسته کوي، ځکه نو د هرې ستونزې د حل لپاره د تېر مهال اصول، او کړه وړه څېړل کيږي. تر هغه چې د نوي تر سره شوي تحقيق په نتيجه کې نوې لارې نه وي وړانديز يا پشنهاد شوې.

کله چې علوم ويشل کيږي نو په عمومي توګه علم په درې برخو ويشل کيږي: لومړی د فطرت علم. دوهم، ټولنيز علوم او دريم باطني علم چې له عقايدو او ايمانياتو څخه بحث کوي. د باطني علومو ځانته بېله دنيا ده، چې په هغه کې عقلي دليلونو ته ځای نشته خو بيا هم په عدل او انصاف باندې د ټولنې د درولو لپاره مذهب په څېړنو باندې ټينګار کوي نو ځکه په قران کريم کې د تفکر او تدبر لفظونه ډير ځای تکرار

شوي دي. اسلام موږ ته په هر عمل یا کار کې د تحقیق او فکر کولو بلنه راکوي. په سورت الحجرات کې خدای تعالی فرمایلي دي:

*ای هغه خلکو چې ایمان مو راوړی دی، کله چې کوم فاسق انسان تاسو ته خبر دروړي، نو د هغه په اړه تحقیق کوی. داسې نه وي چې په ناخبري یا نا پوهي کې چاته زیان ورسوی، بیا به پښېمانه یاست. (الحجرات (۴۹)۶)*

پلټنه او تحقیق یا څېړنه په ظاهري لحاظ هم معنا یا مترادف کلمات ښکاري، خو د عمل په ډګر کې دواړه خورا تو پیر لري. د پلټنې پر مهال د مالوم شي په اړه څېړنه کیږي. د مثال په ډول له کوم چا څخه کمپیوټر ورک شوی دی، د هغه په لټه کې ده چې پیدا یې کړي، دلته کمپیوټر یو مالوم شی دی چې کوم ماډل، کوم رنګ او نور خصوصیات یې.....خو کله چې د تحقیق

یا څېړنې ډګر ته راشو هغه نو بیا بېل کار او خورا په زړه پورې عمل دی. تحقیق یا څېړنه یوازې د حقیقت لټه نه، بلکې څېړنه د مسوولیت، دقت او ریاضت کار دی، چې په منظمه او اصولي توګه تر سره کیږي. که څه هم تحقیق د صداقت موندلو څخه عبارت دی، خو صداقت یوازې په دې معنا نه چې یو کس یې په معروضي توګه وپیژني، بلکې ضروري ده، چې نور خلک هم په ورته معنا پرې پوه شي.

تحقیق عموماً د تخنیک یا هنر له نظره بیانیږي؛ خو اوس د تحقیق د برخې عالمان په دې نظر دي، چې تحقیق هنر نه بلکې علم دی، د تحقیق د کتابونو د مطالعې نه داسې په ډاګه کیږي، چې په نړۍ کې اکثره عالمان تحقیق علم بولي او یوه کمه برخه یې لا اوس هم د هنر په نظر سره ګوري. تر کومه بریده چې د تحقیق د تخنیک خبره مطرح ده، تحقیق په اصولو ولاړ او منطقي عمل دی چې یو ځانګړی مهال او سمت لري او ټول پړاوونه یې له وړاندې ټاکل شوي وي. هدف دا چې د تحقیق د کار

لپاره به یو منظم پلان جوړېږي، هغه پلان به ځانګړی ډیزاین لري او په ډیزاین کې د وړاندې کیدونکو موادو لپاره یوه لنډه خو څرګنده طرحه جوړېږي، چې د هغه وړاندې شویو اصولو سره سم د تحقیق کار تر سره کیږي.

د تحقیق د پیل څخه وړاندې محقق باید په دې وپوهیږي چې دا یو منظم او ترتیب وار کار دی، چې د وړاندې تیار شوي پلان او ډیزاین مطابق به په ټاکلي وخت کې تر سره کیږي. په ټاکلي وخت کې د تحقیق د ترسره کولو لپاره، چې کوم پلان او ډیزاین تیار شوی وي هغه ته تحقیق ډیزاین وایي. د تحقیق ډیزاین په اصل کې د تحقیق په اړه د هغه پوښتنو ځوابونه دي کوم چې د تحقیق د کار د پیل څخه تر مخه را پورته یا پیدا شوي وي. لکه:

۱. د دې څیړنې هدف څه شی دی؟
۲. دا به له کوم ځای څخه پیل کیږي؟
۳. کوم پړاوونه به عملي کیږي؟
۴. په کوم عمل یا پړاو به پای مومي؟
۵. د هر پړاو لپاره کومې قدمې ضروري دي؟
٦. له کومو الاتو او اسبابو څخه به کار اخیستل کیږي؟
۷. د دې کار (د تحقیق د کار) جواز شته که څنګه؟
۸. په دې کار کې د شخصي نظر د نه ګډېدو امکان تر کومه بریده لیدل کیږي؟
۹. دا کار به په څومره وخت کې بشپړ کیږي؟
۱۰. په دې کار به څومره لګښت کیږي؟
۱۱. آیا دا عمل به تر اخره رسیږي او که د ځینو خنډونو له امله به نیمګړی پاتې کیږي؟

تحقیق یو داسې عمل دی، چې خورا په بې طرفه توګه تر سره کیږي او خپله خوښه یا نا خوښه نه پکې ځایږي. د اسلام له نظره په تحقیق کې باید عدل او انصاف څخه کار واخیستل شي او په کوم تحقیق کې چې له عدل څخه کار نه وي اخیستل شوی هغه موثق او تکراریدو وړ نه وي او د ساینسي علومو له نظره، هره نتیجه یا هر عمل چې تجربه او بیا بیا تکرار نشي علم نشو ورته ویلای.

**د څېړونکي لپاره شرطونه:**

هر څوک چې تحقیق یا څیړنه تر سره کوي باید دا په یاد ولري چې عدل او صداقت د ده لپاره تر ټولو اساسي شرطونه دي. زیار او شوق دویم. پوهه، علم او اخلاق وروستني، خو خورا مهم شرطونه ګڼل کیږي. کله چې د څېړنو په برخه کې د شرطونو خبره مطرح کیږي؛ نو د څېړونکي لپاره شرطونه په درې برخو ویشل کیږي:

**بنیادي شرطونه:**

د محقق لپاره د صداقت پر اصولو ایمان لرل، د عدل او انصاف له غوښتنو سره سم کار ترسره کول حتمي او ضروري وي، بل دا چې محقق باید په دې باور ولري چې په نړۍ کې هر څه د پوهیدو وړ دي، هر شی د تغیر او بدلیدو امکان لري او د هر کار څخه د تر لاسه شوې نتیجې پر مټ وړاندوینه شونې ده. هدف دا چې ساینسي عمل د مالومو او پر اصولو ولاړو پړاوونو او قدمو مجموعه وي، په دې معنا چې له یو څېړونکي څخه وروسته بل محقق بیا بیا هغه عمل تکرارولی شي. د یو محقق له خوا وړاندې شوي معلومات عموماً د ډیر تکرار او تمرین کولو حاصل وي، چې نورو محقیقینو ته د هغې نتیجې ازمایل او تکرارول ډیر اسانه او له ستونزو لرې وي.

**منځني شرطونه:**

محقق باید په خپل کار کې ډیر زحمت وباسي او زحمت هغه انسان باسلی شي، کوم څوک چې له خپل کار سره مینه او شوق ولري. د محقق ژوند یو خاص ژوند وي،

چې له صبر او زغم څخه ډک وي، هغه له نورو څخه بیل وي، په هغه کې مینه او علاقمندي وي، د زړه په ریښتوني جذبه کار کوي، د حقیقتونو لټول، څیړنه او نتیجه تر لاسه کول دا ټول د صبر او حوصلې کار دی. د محقق کار له ستونزو او مشکلاتو خالي نه وي، واټونه، وخت، دولت، سیاست، اقتصاد، ټولنه، او ستړیا دا ټولې هغه ستونزې دي چې محقق ورسره مخ کیږي او کله داسې هم پېښیږي چې یو محقق خپل کار تر سره کړي، را پور وړاندې کړي، خو هغه نتیجه غلطه را وخیژي، نو بیا د ټولو موادو شننه، تجزیه، له حقیقتونو سره کتل او استخراج کول دا ټول د محقق د صبر او استقامت ازمایښتونه دي.

**وروستني شرطونه:**

د یو کم تجربه لرونکي محقق لپاره د تحقیق حق ادا کول بیخي مشکل کار وي، ځکه د تحقیق لپاره چې د کومې ورتیا ضرورت وي هغه له ډېر کار او تجربې وروسته تر لاسه کیږي، او د تحقیق د کار په جریان کې تخنیکي پوهه او بلدتیا ډېره اړینه وي. د تحقیقاتي پوهې او تجربې د تر لاسه کولو لپاره محقق بنیادي معلوماتو او پوهې تر لاسه کولو ته ضرورت لري، چې له هغه څخه وروسته له تحقیق سره خورا لوالتیا پیدا کیږي، لکه:

۱. محقق چې پر کومه موضوع تحقیق کوي، نو په هغه کې به خورا غښتلی او پوه وي.

۲. د تحقیق له اصولو څخه به ډېر با خبره وي په خاصه توګه د تحقیق ساینسي اصولو څخه.

۳. په کتابخانو کې به له کتابونو او نورو اسنادو څخه د ګټې پورته کولو یا کار اخیستلو له اصولو سم خبر وي.

۴. د خپلې موضوع په شاوخوا کې به خورا پراخه مطالعه لري، ځکه چې د فرضيې (د فرضيو په اړه په بله مقاله کې معلومات خپروم) د جوړولو د کار لپاره پراخ علم ته اړتيا وي.

۵. د تحقيق وړاندې کول لوی هنر غواړي، د خپلو نتيجو د وړاندې کولو او دفاع لپاره د پوهې، تخنيک او د تحقيق د اخلاقو سره بلدتيا ضروري او حتمي ده.

٦. اخلاقي اصول او قاعدې د څېړونکي گاڼه وي، د کاپي رائټ درناوی نه کول، د نورو د عزت خيال نه ساتل، خپل ځان ته د «زه» ويل، د کلام عفت نه ساتل، د معلوماتو د اخذليک راز او احترام نه کول، د خلکو د کمزورتيا او نقصانونو څخه پرده پورته کول او داسې نورو غير اخلاقي کارونو څخه پرهېز کول د تحقيق له خورا مهمو اصولو څخه گڼل کيږي.

له دې سره دا هم اړينه ده چې محقق په کومه ژبه تحقيق تر سره کوي د هغه لپاره په ژبه پوهيدل او د هغې ژبې له ادبياتو سره بلدتيا ډيره مهمه ده.

**د څېړونکي ځانگړتياوې:**

دمخه مو د عام څېړونکي لپاره درې ډوله شرطونه ذکر کړل، اوس دلته د څېړونکي په ځانگړنو بحث کوو، کوم چې د څېړونکي لپاره د تحقيق په کار کې خورا ارزښت لري. ۱) خوی او خاصيت، ۲) ښه ذهن او، ۳) علمي او اکاډيميک ځانگړنې او وړتياوې.

**طبعيت يا خوی او خاصيت**

څېړونکی بايد د خوی او خاصيت له نظره تحقيقي خوی ولري. کوم څېړونکی چې له کار او هڅو څخه تښتي يا د تحقيق کاري خصوصيات نه لري د هغه د څېړنو کيفيت به ډير ټيټ وي، نو همدا وجه ده، چې يو څيړونکی بايد لاندې ځانگړنې ولري:

### ۱. حق ویل

د یو ښه څېړونکي لپاره دا حتمي ده چې د رښتیا ویلو حوصله ولري، څېړنې د لوبو او ساعت تیرۍ کار ندی بلکې یو مسلک دی. د تحقیق په ټوله دوره کې د محقق لپاره ضروري دی، چې له دروغو، دوکې او ریا کاري څخه ځان وساتي ځکه دا خصوصیات په څېړنیز مسلک کې ځای نلري.

### ۲. تعصب

څېړونکی په هیڅ وجه نشي کولی چې په مذهبي، ژبنیز، قومي یا هم سیمه ایز تعصیب کې ښکېل وي. تحقیق بې طرفه او د عدالت او ریښتونولي پر اصولو ولاړ عمل دی چې که کوم څوک د چا د شخصیت په اړه څېړنه کوي او نوموړی شخص له خپل قوم یا ژبې څخه تیر شوی وي، نو څېړونکی باید هر څه واضح او صفا ولیکي. څېړونکی له سیمه ییز، قومي او ژبنیز تعصب څخه خالي او له دې ناوړه اعمالو څخه لوی شخصیت دی.

### ۳. منونکی

څېړونکی چې د خپلې څېړنې لپاره کومه فرضیه غوره کړي، که چېرته د هغه په خلاف دلیلونه پیدا کیږي، هغه باید ومني او په پوره شوق سره خپل کار ته ادامه ورکړي. موږ د مخه ولوستل چې د څېړونکي کار تل له ربړې سره مخ وي، خو څېړونکی به خپل کار په خورا مینه تر سره کوي او باید منونکی شخصیت و اوسي.

### ۴. دنیاوي لالچ

څېړنې یوائې د علم په موخه تر سره کیږي، هیڅکله باید ګټه، مقام او منصیب یا هم پیسې او دولت د څېړونکي هدف نه وي او د څېړنې کار هم باید له دې اغېزمن نه شي. کله چې کوم شخص خپل علمي سند تر لاسه کړي او د دندې یا هم د معاش په فکر کیني، یا هم کله د یو شخص د ژوند په اړه کتاب ولیکي او د کومې ټولنې لخوا

ستاینلیک تر لاسه کړي. معاش اخیستل یا هم ستاینلیک تر لاسه کول، پرمختګ او منصب د انسان فطري غوښتنې دي، خو د دې فطري غوښتنو په سیوري کې که څېړنې تر سره کېږي، معیاري به نه وي او په داسې متاثره څېړنو اعتماد نه شي کېدلی.

**۵. د څېړنې له موضوع سره شوق او مینه**

دمخه مو هم وویل چې څېړونکی باید د خپل کار سره بې سارې مینه او ولوله ولري او د څېړونکي نظر باید ډېر ژور او دقیق اوسي.

**٦. زحمت ایستل**

د څېړونکي کار تل زحمت، خواري کښل او هڅه غواړي، هغه څوک د څېړنې په کار کې بریالئ وي، چې زحمت باسي او په پوره صبر او حوصلې سره کار کوي. د څېړنو په برخه کې کله کله د لږ کار لپاره د ډېر زحمت ایستلو ضرورت وي. څېړونکی که د ډېر کار او زحمت څخه وروسته کومې نتیجې ته ونه رسیږي، بیا هم په خورا مینې او حوصلې خپل کار ته ادامه ورکوي او د حقیقت موندنې لپاره زحمت باسي.

**۷. مبالغه**

کله کله ځینې خلک یا هم څېړونکي په خپلو ویناوو، کار او د الفاظو په کارولو کې مبالغه کوي. مبالغه د څېړنو په کار کې ځای نلري او د تحقیق کار تل د ریښتیا پر مټ تر سره کېږي او څېړونکی هره خبره، کار او هر لفظ په ډېره عامیانه او پر حقیقت ولاړه بڼه کاروي. څېړونکی حق نلري چې د تحقیق کار چاته د شخصیت ورکولو او یا هم د چا حیثیت او شخصیت ته د زیان رسولو په موُخه وکاروي ځکه دا د تحقیق د سپېڅلي کار سره خیانت دی او دا عمل په ګناه کې شمېرل کېږي.

**۸. اخلاقي زړورتوب**

څېړونکی باید تل حق خبره وکړي. د هیڅ چا له ویرې باید د حق خبره پټه نه کړي. یو څېړونکي ته نه ښایي چې د یو هیواد د ولسمشر، د یو وزارت د وزیر، د یو

ولایت د والي او ان تر ولسوال پورې د چا له ډار او ویرې د حق خبره پټه کړي. که څېړونکی په دې نظر وي چې، که مې استاد پسې څه ولیکم نو کیدای شي ناکام مې کړي، که په قوماندان پسې څه ووایم نو کیدای شي بندي مې کړي، که په یو رهبر پسې د حق خبره وکړم نو د هغه پلویان به ما پسې شي نو په دې حالت کې د حق خبره پټول د څېړونکي له اخلاقو څخه لرې ده. حق ویل د څېړونکي ایماني او مسلکي دنده ده چې باید په پوره زړورتوب یې تر سره کړي. اندېښنه، وسوسه، او ویره د څېړونکي له شان سره نه دي په کار ځکه څېړنې یا تحقیق د زړورتوب کار دی.

**ذهني ځانګړنې:**

د څېړنو په کار کې د څېړونکي ذهني صفات هومره مهم دي لکه څومره چې نور صفات اهمیت لري. څېړونکی باید خپل کار د پوره توجه مرکز وګرځوي یعنې فکر او سوچ یې باید تل متمرکز وي ځکه تحقیق پراخه چورت وهنه غواړي او هغه څوک چې د پراخې چورت وهنې توان نلري، تحقیق دې نه کوي. په څېړنو کې هیڅ شی په هماغه شته بڼه نه منل کیږي بلکې د هغه په اړه معلومات را ټولیږي، څېړنه او پلټنه یې کیږي او له هغه وروسته منل کیږي. همدا وجه ده چې د تحقیق یا څېړنو کار تل له سوال او شک څخه پیل کیږي. یو څېړونکی باید هر هغه څه چې وینې او اوري یې ونه مني بلکې په اړه یې باید څېړنه وشي تر څو حق او باطل مالوم شي.

امام غزالي رح قول دی:

«په مذهب او دیني مسایلو کې پر غیبو ایمان روا دی، خو په تحقیق کې هیڅکله نه».

- څېړونکی باید داسې طبعیت ولري لکه ساینسپوه، د مثال په ډول: ۲ + ۲ = ۴ په دې کې نور د خبرو او شک لپاره هیڅ ځای نشته، د دوو او دوو حاصل څلور دی بس دا ثابته شوې موضوع ده او تل باید همداسې بیان شي.

- د کار مدیریت، د څېړونکي یو بل غوره صفت د کار ښه مدیریت او تنظیم دی یعنې له تیت او پرک معلوماتو څخه، کټ مټ د یو منطقي یا فیلسوف په څېر تحلیل شوې او په دلیل ولاړه پایله تر لاسه کوي.

**علمي او اکاډیمیکي ځانګړنې:**

علمي ګروېږنې د څېړونکي د کار مهمه برخه جوړوي. څېړونکی باید پراخه او ژوره مطالعه ولري، د تحقیق د موضوع تر څنګ باید په نورو برخو کې چې د څېړنې له موضوع سره اړیکه لري، هم پراخه مطالعه او پوهه ولري. د مثال په ډول: که یو شخص د پښتو ژبې په اړه څېړنې کوي نو بایده ده چې په دري یا فارسي، اردو او عربي ژبو هم وپوهیږي، ځکه د پښتو ژبې لرغوني اثار په عربي، فارسي او اردو کې پرېمانه موندل کیږي. د پښتو ژبې د ادبیاتو محصل یا څېړونکی باید په بدیع او بیان وپوهیږي، چې د هغه لپاره د عربي علم او پوهه خورا اهمیت لري. په ټوله کې د څېړونکي د پوهې کچه باید ډېره لوړه وي. تاریخ پوهنه، ټولن پوهنه، انسان پیژندنه، ارواه پوهنه او په نورو علومو پوهه او مطالعه د څېړونکي له غوره ځانګړنو څخه شمېرل کیږي او د تحقیق په کار کې تر ډېره بریده مرسته کوي.

په کوم شخص کې چې دا پورته ذکر شوي ځانګړنې په څومره ډېره اندازه وي او د څېړنو په کار کې یې عملي کړي، په هماغه کچه به یې د تحقیق کار کره او دقیق وي. دا صفتونه د یو تجربه لرونکي او مسلکي څېړونکي لپاره لیکل شوي دي چې باید ویې لري، خو یو نوی څېړونکی هم باید په ځان کې د دې صفتونو د موندنې لپاره هلې ځلې وکړي، او تر ټولو مهمه خبره د طبعیت او مزاج ده، چې یو څېړونکی باید د محقق خوی ولري.

نوي ځوانان یا هغه څوک چې تازه د څېړنو کار پیلوي، باید حوصله له لاسه ور نه کړي، د څېړنې کار د مینې او شوق کار دی؛ نو بایده دی چې په ډېره حوصله او مینه

خپل کار ته ادامه ورکړي. د څېړنيز کار ډيزاين او پلانول، د موادو را ټولو او موندل، د هغوی ترتيب شننه او پلټنه دا ټول کار، وخت او تمرکز ته اړتيا لري چې د وخت په تېريدو سره تر لاسه کېږي. په دې کارونو له پوهېدنې څخه وروسته يو شخص څخه تکړه او مسلکي څېړونکی جوړېږي.

**نوټ:** په دې مقاله کې د څېړنې په «څنګه» او «څه» باندې سره غږېږو، په تحقيق کې د «څنګه» برخه يې هومره ستونزمنه نه ده لکه د «څه» برخه ځکه موږ د څېړنو په کار ځان نه پوهوو او فکر کوو چې پرې پوهېږو.

**د څېړنې يا تحقيق په اړه چورت فرضيه:**

د څېړنو په اړه يوه نظريه شته چې د هغې مطابق موږ ټول څېړونکي يو، ځکه هره ورځ موږ له ځينې پوښتنو سره مخ کېږو چې د حل او ځواب موندلو په موخه يې فکر او څېړنه کوو. کله – کله موږ پوهېږو چې ځواب له کومه پيدا کړو خو بيا ځينې وختونه مجبورېږو تر څو له نورو پوښتنه وکړو، يا يې په انټرنټ کې ولټوو، کتاب يا مجله ولولو او يا هم بېرته خپلو تجربو ته ور وګرځو.

- څنګه بېرته لوړو زدکړو ته وګرځم؟
- نن به د غرمې ډوډی ته څه شی خورم؟
- په رخصتيو کې به چېرته ځو؟
- ولې مې نن سر درد کوي؟

دا، او دې ته ورته پوښتنې زموږ په روزنيز ژوند پورې تړلې دي چې هره ورځ ورسره مخ کېږو . داسې پوښتنې موږ ټولنيز څېړنه ته تياروي او مجبوروي مو چې د ټولنې د اړتياوو او ستونزو د ښه پېژندلو په موخه پوښتنې وکړو او معلومات تر لاسه کړو. په دې برخه کې د ټولنيزو څېړنو په اړه لولو او په دې ځان پوهوو چې د څېړنو د کيفيت څخه مو هدف څه شی دی.

د څېړنو په برخه کې له «**څنګه**» څخه پر «**څه**» ځان پوهول ستونزمن کار دی، یعنې څېړنیز کار **څنګه** تر سره کړو له دې ډېر اسانه دی چې تحقیق **څه** شی دی. دا ځکه، مونږ تل په دې باور یو چې د څېړنو له کار سره بلدتیا لرو او پرې پوهېږو نو ځکه د دې اړتیا نه محسوسوو، چې باید سم راته تشریح شي او یا ځان پرې پوه کړو. دا یو ډېر بد نظر او فکر دی. د څېړونکي یو له غوره ځانګړنې څخه دا دی، چې باید په هر څه ځان پوه کړي او بیا یې عملي کړي، که چېرته داسې نه اووسو نو تل به له ربړو سره مخ اوسو ځکه، تل هغه څه په لاس نه راځي د کوم په اړه چې مونږ هلې ځلې یا پلټنې کوو.

که چېرته ډېر ابتدایي فکر وکړو، نو داسې ویلی شو: څېړنه هغه **پروسه** ده چې موږ یې په لاندې حالتونو کې ترسره کوو:

- پوښتنو ته د ځواب موندلو پر مهال
- د پوهې ترلاسه کولو پر مهال او یا
- د ټولنې په اړه د لا زیاتو معلوماتو او حقایقو د کشفولو پر مهال

څېړنه څه شی دی....؟

په ټولنیز ساینس کې څېړنې او د څېړونکي کار له خاص اهمیت څخه برخمن دی. دوه نسبتاً جامع تعریفونه چې ډېر کارول کیږي:

۱. تحقیق د داسې پروسې نوم دی چې پرمټ یې موږ غواړو خپل ژوند او خپله نړۍ له هغه زیاته وپیژنو څومره چې یې په اړه عام معلومات شته او یا موږ پرې پوهیږو. (پول او لامپارډ ۲۰۰۲)

۲. څېړنې د سیستماتیک لټون هغه پروسه ده چې د موجوده پوهې د زیاتولو او یا نوي علم تر لاسه کولو لپاره دیوې مسئلې په اړه د نویو معلوماتو، پدیدو او حقیقتونو د کشف او تر لاسه کولو په مؤخه تر سره کیږي. (دا تعریف د دوکتور

امیر محمد منصوري صیب له هغې مقالې اخیستل شوی چې ماته یې پخپله ډالۍ کړې ده.)

**د څېړنې پېژندنه:**

څېړنې په مختلفو قرینو، د ډول ډول تجربه لرونکو کسانو لخوا د بېلو هدفونو او مقصدونو په موخه تر سره کیږي. دلته ځینې نظریات شته، چې هریو یې تحقیق په بیله بڼه تعریفوي؛ خو زما له شخصي نظره، هغه پورته تعریفونه چې په چوکاټ کې ذکر شوي، سم او جامع تعریفونه دي.

۱. د طبعي پدیدو تر منځ د فرض شوو اړیکو په اړه د پشنهاد شویو فرضیو سیستماتیک، کنترول، تجربوي او علمي عمل ته، څېړنې ویل کیږي. (کیرلینګر، ۱۹۷۰)

۲. څېړنې د بشري پوهاوي د کچې د لوړولو په خاطر هر عمل ته، چې د مالومو حقیقتونو د لاسته راوړلو په موخه تر سره کیږي، ویل کیږي

۳. تحقیق یا څېړنه، یوې ساینسي یا هم ټولنیزې ستونزې یا پدیدې ته د حل په مؤخه سیستماتیکه او کره پروسه ده چې تحلیل له ځانه سره لري.

۴. تحقیق له هغې قدم په قدم مرحلې څخه عبارت ده، چې د معلوماتو را ټولول او پلټنه له ځان سره لري. د هغې ټولنې په اړه، چې موږ یکې ژوند کوو، د معلوماتو را ټولولو او د هغه علم او پوهې رامنځته کولو ته وایي چې تر اوسه نه وي موجود یعني د نویو، داسې معلوماتو راسته راوړلو ته وایي چې په نتیجه ولاړ وي.

اوس تاسو کولی شی خپل تعریف ولیکئ. ستاسو پر اند څېړنې یا تحقیق له څه شي څخه عبارت دی؟ له څه شي څخه بحث کوي او د څېړنو د «څنګه» او «څه» په اړه معلومات وړاندې کړی.

په پورتني هر تعریف کې، تحقیق داسې تعریف شوی، چې دا د معلوماتو را ټولولو، پوهې کسبولو او سوالونو ته د ځواب موندلو سیستماتیکه پروسه یا عمل دی. له نیکه مرغه، موږ ضرورت نه لرو چې د هرې څېړنې لپاره دا پروسه بیا بیا رامنځ ته کړو، بلکې د هر څېړنیز کار لپاره د دې پروسې سره سم عمل کول موږ د خپل تحقیق موخو ته رسوي.

**د څېړنې «ولې»**

تحقیق د مختلفو دلایلو له وجهې تر سره کیږي، بویه موږ یو نظر لرو او غواړو پوه شو چې نظر مو سم دی که نا سم. د مثال په ډول، موږ وایو چې بهرنۍ مرستې د افغانستان په اقتصادي پیاوړتیا نیغ اغېز لري، تر څو چې د دې فرضیې یا ادعا د اثبات لپاره معلومات را ټول موږ نشو ویلی چې دا نظر سم او که ناسم دی؛ خو ښایي موږ تحقیق د نورو شیانو لپاره هم وکاروو. د مثال په ډول، موږ وایو چې په افغانستان کې خلک د تعلیم او تحصیل څخه د مخ ګرځولو په خاطر ځانته دروغین او خیالي داسې دلایل وړاندې کوي چې پخپله یې قناعت ورسره کړی وي. دلته نور بهرني عوامل (وخت، پیسې، او...) شته چې د یو کس د تعلیم او تحصیل په مخ کې خنډ ګرځي.

**د تحقیق ځانګړنې:**

د څېړنې په ځانګړنو پوهېدنه تحقیق ته علمي بڼه ورکوي. د څېړنې خصوصیات ګڼو کتابونو ډول–ډول او بېل–بېل بیان کړي دي خو دلته یې موږ یوازې درې ذکر کوو:

۱. پوښتنه
۲. د څېړنې پروسه
۳. ځوابونه

د تحقیق یا څېړنې په ټولو ځانګړنو پوهېدنه خورا مهمه ده، خو دلته یې دویمه برخه ډېره پیچلې او زموږ او ستاسو د دې مقالې اصلي هدف دی. د څېړنو په پوښتنو ځان پوهونه په خپل ځای ډېر اهمیت لري چې په راتلونکو مقالو او خپل ځای کې به یې ولولو؛ ځکه چې له پوښتنې څخه څېړنه پیل کیږي.

**د څېړنې ماهیت**

کله چې وایو، «څېړنه څه شی ده؟» یا د څېړنې د «څه» په اړه د پوهیدلو لپاره اړینه ده چې د څېړنې په ماهیت او طبعیت ځان پوه کړو. د څېړنې ماهیت...

- منظم او هدفمند ( د معلوماتو را ټولولو او تحلیل پر مهال)
- کره او دقیق
- پېچلی
- غښتلی او پر دلایلو ولاړ
- سیستماتیک

د څېړنو ماهیت او فطرت دا نه دی، چې ساده معلومات را ټول کړو، ان تر دې چې کیدای شي همدا ساده معلومات را ټولول د څېړنیز کاریوه ساده برخه اوسي خو معلومات او حقایق باید د یوې سیستماتیکې او کره پروسې په رڼا کې را ټول شي. ځینې خلک په خپله خوښه، بغیر له کوم پلان او پروسې معلومات را ټولوي او د څېړنې نوم ورکوي چې دې ته هیڅکله څېړنه نشو ویلی ځکه، څېړنه منظم پلان، او سیستم غواړي چې باید ډېزاین شي او مهمه دا چې د څېړنو نتیجه باید کره، غښتلې او پر دلایلو ولاړه وي.

**منظم او هدفمند (د معلوماتو را ټولولو او تحلیل پر مهال)**

تحقیق داسې کوم شی نه دی چې «ناڅاپي پېښیږي» هغه باید یو خاص هدف او مقصد ولري او په منظمه توګه له پیل څخه تر پایه، په سیستماتیکه توګه تر سره

شي. دا په دې معنا نه دی چې د څېړنې یا تحقیق هره پایله باید عملي او مثبته بڼه ولري، لکه زیاتره پایلې چې یې لري. د یو عام مفهوم یا پوهې په اړه څېړنې کول هم تحقیق دی. دا په دې معنا نه دی چې ګویا تشریح، کیسه ګې یا هم د خلکو سالم عقلونه یا مشترک حسونه بې معنا دي، بلکې دا ټول د ټولنې په اړه زموږ د پوهاوي په زیاتوالي او حقیقتونو په کشفولو کې مهمه ونډه لري. خو تحقیق باید سیستماتیکې، غښتلې او پر دلایلو ولاړې پایلې ولري.

**کره او دقیق**

څېړنیز کار باید په ډېر احتیاط او ځیرکتیا سره پلان او عملي شي ځکه کره او دقیق کار، سمه پایله په لاس راکوي. د څېړونکي مسلکي او اخلاقي وجیبه ده چې د څېړنیز کار پلانونې، ډیزاین او د اخلاقي اصلونو رعایت کولو ته خاصه پاملرنه وکړي.

**غښتلی او پر دلایلو ولاړ**

تحقیق (په خاصه توګه علمي تحقیق) تل د لوستونکو یا هم د منوګراف لیکلو پر مهال د نیوونکو د انتقاد لاندې وي، کله چې اکاډیمیک شخصیتونه زموږ لیکنې یا هم څېړنیز راپورونه لولي نو غښتلتیا او قوت یې ګوري. زموږ د څېړنې هره برخه، مفکوره، ډیزاین، فرضیه او عملي پروسه باید غښتلې او پر دلایلو ولاړه وي تر څو زموږ لوستونکي پوه شي چې، څنګه پایلې تر لاسه شوې دي او څېړونکی د خپلو پایلو څخه دفاع کولی شي.

**سیستماتیک**

سیستم یا علمي سیستماتیکه پروسه په څېړنیز کار کې خورا مهمه ده. دا په دې معنا چې د هر څېړنیز کار (هغه کېدای شي د خلکو، یا قضیو او یا هم د معلوماتو را ټولول وي) پر مهال په برابره توګه عملي کیږي. یعنې

شیرنې یو سیستم لري چې د هر ډول شیرنیز کار پر مهال بدون له فرق او توپیر شخه کارول کیږي. تحقیق یوازې د معلوماتو د راټولولو په معنا نه دی، بلکې یوه سیستماتیکه پروسه ده چې د نوي علم په رامنځته کولو او د پوهې په زیاتولو کې مرسته کوي.

**د تحقیق کیفیت**

کله چې د غښتلي او پر دلایلو او شواهدو ولاړ تحقیق په اړه خبرې کوو، نو باید د څیړنیز کار له کیفیت شخه ځان خبر کړو او هیڅکله دکیفیت په اړه له بې فکرۍ او کم توجهي شخه کار وانخلو. بې کیفیته معلومات ناسمه او غیر عملي پایله په لاس راکوي، په پوهه کې مو ناسمې زیاتونې کوي او حقیقتونو ته مو نشي رسولی. تحقیق کیداشي تر ډېره بریده پر موضوع، نظري روش او د تر سره کولو پر میتود او نورو شیانو تکیه وکړي، خو ډیری نورې مفکورې یا لارې چارې هم شته چې د تحقیق کیفیت د څیړونکي له توقع سره سم تضمینوي.

د څیړنیز کار د کیفیت له نظره، په ټوله پروسه کې ډیرې داسې برخې یا مرحلې دي چې د تحقیق د کیفیت سره مرسته کوي او که چیرته په سیستماتیکه توګه تر سره نشي، هره برخه سمه پلان او عملي نشي، یا هم د تحقیق د اصولو شخه د کار اخیستنې پر مهال بې غوري وشي نو د څیړنې پایلې زیانمنې کیږي او د تحقیق اعتبار کموي. د څیړونکي هڅه باید دا وي چې د څیړنو پر اصولو ولاړ او دله وړاندې شخه تیار او منل شوي ډیزاین او پلان سره سم خپل څیړنیز کار پر مخ یوسي تر څو پایلې یې غښتلې او پر دلایلو ولاړې وي.

په کال ۲۰۰۶ کې بیکر او ملګرو له خوا یې یوه سروې تر سره شوه چې د هغې په نتیجه کې د کیفیت ۳۵ معیارونه په نښه شول، د هغو ۳۵ معیارونو له منځ شخه خورا مهم یې دا دي:

۱. تحقیق باید داسې ولیکل شي چې د نظر وړ لوستونکو ته د لاسرسي وړ وي او پرې پوه شي.
۲. تحقیق باید داسې ډیزاین شي چې پوښتنو ته په سمه توګه ځواب ومومي.
۳. د معلوماتو را ټولولو او تحلیل پر مهال د روښتیا او امانتداري شتون.
۴. د تحقیق د تر سره کېدو جریان باید په پوره تفصیل سره ولیکل شي.
۵. بله دا چې، تحقیق د پوهې په زیاتولو او یا هم د نوي علم او حقیقتونو په کشف کولو کې څنګه او څومره مرسته وکړه.

که چېرته د تحقیق د کیفیت په اړه وړو او مشخصو برخو ته ځیر شو یا پرې بحث وکړو، نو ویلی شو، د تحقیق هره برخه، که کوچنۍ وي یا لویه باید په ډېره ځیرکتیا، امانتداري او روښتیا د پلان سره سم تر سره شي.

**د تحقیق کیفیت: د یوې څېړنې باورمندتیا، اعتبار، اعتماد او اخلاقي عمل په پام کې نیولو ته وایي.**

**د کیفیت کلي مفهوم**

په ساینسي او ټولنیز تحقیق کې د کیفیت له نظره څلور مهمې برخې دي چې باید ځان پرې پوه کړو، هڅه به وکړو چې په راتلونکو برخو کې د کیفیت په اړه بېل باب ولرو، تر څو سم پرې پوه شو چې د تحقیق پر جریان کې کیفیت ته څنګه پاملرنه وکړو او په پایلو یې اغیزې څه شی دي. او تر ټولو مهمه دا چې د څېړنیز کار په جریان کې ټوله پروسه څنګه کنترول او وڅارو تر څو د کیفیت څخه ځان ډاډمن کړو چې د څېړنیزې پروسې دا برخه خورا مهمه ګڼل کیږي.

**باورمندتیا – یا د اعتماد وړ (کله کله ورته د تکرارېدو وړ هم وایي)**

په اصل کې مهمه پوښتنه داده چې;

آیا نور څېړونکي به هم ورته پایلې تر لاسه کړي که چېرته له ورته میتود څخه کار واخلي؟

په طبیعي علومو کې، لکه کیمیا، فزیک او نور... څېړونکي باید د ورته علمي تجربې پر مهال یو ډول نتیجه تر لاسه کړي. خو په ټولنیزو علومو کې، چې د څېړونکي ټوله معامله له خلکو سره ده، فرق کوي یعنې هر کس بېل شخص دی او بیل فکر لري نو څېړونکی له ډول ډول فکرونو سره خپل کار تر سره کوي. له همدې امله ویلای شو چې په ټولنیزو علومو کې د یو شانته پایلو تر لاسه کولو طمعه بې ځایه وي خو د یوې ډلې خلکو لپاره باید یو برابر پایلې تر لاسه کړو.

د مثال په ډول:

په پکتیا ولایت کې ٪۶۰ هغه ځوانان چې عمرونه یې له ۱۸ – ۳۵ کلونو دي، د افغانستان د کرکټ ملي لوبډلې سره مینه لري.

اوس که چېرته په همدې ګروپ خلکو بیا څېړنه کیږي، نو پایلې یې باید یو برابر وي. دا په دې معنا چې باوري او د اعتماد وړ تحقیق په څېړونکي پورې خاص نه وي، بلکې نور څېړونکي هم کولی شي چې له ورته میتود څخه په ګټه اخیستلو یو برابر پایله تر لاسه کړي. دلته خورا مهمه موضوع کوم چې په ټولنیزو څېړنو کې د اندېښنې وړ ده، هغه دا ده چې، ایا بل څېړونکي له ورته میتود څخه په کار اخیستلو توانېدلی چې ورته پایلې تر لاسه کړي؟ دې برخې ته باید جدي پاملرنه وشي. نو له همدې امله نوي څېړونکي ته په کار ده چې د خپل تحقیق پلان، ډیزان او میتودولوژي تجربه لرونکو اکاډیمیکو کسانو ته د کره کتنې لپاره وړاندې کړي؛ تر څو ډاډه شي چې هره برخه یې د تحقیق د علمي اصولو سره سم پلان او ډیزاین شوې ده. نو په دې صورت کې بیا هر څېړونکی کولی شي چې ورته پایلې تر لاسه کړي.

د تحقیق په جریان کې له کیفیت څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه، د څېړنو اعتبار ته پام کول خورا اهمیت لري. دا ثابتوي چې معلومات په سمه توګه، بغیر له کمي او د پلان سره سم را ټول شوي دي. څېړونکي ته په کار ده چې د کیفیت څخه د څار یا نظارت لپاره منظم پلان تیار، او په ډاګه کړي چې پایلې په روښتیا او امانتداري تر لاسه شوې دي. په دې صورت کې څېړونکی تل اماده وي چې خپل څېړنیز راپور د نقد او کره کتنې لپاره له نورو سره شریک کړي.

**کره او دقیق**

د کیفیت له نظره په دې برخه کې له څېړونکي سره سوال پیدا کیږي چې:

آیا زه رښتیا د هغه څه په اړه څېړنه کوم چې زه یې غواړم؟

او یا...

آیا کوم معلومات چې زه را ټولوم زما د څېړنې له پوښتنې سره اړیکه لري (ایا دا به له ما سره د څېړنې د پوښتنې په ځوابولو او فرضیو په ازمایښت کې مرسته وکړي؟)

دلته د څېړونکي اندېښنه د معلوماتو په اړه وي، کوم ډول معلومات باید را ټول او بیا څنګه تشریح او تعبیر شي. خو په ټولیزه توګه دا بیا بېرته د څېړونکي مسؤلیت دی چې، د خپل کار په اړه څه نظر لري، معلومات او موندنې څنګه تعبیروي او د څېړنې په اصلي پوښتنې پورې یې څنګه مربوطوي / تړي. دلته د کره والي او دقت موضوع د څېړنې ډیزاین، معلوماتو را ټولولو او د موندنو د تحلیل په جریان کې په روښتیا پورې تړاو لري چې ګویا د موندنو د تعبیر او تحلیل پروسه څومره رڼه او په امانتداري تر سره شوله. یعنې، که چېرته د یو څېړنیز راپور په کره والي کې شک وي نو کره کتونکي یا نقد کونکي د پلان او ډیزاین د مرحلې څخه، د طبیق او بیا د

کیفیت د څار څخه د معلوماتو تر را ټولولو او بیا تحلیل او په دې جریان کې د روښتیا او امانتداري تر شتونه ټولې برخې ګوري، البته د یو کره کتونکي په توګه، نه د یو عادي لوستونکي په توګه.

### د څېړونکي اخلاق او کره وړه

دلته موږ له یو سوال سره مخ کیږو چې، ایا زه د یو څېړونکي په توګه، خپل کار په هاغومره توجه، صداقت او امانتداري تر سره کوم، لکه نور څېړونکي چې (له ما سره یو ځای کار کوي) یې تر سره کوي؟

په ټولنیز تحقیق کې د څېړونکي کار له خلکو او د هغوی له فکرونو سره وي. د څېړونکي غوره اخلاق او ښه کره وړه پخپله له څېړونکي، نورو افرادو او د تحقیق په جریان کې د روښتیا، امانتداري او ریښتونولي موجودیت ثابتوي چې دا په مستقیمه توګه د څېړنیز راپور په کیفیت اغیز شیندي.

### ټولنیز څېړونکي څوک دي؟

هر کس څوک چې زموږ د ټولنیز ژوند په اړه پوښتنه کوي، څنګه او ولې یو شی واقع کیږي، یو ډول څېړونکی بلل کیږي. بیا هم، لکه څنګه چې مو پورته ووېل، تحقیق یوازې د سوالونو پوښتلو او یا هم د هغې ځوابونو ته نه ویل کیږي، بلکې یوه سیستماتیک عمل دی. ټولنیز څېړونکي هر چېرته دي. هغوی د حکومتي ادارو، ښوونځیو او پوهنتونونو، تحقیقاتي مرکزونو او.... سره کار کوي، سره له دې، یو ښه څېړونکی جوړېدل وخت، او د څېړنې په کار کې، زحمت ایستلو، زدکړې، امانتداري او کیفیت ته توجه کول غواړي.

ټولنیز تحقیق تر سره کول اسانه کار نه دی، بلکې د ټولې پروسې په جریان کې ډیرې ربړې شته، چې باید حل یې کړو او په بریالۍ توګه خپلو پوښتنو ته ځوابونه

وموموا و فرضيې وازمايو. په هر حال، په ټينګار او هڅو سره بريا په لاس راځي. که دې برخې ته ځير شو نو ويلی شو چې د څېړونکي د صفتونو برخه دلته هم عملي کېدلی شي.

ځينې مهمې نقطې دي چې بايد په ياد وساتل شي:

- تحقيق يوه *پروسه* ده.
- څېړنې بايد پلان شي، ځکه هغه ناڅاپه يا تصادفي نه پېښېږي.
- مهمه نه ده، چې معلومات او موندنې دې لازمي د علم په ځير معلومې وي.
- تشريح تل څرګندونو سره يو شان نه وي.
- تحقيق بايد هميش محکم او غبنتلی اوسي او هغه بايد انتقاد منونکی اوسي ځکه کېدای شي ځينې خلک زمونږ د پايلو سره همغږی نه وي.

**اخځونه**:

۱- د څېړنې ميتود، د ټولنيزو څېړنو لپاره عملي لارښوود، باب متيوو -ليز راس. ۲۰۱۰، پيرسن لانګمين

۲- د تحقيق لارښود، خليل باور، بلوچستان پوهنتون کوټه، ۲۰۱۲

۳- د تحقيق اصول، تبسم کاشميري ۱۹۹۲

۴- د ادبي تحقيق ځينې مسئلې، ډاکټر محمد حسن ۱۹۸۶

۵- د تحقيق فن، ګيان چند، ۲۰۰۳

۶- د څېړنې ميتودولوژي او د پروژو تحليل او تجربه، کانديد اکاډيميسن دوکتور غلام محمد بهرام او پوهنيار ساره توخي عرب۱۳۹۴

۷- د بشري څېړنو اړوند يو شمېر مفاهيم او مبادي، مقاله، دوکتور امير محمد منصوري ۲۰۱۵، (دامقاله يې ماته په خپله ډالۍ کړې ده)

صديق الله بدر

# د قرار جادوګره شاعري

په هنري انداز او د شرنګېدلو الفاظو پر مټ د خپل وخت خبرې او د خپلو تجربو رانغاړل؛ هغه ځانګړنه ده، چې د پښتو شعر یې د وخت سندره ګرځولې او پر زړونو او غوږونو خوږ لګي.

نن سبا د شعر کره کتونکي او شعرپېژندونکي ټول په یوه خوله دا وایي: ډېر ځله چې له خپل شعر نه د پردیتوب احساس راته پیدا کېږي، یوازنی علت یې دا دی، چې موږ په خپلو اکثرو شعرونو کې د خپل وخت انځور نه وینو. د دغو کره کتوونکو په اند، زموږ اکثر نني شعرونه، د پخوا زمانې شعرونو ته پاتې کېږي. که چېرته نوم او تاریخ ورباندې نه وي لیکل شوی، نو داسې احساسېږي، چې زموږ شاعر د پخوا زمانې شاعر دی. دا ځکه، چې زموږ ځینې شاعران جسماً په اوس زمانه کې ژوند کوي؛ خو فکر او بیان یې د تېرې زمانې وي، چې دا ټول بیا هم د تقلید له بلا راپیښ دي.

زموږ ډېر شاعران، لا هم د تقلیدي شاعرۍ په لومو کې راګیر دي او د پخوا زمانې سندرې بولي، خو په دې منځ کې داسې شاعران هم شته، چې موږ یې د خپلې زمانې بولو او کلام یې زموږ د زړونو خبرې کوي، هغه هم په پوره هنري انداز.

دلته د هغه شاعر په ژوند او اند درسره غږېږو، چې شعرونه یې همدغه ښکلا لري او شاعري په دې ټکو کې رانغاړي: ((زما په نظر شاعري له لیکلو او نظم کولو ورهاخوا یو شی ده)).

دا شاعر ښاغلی مجیدالله قرار دی، زموږ د پېر هغه شاعر، چې شعر یو کیفیت بولي، هغه هم یو تجریدي کیفیت، نه محسوس: ((شعر یو کیفیت دی، چې هغه په کردار کې هم کېدلای شي، په لیکنه کې هم او په ویلو او په خندا او ژړا کې هم)).

قرار دا خبره په دې بنسټ کوي، چې شعر تر یو ځانګړي تصویر زیات یو کیفیت دی: ((د جوړښت له لحاظه په شعر باندې د فکر کولو پر وخت یو څه مجسم او محسوس شیان زموږ په ذهن کې انځورېږي، په دې صورت کې نو دا زموږ مجبوري ده، چې شعر یو لیکل شوي او منظوم شوي شي ته ووایو. که دغه مجبوري نه وي، زه تر دې شعر ته پو یو پراخ تعریف باندې قایل یم)).

قرار هغه شاعر دی، چې د شعر ښه خاصیت د هغه تلپاتې والی او د ښه شعر نښه د ټولې انساني عاطفې رانغښتنه په ګوته کوي، خو په دې توپیر، چې: ((د شعر کار نمانځل دي نه تبلیغول، له دې کبله زما په نظر ښه شعر هغه دی، چې لوړ انساني اخلاق او مفاهیم په کې نمانځل شوي وي، نه دا چې په کې یو ځای شوي وي، ځکه دا د شعر کار نه دی)).

**پېژندنه:**

مجیدالله قرار د ښاغلي مولوي مطیع الله زوی، په ۱۳۶۰ لمریز کال د غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ، د شېرکلا په کلي کې زېږېدلی. لومړنۍ، منځنۍ او ثانوي زده کړې یې په شاوخوا اتو ښوونځیو، لیسو، مدرسو او بې شمېره جوماتونو کې ترسره کړې دي. لوړې زده کړې یې د ماسترۍ تر بریده د عربي ژبې او ادبیاتو په برخه کې کړې دي. د پښتو او فارسي ژبو مطالعه او شعر لري، انګرېزي یې د وخت اړتیا ګڼلې او زده کړې یې ده. اردو

ژبه لوستلای او ویلای شي. له پښتو سره مینه لري، عربي او دري يې خوښېږي او په عامه توګه د ژبو زده کړه او د ژبنیو سیستمونو ژوره مطالعه يې کړې ده.

د کمپیوټر لوکلایزېشن، یا محلي کولو په برخه کې یې ښه برخه عمر لګولی او تجربه یې لري.

دیني زده کړې، نحو، صرف، فقه، بلاغت او بیان، اصول فقه، اصول حدیث او د احادیثو متنونه یې لوستي او ملا دی. اته سپارې قرآن کریم یې حفظ دي.

شاعري یې له درې کلنۍ پیل کړې: ((د ډېر وړوکوالي تصرفات او د ډېر کوچنیوالي بعضې کارونه او ځینې ګیلې مانې او بعضې کیفیتونه به، چې ما ته پېښېدل او یا کله کله، چې به ما پریو شي ډېر فکر کاوه، دا ټول له هغه وخت نه راپیلېږي، چې ما درک درلود؛ نو د یو انسان درک به له څه وخت نه شروع کېږي، له څلور کلنۍ پنځه کلنۍ؟ خو زه مناسب هغه درې کلني ګڼم)).

قرار په وړوکوالي کې د سندرغاړو سندرې ډېرې زمزمه کولې او په خپله به یې بندونه ورزیاتول. لومړنی شعر یې سیاسي خوند او رنګ درلود: ((هغه وخت، چې ما وغوښتل لیکلې شاعري وکړم، هغه وخت کې د افغانستان سیاسي حالات داسې وو، چې له کشرانو او نویو ځوانانو نه په یوه ډله کې ډېر کار اخیستل کېده. موږ هم په یو داسې بهیر کې وو، د جهاد وخت و او طبعاً په هره کورنۍ کې به سیاسي خبرې او بحثونه کېدل او دې بحثونو به په موږ ډېر اغېز ښنده؛ نو ما هم په اصطلاح لومړی یو تنظیمي شعر ولیکه)).

قرار نثر هم لیکي، چې تر ډېره سیاسي، ټولنیز او علمي وي، ډېر کم ادبي او هنري نثرونو ته مخه کوي. تر اوسه د ښاغلي قرار کومه شعري ټولګه نه ده چاپ شوې، خو اوس اوس په دې تکل ښکاري، چې د خپلو شعرونو یو غورچاڼ چاپ کړي.

## شاعري:

که څه هم قرار د هغه نسل شاعر دی، چې احساسات او عواطف یې قوي دي، خو د تعلیم سلسله یې سمه نه ده، خو دی له هغو کسانو څخه دی، چې سم تعلیم یې کړی او یو داسې ادیب دی، چې په ادب هم پوهېږي. د استاد اسدالله غضنفر په اند دغې ځانګړتیا له هر لحاظه پر ده اغېز کړی: ((دې شي د ده په شعر باندې هم د فکر له لحاظه او هم د سبک له لحاظه اثر کړی دی. دی پخه ژبه لري، پوخ سبک لري او د فکر له درکه پخې خبرې کوي، چې دا د ښې شاعرۍ لپاره ښې نښې دي.))

قرار د خپل وخت شاعر دی، نوې خبرې په ډېر هنري خو عاطفي بڼه رانغاړي او زموږ ترمخه یې ږدي. ومان نیازی قرار هغه شاعر راپېژني، چې نوې لا څه، چې ډېرې نوې خبرې را ته کوي: ((دی ډېرې نوې خبرې لري. مثلاً یو ځای وایي:

یار، چې رقیب ته څه خبره وکړي ډېر افسوس
لکه دانه، چې د انګور پر ځمکه وغورځوي

تر اوسه موږ دا خبره په دې شکل نه وه اورېدلې، خو دا شته، چې له رقیب سره کومې خبرې کوي، مثلاً د خوشال بابا بیت دی، چې وایي، یار چې رقیب ته کومه ښکنځله وکړه، ماته په دې افسوس راغی، لکه چې یو مچ رانه شېرین عسل یووړ. دلته خبره هماغه خبره ده، تر ده مخکې هم شوې ده، نورو شاعرانو هم ممکن دا خبرې کړې وي، خو دا د ده کوم طرز، چې دی نوی دی. ده د انګور دانه را اخیستې ده او یو نوښت یې کړی دی.))

شرر ساپی هم په دې نظر دی، چې د قرار خبرې نوې او خپلې یې دي، شرر ځکه دا خبره کوي، چې زموږ اکثر ځوان شاعران د مشرانو او مطرحو شاعرانو تقلید او پېښې کوي، خو په خواشینۍ سره، چې په دې کې هم کامیاب نه راووځي: ((قرار د نورو خبرې نه تکراروي، خپله خبره کوي. د ده هنر دا دی، کوم لفظونه او کلمې، چې را اخلي

کـه هغـه هرڅـومره شـډل وي او شـاعرانه هـم نـه وي، دی یـې پـه ډېـر هنـري انـداز شـاعرانه کوي)).

د ښـه شـاعر یـوه ځانګړ تیـا دا بلـل کېږي، چـې پـه هنـري بڼه د خپـل وخـت او حـالاتو انځور په خپل شعر کې وړاندې کړي. نورمحمد لاهو، قـرار همداسـې یـو شاعر ګڼي او د هغه په شعر کې د وخت دانځورونې خبره کوي: (( د ده کمال دا دی، کله چې دی د خپـل وخت له اشیاوو سره مخامخ کېږي، نو د هغو په وړاندې خپـل غبرګـون ښـیي او موږ پـه دې پوهوي، چې دی د یوه نوي عصر شاعر دی، په متمدنه ټولنه کې اوسي او یا یـو داسـې ځـای کې اوسي، چې هلته تخنیک راتلونکی دی او یا ټولنه د تمدن په حال کې ده، موږ د ده پـه شعر کې دغسې یو څرګند تفاوت لیدلی شو)).

لاهـو وړانـدې د قـرار د یـو بیـت پـه ویلـو سـره د هغـه پـه شـعر کـې د وخـت د موجـودو وسایلو او امکاناتو د شتون خبره هم کوي: (( د ده یو بیت دی، چې وایي:

هلو سلام کوم، خبره واوره، غوږ ونیسه
در پسې مړ دی، دلته زړه د یو جناب جنۍ

ګـورئ! دلتـه د "هلـو، سـلام، د یـو جنـاب زړه" هغـه څـه دي، چـې مـوږ پـه پخوانـو شعرونو کې نه دي لیدلي. د دې یو علت دا و، چې هغه وخـت ټیلفـون نـه و او د هلو او داسـې ورته نور کلمات دود نه وو. معنا دا، چې قـرار کوښـښ کـوي نـوي کلمـات او نـوې تجربـې راواخلي)).

د لاهو په اند ښه شعر هغه دی، چې د شاعر د خپـل ذهـن کـار او محصـول واوسـي، پـه خپله یې هغه شی تجربه کړی او لمس کړی وي.

شرر هم ورته نظر لري خو وایي، چې قـرار پـه خپلـو نظمونـو کـې د ټـولنې واقعـات پـه هنري بڼه رانغاړي: (( قرار هغه شاعر دی، چې زړو کلمو ته یې د نوې معنا پـه زور نویـوالی ورکړی او د کلمې او معنا تـر منځ یـې ډېرې ژورې او پېچلې اړیکـې رامنځ تـه او ښـه هنـري

کړې يې دي.))

دا هم د ښاغلي قرار هغه شعر، چې پر نويو خبرو سربېره، د ټولنې واقعيتونو ته په کې انعکاس ورکړل شوی دی:

اوښکې در وګرځه ستنه شه بېرته
بېچاره ګی، ترکومه کومه به ځې
په کاله کېنه پښتنه شه بېرته
اواره ګی، تر کومه کومه به ځې
اوښکې دروګرځه ستنه شه بېرته
زه ګرځېدلی يم ما ښار پوښتلی
دلته يې په سمه بيه نه پېري څوک
ما د رنو اوښکو بازار پوښتلی
ما نن د ډېرو اوښکې ولېدلې
چا خريدار ورته موندلی نه شوای
چا بيا په نيمه خېټه وچه ډوډۍ
په څو څو ورونو کې پلورلای نه شوای
چا ماشومانو به تر ډېرو ژړل
بيا به کرار شول په يوه پتاسه
ښه نو د زړو اوښکو بيه شوله
په دې بازار کې يوه پيسه پتاسه
چا بيا د يوې مړاوې موسکا په بدل
يوه لپه اوښکې تويولې بل ته
د ماتو زړونو له ناکامه به يې

په لپو لپو ورتللي بل ته
ډېر ګرېوانونه اسويلو وچول
د ډېرو اوښکې پر درې څڅېدې
د ډار موسکا به وه موسکا به هم وه
اوښکې به هم نرۍ نرۍ څڅېدې
ډېر محفلونه مې تر پام تېر کړل
اوښکې پر هر مناسبت ورېدې
د ډېرو اوښکې خو کټ مټ د سلطان
د شاعرانو قصيدو ته کېدې
اوښکې يوه پاکه مشوره درکوم
که په زړه ځای لرې په زړه يې واخله
د زړه له تله دې خواخوږۍ يمه
باور په خدای لرې په زړه يې واخله
ستا اصيل څېره لکه يو بيت د شاعر
چې يې الفاظ له مايوسۍ ډک وي
چې دورک سور په لټه کې وي
له هر يو لفظ نه ارام ورک وي
منم احساس د غربت ډېر لرې ته
غريب هغه وي چې الله نه لري
اوښکې د ځان په قدر وپوهېږه
په خدای چې هيڅوک دې بهانه لري
ته لکه څاڅکی د باران شه اوښکې

چې د نهنګ په زړه کې ښکته شي بيا
ورڅخه لعل او جوهر جوړ شي
له ډېر قيمته بې قيمته شي بيا
کله چې ته له سترګو وڅڅېږې
يو سلسله به شي منظومه به شي
سوز به دې ورسي تر ډېرو زړونو
يو ټپه به شي منظومه به شي
ته به ګويانه شي بيان به وکړې
ته به د لوی حسن ثنا ووايې
بيا به ايمان راوړې د مينې په خدای
چې کلمه د استغنا ووايې
پام چې نفرت له بېلتانه ونه کړې
ته هر بېلتون وګڼه شرط د وصال
ته کوم ښايسته پير ځانته ولټوه
ورنه شروع کړه فلسفه د جمال
منمه او ښکې چې به ډېر ابليسان
د ځان درنې د بېلتون سپکې وايي
ډېر ابليسان دي چې په دې عصر کې
خپلو ځانونو ته ملکې وايي
منم چې ډېر خلک بېلتون نه مني
منم چې لږ خلک يې تاب راوړي
بېلتون خو سم لکه ايلچي د دوزخ

چې چاته زړې دعذاب راوړي
بېلتون خو سم لکه مېن ته چې څوک
له خپل مېن نه رڼ ځواب راوړي
بېلتون خو سم لکه ملکه دوحې
چې اياتونه داعتاب راوړي
بېلتون خو سم لکه وطن ته چې څوک
بلنه نانندره دانقلاب راوړي
ډېر ابليسان به داسې هم وي چې به
تا وېروي چې اوښکې شومه به شي
د هر جنونه انجام فنا دی اوښکې
لکه مجنون به شې محرومه به شي
اوښکې د چا د تمې اوښکه مه شه
د لوړ ارمان لپاره وڅڅېږه
د خپل جانان په تمه مه تويېږه
د خپل جانان لپاره وڅڅېږه

په هنري انداز د ټولنې ځينو نيمګړ تياوو ته په انتقادي نظر کتل او د هغه بيانول هغه څه دي، چې قرار ته يې په روان ادبي بهير کې د يو باجرئته شاعر شهرت ورپه برخه کړی دی. د ښاغلي غضنفر په نظر قرار هغه شاعر دی، چې هرڅه يې له خپلې سيمې را اخيستي، حتی هغه افکار، چې په اوسني متمدن عصر کې ډېر عالي نه دي: ((ښاغلی قرار د اندړو ولسوالۍ د شلګر د سيمې اوسېدونکی دی، دا يوه داسې سيمه ده، چې دودونه په کې لکه د غرونو غوندې دنګ ولاړ دي، نو له دې سيمې که ده د لهجې خوږلت او د ژبې ښکلاوې او ظرافتونه اخيستي دي، کله کله يې داسې افکار، چې ممکن په اوسني متمدن

او پر مختللي عصر کې ډېر عالي نه وي، هغه يې هم را اخيستي وي، زه ګومان کومه، چې که مجيدالله قرار لا ډېره مطالعه وکړي، دی پوهېږي او ډېر څه زده کولی شي. که دی د نوي تمدن له افکارو او اقدارو سره لا ډېر ځان وصل کړي، نو دی به داسې شعرونه ووايي، چې په يوويشتمه پېړۍ کې به ډېرو لږو کسانو ويلي وي)).

لاهو مجيد قرار له دې امله ښه شاعر بولي، چې ډېر ځله ځينې ټولنيزې نيمګړتياوې او ناسم دودونه، چې په ټولنه کې دود شوي دي، په ډېر جرئت رااخلي او په هنري خو انتقادي بڼه يې ارايه کوي: ((يو څه چې د قرار صاحب په شعرونو کې زما ډېر خوښېږي، هغه د ده جرئت دی. دی يو باجرئته شاعر او ليکوال دی، کوم انتقاد چې کوي، په ډېر هنري انداز يې کوي، داسې نه لکه نن سبا يې چې موږ په سياسي مقالو کې ګورو. دی عين خبره، چې نور يې په سياسي ليکنو کې کوي، که دی يې په شعر کې کوي، هغه ته بيا ښه هنري جامه وراغوندي.))

شرر وايي، چې د قرار په شعر کې فکر او ښکلا موازي حرکت لري او دی هڅه کوي، چې د زړو کلمو په رانغاړلو او هغو ته د نوې معنا په ښندلو سره د ټولنې وضعيت ته په انتقادي نظر وګوري: ((د ده په شعر کې، چې کوم څه زما ډېر زيات خوښ دي، هغه د هنر او پيغام مسئله ده. مثلاً دی يو ځای وايي:

د سپاهي په سر مو خول د پردي ايښی
د ملا په سر مو پاچ د پردو خلکو

دلته د پاچ کلمه ډېر زړه ده او تر اوسه به چا په شعر کې کارولې هم نه وي، خو ده د نوې معنا په زور باندې دغه کلمه ډېره خوږه کړې ده. هم په کې پيغام شته او هم هنري تومنه.))

شرر په دې باور دی، چې قرار د خپل هنر په نسبت ډېر ژمن دی: ((د قرار هدف هنر دی، دی په يو بيت کې وايي، چې:

محبوب ته ډالۍ مه شه خدایږو وارزي که نه
شاید چې خپله ښکلې تر محبوب دی دا غزل

یعنې ده ته دا خپل هنر تر خپل محسوس محبوب نه هم ډېر ښکلی دی، چې دا د هنر په نسبت د ده ژمنتیا ثابتوي.))

خو ومان نیازی د قرار په شعر کې د فکر د غښتلتیا پر خبره ټینګار کوي او وایي: ((د ده په شعر کې فکر ډېر پیاوړی دی، دی په خپله خبره باندې او څه چې وایي ډېر دقت کوي او د ځینو په شان هوایي خبره نه کوي. ځینې یو وزن پسې واخلي او پسې روان وي، زه حتې ځینې مطرح شاعران پېژنم، چې هغه شعریې وګورې په منځ کې یې بیا څه نه وي. خو ده د خپل شعر په هر بیت او هره مصرع کار کړی دی.))

ومان دا خبره په داسې حال کې کوي، چې وایي، د شعر مارغه په دوو وزرو الوځي، یعنې شعر باید له فکري او ښکلاییز اړخ نه یو ډول موازي حرکت ولري: ((کله کله زموږ شاعران فکري اړخ ته ډېره توجه کوي، چې بیا هغه ښکلاییز اړخ ترې پاتې کېږي او ځینې نور بیا د شعر ښکلا ته ډېر تم کېږي او فکر ترې پاتې کېږي، خو د مجیدالله قرار شعرونه بیا داسې دي، چې هم فکر په کې شته او هم ښکلا.))

شرر د هنر او پیغام د ټکو په کارولو سره وایي، چې د قرار شعر هم فکر لري او هم ښکلا: ((د قرار په شعر کې هنر او پیغام څنګ په څنګ روان دي.))

دا هم د قرار هغه شعر، چې فکري او ښکلاییز اړخ دواړو ته په کې ډېره توجه شوې او یوه خوږه موسیقي په کې ځېږي وهي:

لکــه د نــوي مــین روح پــه اضــطراب جلــې
رڼــو اوبــو راوړلــه پاڼــه د ګــلاب جلــې
زړونــه ګنــده دي پــه سرکشــه زمانــه کــې اوســو
راســره یوپــه نســي لاره د ثــواب جلــې

هلــو ســـلام کـــوم خبــره واوره غـــوږ ونیســه
درپســـې مـــړ دی دلتـــه زړه دیـــو جنـــاب جلـــی
مینـــه اســـانه وه، اســـانه نـــه وه، وه کـــه نـــه وه
پـه خـدای بـاور وکـړه، چـې سخت یـې کـړو خـراب جلـی
تـــا تـــه مـــو وکتـــل، تـــر دې مـــو چـــې کتلـــي نـــه وای
پـه تـش کتـو دې کـړو پـه ځـان پـورې کریـاب جلـی
زمـــا د پوښـــتنې ځـــواب راکـــړه، ســـتا ادا خـــو نـــه ده
چـــې لا ځوابـــه وي او نـــه لـــري ځـــواب جلـــی
داسـې درتلمـه سـتا خـو شـا وه تـا خـو نـه لیدمـه
لکـــه امـــام درومـــې پـــه لـــوري د محـــراب جلـــی
هـو دا منمـه ښایسـته خـو پـه زړه سـخته هـم یـې
هـــو دا منمـــه پرښـــته یـــې خـــو دعـــذاب جلـــی
تـه خلاصـه یـې د هـر حسـن نـوریـې څـه پوښـتمه
چـــې کتـــابونو څـــه ویلـــي پـــه دې بـــاب جلـــی
راځـــه راځـــه ســـتا د نـــازونو بیـــړۍ نـــه ډوبـــوي
زمـــا زړګـــی څپـــه څپـــه لکـــه دریـــاب جلـــی
واړه رنګونـــه لـــري، واړه تصـــویرونه لـــري
دیـــوې پیـــړۍ د غزلونـــو انتخـــاب جلـــی
پــرده بــه څــه ســتا د ښایسـت فتنــه ارامــه کــړي چــې
پــر تــا راپرېــوځي نـــوروروني شـــي نقــاب جلــی
ډېـر دې محتـاج یـو د ذکـات مکـات دې غمـه کـوه
د حســـن شـــته دې ســـړ اوښـــتي تـــر نصـــاب جلـــی

د قرار شعر له دې له امله هم خپله ځانګړتیا لري، چې بیان یې عاطفي او په عین حال کې ډېره هنري تومنه لري. ښایي همدا علت وي، چې شعرونه یې ډېر مینه وال لري او ډېر ژر پر زړونو کیني. لا هو د دې خبرې په کولو سره، چې شعر عاطفه او ښکلا ده، د قرار شعر ډېر عاطفي ګڼي: ((که چېرته موږ شعر په څو حصو ووېشو، نو دوه حصه به یې عاطفه او هغه بله به یې ښکلا وي. شعر د زړه غږ ده، دغه غږ څه وخت پورته کېږي؟ کله چې یو انسان د یوې پېښې او یو حالت په وړاندې عاطفي غبرګون ځرګندوي، دغه غږ راپورته کېږي. دا چې د ده شعرونه پر زړونو چنګ لګوي یو علت یې د هغه همدا عاطفي والی دی.))

شرر د قرار له دې نظریې سره په همغږۍ کې، چې هغه شعر یو ځانګړی کیفیت، ښکلا او مینه بولي، د ده په شعر کې د عاطفې د شتون خبره کوي خو وایي، چې قرار خپله عاطفي وینا هم په هنري جامه کې وړاندې کوي: ((د قرار په شعر کې عاطفه ډېره ده، خو ټول کار یې عاطفې ته هم نه دی پرې ایښی. هر کله، چې د ده په شعر کې د عاطفې سمندر په جوش راغلی دی، نو هغه یې د هنر په وړو وړو نهرونو باندې وېشلی او دغه ښکلا یې تر موږ رارسولې ده.))

غضنفر تر دې ورهاخوا د قرار د شعر یوه ځانګړنه دا په ګوته کوي، چې ځای ځای د ده په شعر کې د انسان د فطرت یو لوی راز پروت وي: ((د ده یو بیت ما ډېر کاله پخوا اورېدلی و:

دغه سړي دومره وژلي دي همدغه خلک
دا څومره خلک چې د دې سړي تر شا ښکارېږي

دا بیت همیشه لکه یو متل، چې څوک یې استعمالوي، په ناستو او مجالسو کې وایمه. دا بیت د انسان د فطرت یو لوی راز بیانوي، متاسفانه انسانان که څه هم د وجدان، پاکۍ، شجاعت او زړورتوب خبره کوي، خو ډېر وخت د زورورو نوکران وي. په زړه کې

به پوهېږي، چې دا زورور بر دی، خو هغه وېره به دی مجبوروي، چې د زورور لکۍ به یې نیولې وي، د ظالم زورور. دا د انسان د فطرت په برخه کې یوه لویه خبره ده. د ده په نورو بیتونو کې هم دغسې څه بیخي ډېر دي .))

د قرار د شعرونو یوه بله ښه ځانګړنه د هغه ښه موسقیت دی. د قرار شعر هم له داخلي موسیقي څخه او هم له ظاهري وزن څخه برخمن دی، خو کله کله دغه وزن په یو ډول ماتېږي، چې د نیمګړتیا په ځای شعر ته یې یو ډول ښکلا وربښي. قرار په شعر کې د نورو شعري توکو ترڅنګ موسقیت ته ډېره توجه کوي، ښایي له همدې امله وي، چې په خپله د ده په وینا یو شمېر شاعران په دې اند دي، چې دی موسیقیت ته ډېر قایل دی. شرر په دې باور دی، چې د قرار شعر له پوره موسیقیت نه برخمن دی: ((د قرار شعر هم د داخلي موسیقۍ او هم د عادي وزن له مخې په تول پوره دی. د ده کمال دا دی، چې یوه کلمه که څومره هم موسیقي لرونکې هم نه وي، د معنا په زور ورته یو ډول موسیقیت وربښي.))

خو ومان د قرار په شعر کې یوازې د داخلي موسیقیت د شتون ستاینه کوي: ((ما د خوشال بابا په شعرونو کې دا لیدلي دي، چې یوه کلمه په وار وار حتی په یوه مصرع کې راوړي، دا شی په شعر کې داخلي موسیقي زیاتوي. د قرار په شعر کې مثلاً د اسانه وه اسانه نه وه، وه که نه وه، دا په خپله وه وه د شعر موسیقي جوړوي. ما په دې برخه کې ډېر کم څه لوستي او هم ډېر کم داسې شاعران لیدلي دي، چې د شعر د موسیقۍ دغه اړخ ته توجه کوي.))

ومان وړاندې د قرار په شعر کې د یو ډول مناسب طنز د شته والي یادونه هم کوي: ((طنز یې هم په شعر کې شته، د ده په شعر کې د طنز یو بل وړ مالګه شته، مثلاً دی وایي:

هو دا منم ښایسته خو په زړه سخته هم یې
هو دا منم چې پرښته یې خو د عذاب جلۍ

ګوروئ! دا د عذاب پرښته، پرښتې شته یعنې د رحمت پرښتې او داسې نور؛ خو د عذاب هم شته، ده دا ډېره ښه را اخیستې ده، په دې کې یو ډول طنز دی، چې نه ډېر بربنډ دی او نه ډېر لوڅ. د ده په همدغه شعر کې داسې نور بیتونه هم شته، چې د طنز دغه مالګه په کې شته.))

شرر د ټولو پورته یادو ځانګړنو د موجودیت له امله قرار د خپل سبک خاوند شاعر بولي او وایي، چې شعرونه یې د ګڼو نورو شاعرانو د شعرونو په منځ کې د پېژندلو وړ دی: ((د ده شعرونه د نورو له شعرونو ډېر څرګند توپیر لري، که چېرته په یو شعر کې د ده نوم هم نه وي او چا یې شعرونه لوستي او اورېدلي وي، نو پوهېږي، چې دا د مجیدالله قرار شعر دی.))

سره له پورته ځانګړنو ومان نیازی په دې نظر دی، چې قرار له وزني پلوه له ځینو مطرحو شاعرانو اغېزمن دی: ((دی له هغو شاعرانو نه یو ډول متاثر ښکاري، چې ډېر مطرح دي. زه فکر کوم که دی له دغه تاثره ځان وباسي او کومو چوکاټونو سره، چې دی بلد دی، په هغو کې شاعري وکړي، دا به بیا بیخي نوې وي. دی یوازې د وزن له پلوه له ځینو کسانو اغېزمن دی. ځینې شاعران دي، چې شعرونه یې د وزن له مخې په بعضې ځایونو کې ماتېږي.))

ومان وړاندې وایي، که قرار ځان له دغه اغېز نه وباسي، په راتلونکې کې به د یوې کاملاً جلا لارې څښتن شاعر وي: ((د درویش درانی شعرونه داسې دي، چې اکثره پنځلس سېلابه وي او په یو خاص ځای کې ماتېږي، د هغه د شعر له دغه ډول موسیقي نه سړی پوهېږي، چې دا شعر نو د چا دی. د درویش شاعري داسې ده، چې که د زرو شعرونو په منځ کې هم پروت وي، سړی یې پېژني. زما په نظر که قرار له دغه تاثره ځان خلاص کړي، نو د جلا لارې څښتن به وي. دی د لارې لپاره لکه د نورو غوندې، دا هڅه نه کوي، چې یوازې د جلا لارې د خپلولو لپاره شعر لیکي. دغه ډول شاعران بیا داسې خبرې هم

کوي، چې په چا نښې نه لګېږي. قرار داسې نه دی، دی هم خپلې خبرې لري او هم د ده لاره پرته له دې خبرو بېله ده.))

د قرار شاعرې ځینې نورې ځانګړنې هم لري، خو پر هغو به هغه وخت د بحث لړۍ پرانیزو، چې د ده شعري ټولګه چاپ او خپره شي.

محمد علي ډيناخېل
مټه کالج (سوات)، د پښتو ادبیاتو استاد

# سرتور فقير

دا يو سرتور فقير چې لېونی د آزادۍ و
په يو اواز يې او تښتول خلک و له خوبونه
سپرلی د سرو جذبو په لنډاکي باندې راتول و
راتله يې چکدرې ته ملاکنډ ته اوازونه
غزا د ملاکنډ څه وه سندره د هر کور وه
وړو جينکو ووهل په دشتو کې تمبلونه
د نوو زلمو سترګې د تک سور خماره سرې شوې
سرتور فقير پرې وويشل د خپل نظر جامونه[1]

د سرتور فقير خپل نوم سعدالله خان و. لېونی ملا[2] ,لېونی فقير[1] يا ملا مستان به ورته هم ويل کېده. په بر سوات کې په سرتور فقير مشهور و.[2] د مذهبي جنونيت[3] يا د

[1] – سائل، رحمت شاه: حالات چې اور وروي، ٢٠٠٦/٢٠٠٠، مخ: ١٤٧

[2] Spain, James W., Thw Way of the Pathans, Karachi, Oxford University Press, ١٩٩٠/١٩٦٢, p. ٦٧

جنون تر حده د فیرنګي د حکومت مخالف و، نو ځکه ورته ملا مستان[۴] یا لېونی ملا وایي.[۵] په لومړیو کې دی د بر سوات په "بونېروال" کې هم یاد شوی دی.[۶] سرتور فقیر د بونېر په رېګا نومي کلي کې په کال ۳۰–۱۸۲۰ خواو شا کې پیدا شوی و. د سرتور فقیر د پلار نوم حمید الله و.[۷] او په ځینو کتابونو کې ورته "بونېروال ملک" هم ویل

[۱] Mills, Woosnam, The Pathan Revolts in North West India, Lahore, Sang-E-Meel Publications, ۱۹۷۹, p. ۳۴

[۲] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p.۱۰۹

[۳] Imperial Gazetteer Provincial Series North-West Frontier Province, Lahore, Sang-E-Meel Publications, reprint ۲۰۰۲, p. ۲۲۱

[۴] "مستان" لفظ د یو ډول وجد یا مدهوشانه مراقبې نه راوتی دی. دې ملا ته به یې سرتوربابا هم وېل. د سرتور لفظي معنی "سرتورسری" دی او مطلب یې داسې سړی وي، چې یا د سر پټولو طاقت نه لري یا د سرجوشۍ نه د سر پټولو پروا نه کوي. (کاکاخېل، سېد محمد تقویم الحق، (مترجم)، میلینیم اوکرزما د سوات په پښتنو کښې مصنف، ډاکټر اکبر اېس احمد، پېښور، پښتو اکیډمي، ۱۹۷۸، مخ: ۱۸۴) په امپیریل ګزیټیر کې یې د سرتور معنی black headed لیکلې ده خو غلطه ده.

[۵] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p.۲۷

[۶] Imperial Gazetteer Provincial Series North-West Frontier Province, Lahore, Sang-E-Meel Publications, reprint ۲۰۰۲, p. ۲۳

[۷] خان، روشن خان، یوسفزی قوم کی سرگزشت، کراچی، روشن خان اینډ کمپنی، ۱۹۸۶، ص: ۳۱۹

شوي دی .[۱] نوموړی دابازي خېل پورې اړوند و. ابازي د یوسفزي ملیزي او بیا د نوریزي یوه څانګه ده.[۲] سرتور فقیر د ځوانۍ په وخت کې یو زبردست کبډمار او لوبغاړی و.[۳] سرتور فقیر د وړوکوالي نه مذهبي تعلیم زده کړه شروع کړې وه. د مذهبي زده کړې په لټون کې هغه تر اجمېر (هندوستان) ورسېده.[۴] د هندوستان نه پرته دی افغانستان ته هم تللی دی .د ځینو اسنادو څخه داسې معلومیږي، چې اول دی هندوستان او بیا وروسته افغانستان ته تللی دی.[۵] دی مرکزي اسیا ته هم تللی و او په پای کې په مزار شریف کې استوګن و. ویل کېږي چې لس کاله یې په مزار شریف کې تېر کړل او بیا کابل ته لاړ.[۶] د سرتور فقیر لمسي معمبر خان او همایون خان د هغه د دیني زده کړو د حصول په اړه بېلابېل نظریات لري .د سرتور فقیر د وروریو لمسی

---

[۱] Imperial Gazetteer Provincial Series North-West Frontier Province, Lahore, Sang-E-Meel Publications, reprint ۲۰۰۲, p. ۲۲۱

[۲] خان، روشن خان، یوسفزی قوم کی سرگزشت، کراچی، روشن خان اینڈ کمپنی، ۱۹۸۶، ص ۳۱۹:

[۳] Imperial Gazetteer Provincial Series North-West Frontier Province, Lahore, Sang-E-Meel Publications, reprint ۲۰۰۲, p. ۲۲۱

[۴] Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۹۳

[۵] Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۱۰۱

[۶] Mills, Woosnam, The Pathan Revolts in North West India, Lahore, Sang-E-Meel Publications, ۱۹۷۹, p. ۳۴

مدار خان وایي چې هغه بالکل زده کړې نه درلودې.[۱] دا خبره ښکاره نه ده ځکه چې د سرتور فقیر ټولې لوښه او زامن څو وو. په مختلفو ځایونو کې یې ودونه کړي وو او په مختلفو ځایونو کې اوسېدلي وو. په دې کې دوه ځایونه د بونېر رېګا او د سوات فتح پور دي.[۲] سرتور فقیر په فتح پور کې داخري وادهٔ کولو نه مخکې دوه ودونه نور هم کړي وو.[۳] روشن خان لیکي چې د هغه د وفات په وخت کې د هغه نه شلور لوښه او د شلورو کالو یو ځوی عمراخان پاتې شه.[۴] په فتح پور کې د ده د اولاد نه علاوه په بونېر رېګا کې د هغه شلور زامن آزاد خان، عبدالله، مجیب الله او میر افضل وو۔ ازاد خان سوات ته راغلی و او په ساتال (مدین) کې اوسېدهٔ. عبدالله د سرتور فقیر په ژوندانه وفات شوی و او باقي دوه زامن یې په رېګا (بونېر) کې پاتې وو. په کاڼا کې د سرتور فقیر یو بل زوی امیر فقیر هم و. یوه لور باچا زرینه یې په بشام کې وه.[۵] امیر فقیر د

---

[۱] Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۱۰۱

[۲] Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۱۰۴

[۳] Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۹۹

[۴] خان، روشن خان، یوسفزی قوم کی سرگزشت، کراچی، روشن خان اینډ کمپنی، ۱۹۸۶، ص: ۳۱۹

[۵] Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۹۹

سوات ریاست په فوځ کې د ټیټې درجې یو افسر و. یو زوی عمراخان چې په فتح پور کې اوسېدهٔ په ۱۹۸۸ م کال کې وفات شوی دی.[۱]

دهٔ د خپل ورور سره جګړه کړې وه او هغه یې وژلی و (ځینې خلک وایي چې دا مرګ اتفاقي و). په دې وجه دی د بونېر نه وتښتېد او هندوستان ته ولاړ.[۲] خو د سرتور فقیر دیو ورور زېدالله خان یو لمسی مدار خان وایي چې دا مرګ په اصل کې د سرتور فقیر ورور زرداد خان (زرداد پهلوان) کړی و، خو خپل ورور نه بلکې خپل یو وراره یې په سوک وهلی و او مړ و او هم د دغې وجهې دوی د رېګا (بونېر) نه د دود سره سم د څو کالو له پاره وویستل شوو.[۳] دی د څه مودې پورې په اجمېر او د هند په ځینې نورو ځایونو کې پاتې شو او په ۱۸۹۵ م کې بېرته بونېر ته راغی[۴] دلته ډېر زر د ده د بزرګۍ او تقوا شهرت خپور شو. دی د یوې لارې سړی و او په سیاسي چالونو نه پوهېده.[۵] د هند

---

[۱] Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۱۰۴

[۲] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p.۲۷

[۳] Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۱۰۱

[۴] Imperial Gazetteer Provincial Series North-West Frontier Province, Lahore, Sang-E-Meel Publications, reprint ۲۰۰۲, p. ۲۲۱

[۵] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and

په اجمېر او نورو ښارونو کې داوږد وخت تېرولو نه وروسته چې کله دی بونېر ته راغی نو هلته يې د جهاد لپاره د خلکو د راپاڅولو هڅه کړې وه، خو کامياب شوی نه و.[١] په لنډاکي کې د ډېره کېدو نه مخکې دی په مختلفو سيمو ګرځېدلی و. د هډې ملا سره هم د ده تعلق و. دې باره کې ملز داسې ليکي.

This summer, according to the same report, he visited Bajour, the Utman Khel country, and Buner preaching the necessity of waging war against all enemies of the faith. He is supposed to have been in league with Hajab-ud-din, the notorious mullah of Hadda, whose fanatical hostility to the British Government is well known.[٢]

په ۱۸۹۷ کې دی په لنډاکي کې ډېره شۀ او د دۀ د کرامو تو غبږ تر لرې لرې خور شۀ ـ د هندوستان او افغانستان سره د ده د روابطو نه دا اندازه هم لګېدی شي چې د دۀ د هندوستاني مجاهدينو سره هم تعلق وۀ او د افغانستان د امير سره يې هم تعلقات وو او

Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p.۲۷

[١] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p.۱۰۹

[٢] Mills, Woosnam, The Pathan Revolts in North West India, Lahore, Sang-E-Meel Publications, ۱۹۷۹, p.۳۴

دا هم امکان لري چې د هغوي مالي مرسته به ورسره وه.[۱] په لنډاکي کې د دهٔ د ډېره کېدو ذکر په یوه اولسي سندره کې داسې شوی دی.

په لنډاکي ورته ډېره سرتور فقیر دی
ډینګ[۲] فیرنګی د ځان په ویر دی[۳]

د ۱۸۹۷ م کال د جولای په اتلسمه نېټه انګرېزانو ته دا خبر ورسېد چې یو نا اشنا فقیر په لنډاکي کې ډېره شوی دی او د خلکو توجه ځان ته راګرځوي او دا هم وایي چې د ده د ملاتړ د پاره د بلې دنیا نه داسې پوځ راغلی دی چې په نظر نه راځي.[۴] او دا هم

---

[۱] Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۹۵

[۲] د ده نوم په اصل کښې ډین دی. پوره نوم ئې Harold Deane و. چې کله لا مردان ځانله جدا ضلع نه وه جوړه شوې او د پېښور ضلعې برخه وه، نو دی هغه وخت کې د یوسفزي سب ډویژن اسسټنټ کمشنر و. بیا دی د پېښور ډپټي کمشنر شو. د دې صوبې ډپټي کمشنر هم پاتې شوی دی. د ملاکنډ ایجنسۍ په جوړولو کښې د ده لوی لاس و، دی په ۱۹۰۸ کې مړ دی. (Olaf Caroe, The Pathans, Karachi, Oxford University Press, ۲۰۰۷/۱۹۵۸, p. ۴۲۲) دی د ملاکنډ ایجنسۍ اولنی پولیټیکل ایجنټ (د اکتوبر ۱۸۹۵ نه د ۱۸۹۹ پورې) و.

[۳] خان، روشن خان، یوسفزی قوم کی سرگزشت، کراچی، روشن خان اینډ کمپنی، ۱۹۸٦، ص: ۳۱۹

[۴] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p.۱۰۹

کولی شي چې ځان په نظر نه راتلونکی جوړ کړي.[۱] او خلکو ته وایي چې د انګرېز ګولۍ به په تاسو نه لګي او په اوبو کې به غورځېږي او داسې وایي چې زه چا رالېږلی یم خو دا نه وایي چې چا رالېږلی دی. دا خبره به هم کوي چې څلور کسان د هغه د ملګرتیا د پاره راروان دي.[۲] وایي چې څلور فقیران سرتور فقیر ته په خوب کې حاضر شوي وو او ده ته یې د جهاد ترغیب ورکړ او ده جهاد شروع کړ. دا هم ویل کېږي چې د دې څلورو فقیرانو سره د ده ملاقات د سونیګرام (بونېر) په هدیره کې شوی و. هغوی ده ته ښه راغلاست ووایه او ورته یې وویل چې مونږ به در ته دعا کوو که ته د ملاکنډ ذمه واري په خپل سر اخلې .بیا هغوی ده ته دعا وکړه او ده ذمه واري په خپل سر واخیسته او جهاد یې شروع کړ.[۳] انګرېزانو ته په یو رپورټ کې دا هم وویل شو، چې د ده سره د وریږو یوه کټوۍ وه، چې بې شمېره خلک پرې مړېدل او ختمېده نه .[۴] چې د

---

[۱] Pp. Enclosure. ۲۸, dated ۸ August ۱۸۹۷, Quoted in Ahmad, Akbar S., Millennium and Charisma among Pathans: A Critical Essays in Social Anthropology, London, Routledge & Kegan Paul, ۱۹۷٦, p.۱۰۸.

[۲] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p.۱۰۹

[۳] Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۱۰۲

[۴] Pp. Enclosure. ۲۸, dated ۸ August ۱۸۹۷, Quoted in Ahmad, Akbar S., Millennium and Charisma among Pathans: A Critical Essays in Social Anthropology, London, Routledge & Kegan Paul, ۱۹۷٦, p.۱۰۸.

جولای میاشت رارسېده، نو د ملاکنډ بازار د سرتور فقیر له کیسو نه ډک شوی و .[۱] دا به هم ویل کېدل چې د اسلام یوه لویه ورځ رانږدې ده او چې نوې میاشت راخیژي، نو یو انګرېز به هم نه وي پاتې ټول به تښتیدلي وي .هغه دا هم ویل چې ټول وفات شوي فقیران هغه ته راغلي وو او ورته یې ویلي دي چې د فیرنګیانو د ټولو توپو او ټوپکو خولې به بندې شي او د دوی ګولۍ به اوبه شي او دا چې هغه به یو ځو کاڼي د سوات سیند ته وولي او هر کاڼی به د توپ ګولۍ شي. د دې باره کې د پولیټیکل ایجنټ په ډائرۍ کې داسې لیکلی شوي دي :

About the ۲۰th and ۲۱st the Fakir began giving out that he has heavenly hosts with him, that his mission was to turn the British off the Malakand and out of Peshawar, as our rule of ٦۰ years there was up. He claimed to have been visited by all deceased fakirs, who told him the mouths of our guns and rifles would be closed and that our bullets would be turned to water; that he had only to throw stones into the Swat river, and each stone he threw would have on us the effect of a gun.[۲]

د سرتور فقیر باره کې دا خبرې هم مشهورې دي چې د ملاکنډ د جنګ په وخت هغه خلکو ته وویل چې د دشمن طرف ته شکې ګوزار کړئ او چې کله خلکو داسې وکړل، نو د هغې نه سرې ډنډارې مچۍ جوړې شوې او په دشمن پسې شوې.

[۱] Mills, Woosnam, The Pathan Revolts in North West India, Lahore, Sang-E-Meel Publications, ۱۹۷۹, p۳٦

[۲] Pp. Encl. ۲۸, dated ۸ August ۱۸۹۷, quoted in Ahmad, Akbar S., Millennium and Charisma among Pathans: A Critical Essays in Social Anthropology, London, Routledge & Kegan Paul, ۱۹۷٦, p.۱۰۸.

دا هم ویل کیږي چې د جهاد په وخت کې به هغه خپله امسا په سیند کې ودروله او خلکو ته به یې ویل چې په پټو سترګو په سین پورې ووځئ او چې هغوی به سترګې غړولې نو د سین په بل طرف به ولاړ وو، خو وایي چې په خپله به هغه کله په سیند پورې وتلو، نو په کشتۍ کې به پورې وتلو.[۱] ځکه خو وایي چې پیر نه الوځي خو مریدان یې الوځوي.[۲]

د ملاکنډ غزا ډېره مشهوره ده. ځکه خو په ولسي ادب کې هم د دې ډېرې یادونې موندل کیږي. لکه په دې لنډۍ کې چې وایي:

په ملاکنډ توره تیاره شوه
هارونه توره ځلوه چې رڼا شینه

سرتور فقیر د لنډاکي نه د انګریزانو پر ضد د جهاد اعلان وکړ. د ۱۸۹۷ م کال د جولای په شپږویشتمه نېټه هغه د یو څو ځوانانو سره د لنډاکي نه بنکته را روان شو. په دې کسانو کې یو د هغه د وینا مطابق د "ډهلي حکمران" هم و.[۳] خلک د هغه زړورتیا ته حیران شو او د خپلو وهمي ذهنونو [مذهبي جذبې] له کبله د هغه د روحاني طاقت نه

۱ Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۱۰۲

۲ Ahmad, Akbar S., Millennium and Charisma among Pathans: A Critical Essays in Social Anthropology, London, Routledge & Kegan Paul, ۱۹۷٦, p. ۱۰۳

۳ Imperial Gazetteer Provincial Series North-West Frontier Province, Lahore, Sang-E-Meel Publications, reprint ۲۰۰۲, p. ۲۲۱

وویرېدل او چې ځومره دی مخ په وړاندې تللو، نو خلک ورسره ملګري کېدل.۱ د لنډاکي نه د هغه د روانېدو او د خلکو د جمع کولو باره کې ملز داسې لیکي.

On that day he took the final step which brought about the rising. He claimed to be inspired to work miracles; the Heavenly Hosts were, he said, on his side; and he announced that with or without help from his listeners he would sweep our troops from Chakdara and the malakand in eight days. His excited appeals to the fanaticism which exists in every pathan were responded to in a manner little short of marvelous: his progress from Landakai to Thana and thence to Aladand, both villages in view of Chakdara post, must have been a triumphal one; the villagers flew to arms our levies hastily retired, except such as joined his standard all the headmen, with one solitary exception, were carried away by the popular enthusiasm, and by nightfall a resolute body of tribesmen were on the move to attack the Malakand, while another party turned their attention to Chakdara. The *mullah* had roused the whole valley, and his standard afterwards became the rallying point for thousands of fighting-men from Upper Swat, Buner, the Utman Khel country, and even more distant parts.[۲]

---

۱ McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p.۱۱۰

۲ Mills, Woosnam, The Pathan Revolts in North West India, Lahore, Sang-E-Meel Publications, ۱۹۷۹, p.۳۵

په درې ورځو کې هغه شل زره کسان راجمع کړل.[١] دا لښکر د ۱۰۰۰ کسانو نه په ملاکنډ کې ۱۲۰۰۰ او په چکدره کې ۸۰۰۰ نه زیاتو کسانو ته ورسېده.[٢] د اله ډنډ او د نورو کلیو خلک ورسره ملګري شول او ماښام ملاکنډ ته ورسېدل.[٣] دې لښکر د شپې په نهه بجو په ملاکنډ حمله اوکړه او کوارټر ګارډ یې ونیوو او ټوله وسله یې په خپله ولکه کې واخیسته.[٤] د لیوي یو جمعدار د شپې پاو باندې نهه بجې مېجر ډین ته دا خبر ورکړ، چې قبایل ملاکنډ ته رارسېدونکي دي. پوځیان په مشکله خپلو ټوپکو ته رسېدلي وو، چې حمله شروع شوه. په دې ورځ چې په ملاکنډ کوم جنګ شروع شوی و، هغه د اګست تر لومړۍ نېټې پورې روان و. په شپږیشتم تاریخ په چکدره هم حمله شوې وه او دغه جنګ تر دویم اګست پورې روان و.[٥] په ۲۷ جولای په لندن او شمله کې د سرکار ناستو چارواکو ته د دې حملو د نوعیت پته ولګېده او هغوی په ۳۰ جولای ۱۸۹۸ د ملاکنډ فیلډ فورس منظوري ورکړه.[٦] په ملاکنډ او په چکدره

---

[١] Spain, James W., Thw Way of the Pathans, Karachi, Oxford University Press, ١٩٩٠/١٩٦٢, p. ٦٧

[٢] Imperial Gazetteer Provincial Series North-West Frontier Province, Lahore, Sang-E-Meel Publications, reprint ٢٠٠٢, p. ٢٢١

[٣] Imperial Gazetteer Provincial Series North-West Frontier Province, Lahore, Sang-E-Meel Publications, reprint ٢٠٠٢, p. ٢٢١

[٤] خان، روشن خان، یوسفزی قوم کی سرگزشت، کراچی، روشن خان اینڈ کمپنی، ۱۹۸۶، ص: ۳۱۹

[٥] Imperial Gazetteer Provincial Series North-West Frontier Province, Lahore, Sang-E-Meel Publications, reprint ٢٠٠٢, p. ٢٢١

[٦] یوسفی، الله بخش، یوسف زی، کراچی، محمد علی ایجوکیشنل سوسایټي، ۱۹۶۰، ص: ۴۳۰

حملې په یو وخت او په یوه ورځ شوې وې.[۱] روشن خان لیکي چې د ملاکنډ په جنګ کې نوولس قبایلي وګړي مړه شوو او د انګریزي پوځ یو کرنېل، یو مېجر، یو لیفټننټ او ۵۲۱ سپاهیان مړه او ۱۰۲۳ سپاهیان زخمیان شو او دغه رنګ په چکدره کې په اوله حمله کې د انګریزي پوځ دوه افسران، شپاړس سپاهیان او شپږیشت سواره مړه شوو او په دوېمه حمله کې یو انګرېز صوبدار، یو مېجر، یو لیفټننټ او یو سل پولس سپاهیان مړه او یو سل شل زخمیان شو.[۲] د امپیریل ګزیټیر مطابق په دې جنګ کې د قبایلو د مړو شمېر د درې زرو نه کم نه و او د برطانوي پوځ دري دېرش کسان مړه او یو سل اته اتیا زخمیان وو.[۳] خو جیمز سپېن وایي چې دې کې د برطانوي پوځ او د قبایلو دواړو د مړو شمېر یو څو سوه وو.[۴] هغه دې جنګ ته great tribal rising ویلي دي، نو پته لګي چې په دې جنګ کې انګرېزانو ته د قبایلو نه زیاته مرګ ژوبله اوښتې وه. ځکه خو په یوه ټپه کې هم وایي.

د ملاکنډ ګیدړ ښاربه دي
خوراک یې څه دی د ګوراو لړمونونه

او بله ټپه داسې وایي.

---

[۱] Imperial Gazetteer Provincial Series North-West Frontier Province, Lahore, Sang-E-Meel Publications, reprint ۲۰۰۲, p. ۲۲۱

[۲] خان، روشن خان، یوسفزی قوم کی سرگزشت، کراچی، روشن خان اینڈ کمپنی، ۱۹۸۶، ص: ۳۲۰

[۳] Imperial Gazetteer Provincial Series North-West Frontier Province, Lahore, Sang-E-Meel Publications, reprint ۲۰۰۲, p. ۲۲۱

[۴] Spain, James W., Thw Way of the Pathans, Karachi, Oxford University Press, ۱۹۹۰/۱۹۶۲, p. ۶۷

د ملاکنډ ګیدړ ښاربه دي
دامبیلې ګیدړ ګیلې ورته کوینه[1]

سرنزیب خان سواتی لیکي چې په دوهم اګست انګریزانو پیش قدمي وکړه، امان دره یې قبضه کړه او چکدره کلا بنده شوه او د پښتنو یې داسې قتل عام وکړ، چې نظیر یې نه نشته. سیکانو ته هدایت وشو چې خپل بدل د بټخیلې د پښتنو نه واخلئ او هلته هم قتل عام وشو.[2] په دې جنګ کې د سرتور فقیر یو نایب سالار د هندوستان یو ملا هم مړ شو او سرتور فقیر پکې زخمي شو[3] او وایې چې د ښي لاس یوه ګوته یې هم پرې کړې شوه،[4] خو دی ډېر په نره وجنګېدلو.[5]

د ۱۸۹۷ م کال د جولائي تر ۲۵ تاریخ پورې د علاقې خلکو ته سرتور فقیر یو لېونی ښکارېده، چا به ورته ملا مستان وایه او چا سرتور فقیر، خو چې کله ده ډېر شهرت بیاموندہ، نو انګریزانو د ده په اړه د میا ګلانو سره مشوره اوکړه، نو میاګلانو د ملاکنډ پولیټیکل ایجنټ ته وویل چې ځان پرې نانګاره کړئ او موږ به پسې نو کر

---

[1] سائل، رحمت شاه، حالات چې اوروروي، ۲۰۰۶/۲۰۰۰، مخ: ۱۴۳

[2] سواتي، سرنزیب خان، تاریخ ریاست سوات، پېښور، عظیم پبلشنګ هاوس، ۱۹۸۴، مخ: ۹۹

[3] Mills, Woosnam, The Pathan Revolts in North West India, Lahore, Sang-E-Meel Publications, ۱۹۷۹, p.۵۱

[4] Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۹٦

[5] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p.۱۱۱

ولېږو او اوچت به یې کړو[1] او بیا وروستو میاګلانو د موسی خېلو خانانو په ملګرتیا د سرتور فقیر په لار کې خنډونه واچول او د ده د ویستلو د پاره یې پسې نوکران ولېږل. خو هغه د مذهبي توهماتو [جذباتو] په ذریعه د سوات په ټوله وادۍ او د دیر تر غاړې ډېر طاقت نیولی و.[2] میاګلانو تر اخري وخته د سرتور فقیر خلاف هر قسمه رازونه انګرېزانو ته رسولي دي، ځکه چې د هغوی له پولیټیکل ایجنټ سره ډېرې اړیکې وې او یو ځل یې په سېدو کې په خپله خانقاه کې مېلمه کړی هم و. میا ګل عبدالودود په ١٩٠٨م کې پولیټیکل ایجنټ ته خبر ولېږه چې فقیر د خپل لښکر سره عزیخېلو ته راورسېد او پي.ای ته یې د خپلې مرستې ډاډ ورکړ، په دې اړه د پي .ای په ډائرۍ کې داسې لیکل شوي دي.

Sartor, induced by Afghans, prepares for another raid on the ٩th instant Gulshahzada Miangul (who of late years has become very friendly and even received the Political Agent as a guest in his sanctuary at Saidu) sent word that he had heard the Fakir had reached Azzi Khel country with his *lashkars* and expressed his willingness to do anything that was required in the matter. Swat was of course instantly alive with excitement, and it seemed best

١ McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ١٩٨١/١٩٠١, p.١٠٩

٢ Pp. Enclosure. ٣, dated ٢٦ July ١٨٩٧, Quoted in Ahmad, Akbar S., Millennium and Charisma among Pathans: A Critical Essays in Social Anthropology, London, Routledge & Kegan Paul, ١٩٧٦, p.١٠٩.

to take the khans as frankly into our confidence as we had the Khans of Dir.[1]

په دې حقله میاګل جهانزېب وايي چې زما پلار د هغه لښکر خور کړ او جهاد ته يې پرېښبود خو برطانوي حکومت بیا هم زما د پلار په وفادارۍ شک کولو[2] له هغه مهاله چې سرتور فقیر خپلې خېمې په لنډاکي ښخې کړې وې، نو د میاګل لپاره ناارامي د هغه وخت نه پېدا شوې وه .د فقیر تر سرپرستي لاندې یو هلک د مغلو د دهلي د تخت وارث و. میاګل په دې وېرېده، چې هسې نه دی خپله مخه بدله کړي او سوات وغواړي .[3] نصر الله خان نصر لیکي چې میاګل عبدالودود او سرتور فقیر په شریکه د انګرېزانو خلاف د دې جهاد اعلان کړی و.[4] خو دا خبره څکه سمه نه ښکاري چې څه وجه وه، چې میاګلانو په دې جهاد کې دومره وروسته یعنې په ۲۹ جولائي ګډون وکړ.[5] په دې اړه د سوات وروستی والي میاګل جهانزېب وايي چې : « زما پلار او د ترونو زامنو هم په دې جهاد کې شرکت کړی و، خو زما پلار په کې هیڅ

[1] Political Department, P.A.'s Diary, ١٦ May ١٩٠٨, p.٦٦ , Quoted in Ahmad, Akbar S., Millennium and Charisma among Pathans: A Critical Essays in Social Anthropology, London, Routledge & Kegan Paul, ١٩٧٦, p.١١٠

[2] Barth, Fredrik, The Last Wali of Swat: An Autobiography as told to Fredrik Barth, London, ١٩٨٥: reprint, Bangkok: White Orchid Press, ١٩٩٥, p:٢٧

[3] Ahmad, Akbar S., Millennium and Charisma among Pathans: A Critical Essays in Social Anthropology, London, Routledge & Kegan Paul, ١٩٧٦, p.١١٥

[4] نصر، نصر الله‌خان، اخون صاحب سوات، پېښور، تعلیمي اداره، ۱۹۷۸/۱۹۶۴، مخ: ۷۵

[5] Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۱۰۴

دلچسپي نه لرله. په حقیقت کې هغه په دې کې شرکت هم نه کولو خو خلکو مجبور کړ، چې په دې کې شامل شه ګني د کافر یا بل څه ټاپه به پرې ولګي. »[۱] سرتور فقیر د سوات په تاریخ کې یو ستر نوم و، خو میاګل عبدالودودیې په خپل سوانح او د سوات په تاریخ کې نوم هم نه دی اخستی او کله چې میا ګل جهانزیب فریډرک بارتهـ ته د سرتور فقیر خبره کوي نو ورته وایي چې : د هغه هیڅ اولاد او یا قام نسب دلته نشته، حال دا چې د سرتور فقیر یو زوی د سوات ریاست په پوځ کې افسر و.[۲]

د اخون سوات د دنیاوي قوت یوه برخه (شکرانې وغېره) په برسوات کې سرتور فقیر قبضه کړې وه[۳] د اهمیت له نظره هم په سوات اخون پسې دوېم نمبر سرتور فقیر و.[۴] نوموړي ته به د دیر، افغانستان او د نورو علاقو نه په بوجو روپۍ راتلې او ده به په حاجتمندو او غریبانانو خرچ کولې. چې کله دی نه و، نو د ده اولاد له به هم دا شکرانې

[۱] Barth, Fredrik, The Last Wali of Swat: An Autobiography as told to Fredrik Barth, London, ۱۹۸۵: reprint, Bangkok: White Orchid Press, ۱۹۹۵, p: ۲۳

[۲] Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۱۰۴

[۳] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p.۲۶

[۴] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p.۲۷

راتلې.[1] دغه وجه وه چې اول په سیاسي اقتدار د قبضې له وېرې میاګل عبدالودود د ده خلاف کاوه او بیا د روحاني اثراتو د قبضې له وېرې میا ګل جهانزېب هم د تاریخ نه د ده د ویستلو کوشش کړی دی .

د سوات د راڼېزو خلکو به دا خبره کوله چې که فقیر مخه ایستلی وی، نو د هغوی له پاره بې له دې چې په هغه پسې لاړ شي بله لار نه وه پاتې شوې.[2] ځکه هغوی هم د ده خلاف لګیا وو. د تهانې خانخېلو د جولائي په پینځه ویشتمه نېټه مېجر ډین ته وویل چې د ده کارونو ته باید دومره اهمیت ورنه کړل شي.[3]

د ۱۸۹۸م کال په می کې د چترال ریلیف په موقعه سرتور فقیر په دیر کې په انګرېزي پوځ د حملې هڅه وکړه، خو د هغه قاصدان د قبیلو وګړو بیرته ستانه کړل.[4]

---

[1] Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۱۰۰

[2] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p۱۲۱

[3] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p.۱۱۰

[4] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p.۱۱۹

په جولائي ۱۸۹۸ کې هغه یو ځل بیا د جهاد د پاره متې راونغښتې، خو د سوات خلکو ورته په خپله علاقه د تېرېدو اجازه ورنه کړه .[1] د دې نه وروسته په لومړي ځل انګرېزان د م کال ۱۸۹۷ د اګست په ۱۹ مینګورې ته راغلل . په لنډاکي، کوټه او نوي کلي کې د انګرېزانو او قبایلو تر منځ سختې نښتې وشوې او د انګرېزانو په کې ډېر پوځي افسران او سپاهیان مړه او ژوبل شول . په دې جنګ کې د انګرېزانو په مړو افسرانو کې ایچ . ایل . ایس میکلین او لیفټیننټ آر . ټي . ګریوز هم شامل وو. د دې جنګ د سخت والي او اهمیت اندازه د دې نه لګي چې برطانوي حکومت په دې جنګ کې شریک لیفټیننټ کرنل ایډمز او وسکاونټ فنکاسل ته تر ټولو لوړ پوځي اعزاز "وکټوریه کراس" ورکړ. او ورسره شریکو نورو پینځو کسانو ته یې "آرډر اف مېرټ" ورکړ. دا کال د ملکه وکټوریه د بادشاهۍ د تقریباً تو د ګولډن جوبلي کال و او دا د هندوستان په ټول تاریخ کې د انګرېزانو د پاره ډېر سخت کال و.[2]

د ۱۸۹۸م کال په نومبر کې د سوات د سیند د ښي طرف خلکو د دیر د نواب خلاف د سرتور فقیر نه مرسته وغوښتله . په پنځه ویشتم تاریخ هغه په سیند پورېوتلو او د ګڼ شمېر خلکو سره یې په نواب حمله وکړه او په دېرشم نومبر سرتور فقیر د نیکپي خېلو په سیمه کې د پنجګورې د سیند د لوړې سر له ورغی او که چېرې نور مخ پر وړاندې تللی وای، نو لوی سړک ته به رسېدلی و او د دې فوري اثر به دا وه

---

[1] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p.۱۱۹

[2] Sultan-i-Rome, Swat State (۱۹۱۵-۱۹٦۹), Karachi, Oxford University Press, ۲۰۰۹, p. ۲۸

چې د دیر قبیلې به یې د ځان سره ملګرې کړې وای او په انګرېزانو به یې د ۱۸۹۷ م کال په شان یرغل کړی و، خو په نامعلومه وجه یې مخ پر وړاندې تګ وځنډولو.

د دیر د حملې نه دده دا تمه وه، چې د دیر د قبایلو په مرسته به په ملاکنډ حملې وکړي، خو د رباط د عبدالله خان په مشرۍ دولس سوه سړي په غرونو را واوختل او پر سرتور فقیر یې یرغل وکړه او هغه د سوات سیند خواته مخ په شا لاړ. د دې قبیلو غیر متوقع مخالفت د هغه پلان د خاورو سره خاورې کړ او د کافرانو سره د عمومي جهاد په ځای مسلمان د مسلمان سره ونښتلو. نه یوازې دا چې د دیر اړوندو قبیلو په فقیر لاس اوچت کړ، بلکې د دې سره د خلکو هغه یقین هم ختم شو چې ګوندې هیڅوک هم د فقیر مخالفت نه شي کولی.[۱] په دې وخت کې په سوات کې هم د انګرېزانو یو پوځي ټولګی ګرځېده او سرتور فقیر د سیبوجني سیمې ته د راتللو هڅه وکړه، خو د پېنده خېلو د مخالفت سره مخامخ شو. په دې وجه هغه غریزي سیمې ته ستون شو او لښکر یې خور شو.[۲] د فقیر په مخالفت کې د عمل کولو په وجه د دیر نواب د ډېرو خلکو په نظر کې خپل مقام بایللی و. عامو خلکو ویل چې نواب باید غیر جانبداره پاتې شوی وای. په اصل کې د دیر نواب چې څه کړي وو دا د

---

[۱] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p.۱۱۲

[۲] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p.۱۲۱

هغه زور نتیجه وه چې پر نوموړي انګریزانو غور ځولی و او انګریزان وایي چې دا زموږ حق و، چې د هغه نه مو د دغسې خدمت طمع لرلې وای .[۱] کله چې انګریزان پوهه شو، چې د فقیر نه خلاصېدل ګران دي، نو هغوی د تقسیمولو او وهلو پالیسي شروع کړه .په دې لړ کې انګریزانو د عزیخېلو او جنکي خېلو سره یو تړون لاسلیک کړ، چې هغوی به د حکومت خدمت کوي او د سرکار په دښمنۍ کې به هیڅ ډول قدم نه پورته کوي .د سیند په چپه غاړه چې څومره قبیلې وې، دې ټولو په دغه شان معاهدو لاسلیک کړی و، خو صرف دا دوه خېله داسې وو، چې تر دې وخته یې تسلیمۍ ته غاړه نه وه ایښې. د دیر د نواب او د سیند د ښۍ غاړې د خلکو د شخړو ختمولو لپاره هم یوه معاهده وشوه .د دې معاهدې تر مخه د نواب لپاره په دې قبیلو د عشر په شکل پیسې وټاکل شوې، چې هر کس به یې د پینځو کالو لپاره ورکوي .متعلقه قبیلو یعنې شموزي، سیبوجني، نیکپي خېل او شامیزو د نواب دا پیسې ومنلې او دا وعده یې وکړه، چې سرتور فقیر یا د نواب او د حکومت بل دښمن به هیڅکله هم خپلې علاقې ته نه پریږدي .[۲] فقیر څنګه او ولې د انګریزانو خلاف پاڅېدلی و.دې باره کې ملز داسې لیکي.

---

[۱] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p. ۱۲۲

[۲] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, pp. ۱۲۱, ۱۲۲

To the difficulties of fully explaining the origin of the unprecedented outbreak. What was the lever which moved the “mad fakir.” Was it fanaticism pure and simple? If not who was responsible for the laying of the train and for the preliminaries which ended in the convulsion around the British outposts? These questions still remained unanswered.[۱]

د سرتور فقیر مشن او مقصد دا و، چې د هندوستان د سرحدي علاقو نه انګرېز پوځ وباسي . هغه څو ځله کوشش وکړ، خو ناکام شو . د هغه د ناکامۍ ځینې دلایل دا دي : د هغه سره د ښې حکمت عملۍ او منصوبه بندۍ نشتوالی، د هغه بوډاوالی، برطانوي حکومت د هغه خلاف د مختلفو قبیلو د خلکو، خانانو او د دیر د نواب سره معاهدې، په اسلحه او په مواصلاتي نظام کې د هغوی برتري، د هغوي تربیت یافته او منظم پوځ او د میاګل عبدالودود په حواله د برطانوي پوځ په رویه او پالیسیانو کې بدلون وغیره .[۲] دا ټول هغه عوامل وو چې د سرتور فقیر مبارزه یې د ناکامۍ سره مخ کړه.

کله چې د سوات او د دیر خلکو د اقتدار د ترلاسه کولو له پاره د انګرېزانو سره غوړونه وجنګول او د سرتور فقیر ملګرتیا خو څۀ کوي چې د هغه لارې یې هم بندې کړې او د هغه خلاف یې ټول رازونه د انګرېزانو سره

---

۱ Mills, Woosnam, The Pathan Revolts in North West India, Lahore, Sang-E-Meel Publications, ۱۹۷۹, p.۳۵

۲ Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۱۰۰

شریکول شروع کړل، نو د هغه ملګري خواره واره شول او هغه ته دا احساس وشو چې د فیرنګیانو سره د روغې نه پرته بل هیڅ حل نشته، نو ځکه یې د خپل یو مخور ملګري په واسطه د ملاکنډ د پولیټیکل ایجنټ سره رابطه وکړه .د ملاکنډ پولیټیکل ایجنټ د هغه د دې عمل هر کلی وکړ او بیا یې پولیټیکل ایجنټ ته د کوهستان نه یو خط ولیږلو او په دغه خط کې یې ولیکل چې زه نقش بند خان سوات ته د درتلو نه منع کړم او زه د هغه په خوله منع شوی یم د میا ګل په خوله نه یم .د پې .ای په ډایرۍ کې یې دا خبره داسې لیکلې ده:

The Sartor Fakir next departed Northwards, sending, as a Parthian shot at Gulshahzada, a sealed letter to me stating that he had been forbidden to go on by Nakashband Khan, and that it was for his sake and not the Miangul's that he had given up his plans.[1]

ده دا وعده هم وکړه چې د فیرنګي حکومت خلاف به د دښمنۍ هیڅ ډول فعالیتونه نه کوي .د پولیټیکل ایجنټ سره د پیغامونو او د تحفو تحایفو د تبادلې خبره په ټوله علاقه کې خوره شوه او ښکاره ده، چې پایله یې د فقیر د اثر د کمېدو په شکل کې ښکاره شوه. په فقیر او د هغه په ملګرو د حکومت نه په پیسو اخستلو تور هم اولګېد، خو هغه د دې تور نه په کلکه انکاري و، خو چا کله منله .[2] د سرتور فقیر د

---

[1] Political Department, P.A.'s Diary, ۲۴ May ۱۹۰۸, p.۶۶ , Quoted in Ahmad, Akbar S., Millennium and Charisma among Pathans: A Critical Essays in Social Anthropology, London, Routledge & Kegan Paul, ۱۹۷۶, p.۱۱۰

[2] McMohan, Captain A.H., and Lieutenant A.D.G. Ramsay Edited with an introduction by R.O. Christensen, Reports on the Tribes of Dir, Swat and

لمسي همایون خان د وینا مطابق برطانوي حکومت هغه له د سوات نوابي (بادشاهي) ورکوله، خو هغه دا خبره منظوره نه کړه[۱] . بیا دی څه وخت په کوهستان او میادم کې پاتې شو او وروسته  په فتح پور کې استوګن شو او د عبدالرحیم د لور سره یې واده وکړ،  د دې واده نه وړاندې ده دوه ودونه نور هم کړي وو.[۲]

سرتور فقیر په ۱۳۳٦ هـ (۱۹۱۷ء) کال کې په فتح پور کې وفات شو او هلته خاورو ته وسپارل شو .[۳] د سرتور فقیر زوي عمراخان[۴] د هغه قبر په ۱۲ اګست ۱۹۵۷ باندې کانکرېټي جوړ کړ.[۵] د زیږیدو سمه نېټه یې نه ده معلومه، خو داسې ویلی کیږي چې د مرګ په وخت یې عمر د اتیا او د سلو کالو تر

Bajour together with the Utman Khel and Sam Ranizai, Peshawar, Saeed Book Bank, ۱۹۸۱/۱۹۰۱, p. ۱۲۷, ۱۲۸

[۱] Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۹۸

[۲] Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۹۹

[۳] خان، روشن خان، یوسفزی قوم کی سرگزشت، کراچی، روشن خان اینڈ کمپنی، ۱۹۸٦، ص: ۳۱۹

[۴] خان، روشن خان، یوسفزی قوم کی سرگزشت، کراچی، روشن خان اینڈ کمپنی، ۱۹۸٦، ص: ۳۱۹

[۵] Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۱۰۵

مینځ و .۱ د یادګار په توګه چې د سرتور فقیر کوم شیان پاتې وو، په هغو کې د هغه توشک، بړستن، پټکی، داوبو ښښلو کنډولی او توري او نور په فتح پور کې د هغه د لمسو سره دي .

۱ Sultan-i-Rome, The Sartor Faqir: Life and Struggle against British Imperialism, Karachi, Quarterly Journal of Pakistan Historical Society, Vol: XLII, January ۱۹۹۴, p.۱۰۵